پوهنتون سلام

پوهنځی شرعیات وقانون

پروگرام ماستری فقه وقانون



دولت جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت تحصیلات عالی

ریاست پوهنتونهای خصوصی


# د اتباعو سیاسي حقوق د فقهې او د افغانستان د قانون له نظره

رساله ماستری


محصل: ضیاء الرحمن ( فاروق )

استاد رهنما : دوکتور عبدالباقي (آمین)



سال : ۱۳۹۶ هـ ش ـ ۱۴۳۹ هـ ق

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
ریاست پوهنتونهای خصوصی

پوهنتون سلام
پوهنځی شرعیات وقانون
پروگرام ماستری فقه وقانون

# د اتباعو سیاسي حقوق د فقهې او د افغانستان د قانون له نظره

(دماستری رساله)

ځیرونکی : ضیاء الرحمن (فاروق)
لارښود استاد : دوکتور عبد الباقي (آمین )

کال : ۱۳۹۶ هـ ش ـ ۱۴۳۹ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنت

### د ماستری بورډ

# تـــصـــدیـــق نـــــامـــــه

ښاغلی ضیاء الرحمن د نظر ګل زوی د ID: Sh-msf-95-144 نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د څلورمې دورې محصل د ماستری مرحلې رساله چې عنوان يې: د اتباعو سیاسی حقوق د فقه او د افغانستان د قانون له نظره دی،د سه‌شنبې ورځ په ۲۸/ ۳/ ۱۳۹۸هـ ل نېټه يې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۹۲ (نمرو په عدد) دوه‌نوي (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور عبد الله حقیار | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | استاذ وزیر محمد سعیدي | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور عبد الباقي امین | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر.................................. علمی مرستیال ..................................

# ډالۍ

**خپله دغه هڅه !**

خپل ګران مور او پلار ته چې زه يې په اسلامي او ملي روحيه روزلی يم، ټولو هغو شخصيتونو ته چې زما په روزنه کې يې په شکل د اشکالو برخه اخيستي ده، او ټولو علمي کدرونو او ځوانانو ته چې د افغانستان د معنوي او مادي آبادی لپاره کار کوي په ډېره مينه او اخلاص ډالۍ کوم .

ضياءالرحمن (فاروق)

# مننلیک

د الله تعالی د خاصې پیروزیني د شکریه او مننې اداء کولو څخه وروسته لازمه ګنم چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د لوړو زده کړو د وزارت ، سلام پوهنتون د ماسټری بورډ د ادارې او محترمو استادانو څخه مننه وکړم چې زمونږ په روزنه او علمي بډاینه کې نه ستړی کیدونکی هلې ځلې کړې دي، په همدې شکل د محترم استاد دکتور عبدالباقي (آمین) څخه خاصه مننه کوم چې زما رهنما استاد هم دی، په ډیره مینه او خلوص سره یې د موادو او مأخذونو په برابرولو کې همکاري کړی ده، لازمې مشورې یې راکړې دي، الله تعالی دی ورته په دنیا او آخرت کې اجر ورکړې، په عمر او علم یې برکت شه.

په درنښت .

# د څېړنې خلاصه

زما تیزس چې ( د اتباعو سیاسي حقوق د فقهې او افغانستان د قانون له نظره ) نومیږي، په خلاصه، سریزه، لسو فصلونو، او په آخر کې په یوې پایلې او څو وړاندیزونو او د اعلامو ، آیاتونو، احادیثو او د مراجعو په لستونو باندې مشتمل دی.

په اوسنې عصر کې د افرادو سیاسي حقوق په نړیواله سطحه منل شوي حقوق دي، چې په معاصرو حقوقي ادبیاتو کې ورته د سیاسي حقوقو کلمه استعمال شوی ده، سیاسي حقوق هغه حقوق دی چې دهغې له لارې فرد د دولت او حکومتدارئ په کارونو کې برخه اخلي ، او یاد حقوق د نړی د اکثره هیوادونو په اساسي قوانینو کې ذکر شوي دي، زمونږ د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون هم یادو حقوقو ته ځای ورکړی دی، لکه د تابعیت حق، د عقیدې ، فکر او د بیان د آزادی حق، په دولتي ادارو کې د کار کولو حق ، د خپل نماینده او یا ولسمشر د ټاکلو حق، د سیاسي ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو د جوړولو حق، د سوله ییزو غونډو، مظاهرو او اعتصاباتو حق، او د پناه اخیستنې حق.

ولې د اسلام مبارک دین له نظره یاد حقوق د حق په حیث نه ګڼل کیږي، بلکې اسلام یادو حقوقو ته په ډیر اهمیت قایل دی ، او اکثره ذکر شوي حقوق یې د افرادو سیاسي مکلفیت ګڼلی دی، ځکه د حقوقو او مکلفیت ترمنځ فرق دا دی چې که یو څوک د یو حق څخه برخمن وي ، نو اختیار د هغه سره دی چې د هغې حق نه استفاده کوي او که نه، ولی د مکلفیت په صورت کې شخص مکلف دی چې خپل مسؤلیت اداء کړي، او که اداء یې نه کړی نو یاد شخص بیا مسؤل دی، مثلاً دبیان د ازادئ حق - چې اوس وخت کې د اتباعو د سیاسي حقوقو څخه ګڼل کیږي- یعنې د یو هیواد اتباع د دې حق لري چې خپل فکر، انتقاد او نظر د رسنیو له لارې ښکاره کړي، دا د یو فرد حق دی چې د ټولنې او نظام د خیر او بهتر والی لپاره د حکومت په پالیسیو باندې انتقاد وکړی او خپل نظر په دې هکله ښکاره کړي ، ولی اسلام یاد حق ته د مسؤلیت په سترګه ګوری، او خپل اتباع یې دې ته رابللی دي چې د ظالم بادشاه په وړاندې د حق خبره کول افضل جهاد دی، البته په خپل ټولنیز او سیاسي ادابو سره چې ټولنه لا بی ثباتئ طرف ته لاړه نه شي، ځکه که یو څوک د حاکمې طبقې ظلم او ناروا ګوري او دهغې په وړاندې چوپ پاتې کیږي، نو یقنیاً چې ټولنه او نظام به د تباهی طرف ته ځي، نو په داسې حالاتو کې ټول افراد مکلف دي چې خپل نظام او ټولنه د تباهې څخه وساتي، او که دا کار ونکړي نو کله چې ټولنه تباه کیږي نو یاد شخص به هم د دوی سره یوځای تباه کیږي، نواسلام په همدې خاطر راغلی دی چې انسانان د دنیا او آخرت د نیکمرغیو څخه برخمن شي، همدا زما د تیزس خلاصه ده.

# لړلیک

**موضوع** **مخ**


پیلیزه / مقدمه........ 1
د څیړنې لاملونه او ضرورت:........ 1
دموضوع اهمیت :........ 2
د څیړنې اصلي پوښتنې :........ 2
په دې موضوع کې مخکېنۍ لیکنې :........ 2
د څیړنې کړنلاره :........ 3
د څیړنې اهداف :........ 4
لمړی فصل ........ 6
د اصطلاحاتو پیژندنه ........ 6
لمړی مبحث- د تابعیت پیژندنه:........ 7
لمړی مطلب: د تابعیت لغوی معنی:........ 7
دوهم مطلب: د تابعیت اصطلاحی تعریف:........ 7
دوهم مبحث- د سیاست پیژندنه:........ 9
لمړی مطلب: د سیاست لغوي معنی:........ 9
دوهم مطلب- د سیاست اصطلاحي تعریف:........ 17
دریم مبحث- د حقوقو پیژندنه:........ 21
لمړی مطلب- د حقوقو لغوی معنی:........ 21
دوهم مطلب- د حقوقو اصطلاحي تعریف:........ 22
څلورم مبحث- د سیاسي حقوقو پیژندنه او دهغې ډولونه:........ 28
لمړی مطلب- د سیاسي حقوقو تعریف:........ 28
دوهم مطلب- د سیاسي حقوقو ډولونه:........ 30
دریم مطلب- سیاسي حقوق ، حق دی که مکلفیت:........ 32
پنځم مبحث- د فقهي پیژندنه:........ 34
لمړی مطلب- د فقهي لغوي معنی:........ 34
دوهم مطلب- د فقهي اصطلاحي تعریف:........ 34

شپږم مبحث- د قانون پیژندنه: 35
لمړی مطلب- د قانون لغوي معنی: 35
دوهم مطلب- د قانون اصطلاحي تعریف: 35
دوهم فصل 37
د تابعیت حق 37
لمړی مبحث- د تابعیت د ځانګړتیاؤ، اصولو او د تابعیت د لاسته راوړلو د لارو او طریقو پیژندل: 39
لمړی مطلب- د تابعیت لاسته راوړلو اصول: 39
دوهم مطلب- د تابعیت ځانګړتیاوي: 40
دریم مطلب- د تابعیت حقوقي آثار او اغیزې: 41
پنځم مطلب- د تابعیت لاسته راوړلو لارې او طریقې : 43
شپږم مطلب- د تابعیت د لاسه ورکول: 46
دوهم مبحث - د تابعیت حق د افغانستان د قوانینو له نظره: 47
لمړی مطلب- د تابعیت حق د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې: 47
دوهم مطلب- د تابعیت حق د افغانستان د تابعیت په قانون کې: 48
دریم مبحث- د تابعیت حق د اسلامي شریعت له نظره: 49
دریم فصل 52
د عقیدې ، فکر، او د بیان د ازادی حق 52
لمړی مبحث- د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی د حق پیژندل: 52
لمړی مطلب- د عقیدې او فکر د ازادی پیژندل: 52
دوهم مطلب- د بیان د ازادی پیژندل: 52
دوهم مبحث- د افغانستان د قوانینو له نظره د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی حق: 53
لمړی مطلب- د عقیدې او فکر ازادی. 53
دوهم مطلب- د بیان ازادي: 54
دریم مطلب- ایا د نورو مذاهبو پیروان خپل دین ته دعوت او یا د خپل دین تعلیم نورو خلکو ته ورکولی شي؟ 57
دریم مبحث- د اسلامي شریعت له نظره د عقیدې فکر او د بیان ازادی. 58
لمړیم مطلب- د اسلامی شریعت له نظره د عقیدی او فکر ازادي. 58
دوهم مطلب- د اسلامی شریعت له نظره د بیان ازادي. 70
څلورم فصل 79
په دولتي ادارو کې د کار کولو حق 79

لمړی مبحث- په دولتي ادارو کې د کارکولود حق پیژندنه: ........................................ 79
دوهم مبحث – په دولتي ادارو کې د کارکولو حق د افغانستان د قوانینو له نظره: .................... 80
لمړی مطلب – د استخدام پورې اړوند اصول: .......................................................................... 81
دوهم مطلب- استخدام پوری اړوند شرایط: .............................................................................. 83
دریم مبحث- په دولتي ادراو کې د کارکولو حق د اسلامي شریعت له نظره: .......................... 93
لمړی مطلب- د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې کار کول حق دی او که مسؤلیت: ...................................... 93
دوهم مطلب- د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې خپله د کار غوښتنه روا ده او که ناروا : ............................ 94
دریم مطلب- د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې د کارکولو شرایط: ............................................... 97
پنځم فصل ................................................................................................................ 100
د نوماندي یا کاندیداتوری حق ..................................................................................... 100
لمړی مبحث- د نوماندی د حق پیژندنه: ........................................................................ 100
دوهم مبحث- د نوماندی حق د افغانستان د قوانینو له نظره: .......................................... 101
لمړی مطلب - د جمهوري ریاست د نوماند شرایط: ............................................................ 101
دوهم مطلب - د ملي شوری د نوماند شرایط او اوصاف: ..................................................... 102
دریم مطلب - د ولایتي شوری او د ولسوالی د شوراد غړیتوب د نوماند شرایط: ....................... 103
څلورم مطلب - د نوماند کیدو په اړه محدودیتونه: ............................................................. 104
دریم مبحث- د نوماندی حق د اسلامي شریعت له نظره: ..................................................... 106
لمړی مطلب- انتخابات د اسلامي شریعت له نظره: ............................................................ 106
دوهم مطلب- د نوماندیدوشرعي حیثیت: ........................................................................ 110
دریم مطلب- د ښځو د نوماندیدو شرعي حیثیت: ............................................................... 113
څلورم مطلب- د غیر مسلمو د نوماند کیدو موضوع: ............................................................ 121
شپږم فصل ............................................................................................................... 124
د انتخاب یا ټاکلو حق ................................................................................................ 124
لمړی مبحث- د انتخاب یا ټاکلود حق پیژندنه: ................................................................ 124
دوهم مبحث- د انتخاب یا ټاکلو حق د افغانستان د قوانینو له نظره: .................................. 124
دریم مبحث- د انتخابولو یا ټاکلوحق د اسلامي شریعت له نظره: ......................................... 126
لمړی مطلب- د ټاکل شوي شورا (اهل الحل و العقد) په اساس: .............................................. 126
دوهم مطلب- د ولي عهدی په طریقه: ............................................................................. 126
دریم مطلب - د تغلب یا په زور حکومت نیول: .................................................................. 127

اوم فصل ........................................................................................................ 128
د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق ......................................................................... 128
لمړی مبحث- د سیاسي ګوندونو د جوړولو د حق پیژندنه:............................................ 129
لمړی مطلب- د سیاسي ګوندونو پیژندنه:........................................................ 129
دوهم مطلب- د سیاسي ګوندونو ګټې:............................................................. 130
دریم مطلب- د سیاسي ګوندونوزیانونه. ......................................................... 132
دوهم مبحث- د سیاسي ګوندونو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:............................ 134
لمړی مطلب- د سیاسي ګوندونو تأسیس:........................................................ 134
دوهم مطلب- دسیاسي ګوندونو تمویل: .......................................................... 136
دریم مطلب- د سیاسي ګوندونو انحلال:........................................................ 136
دریم مبحث- د سیاسي ګوندونو حق د اسلامي شریعت له نظره:................................. 138
اتم فصل ........................................................................................................ 146
د ټولنیزو سازمانونو د جوړولو حق...................................................................... 146
لمړی مبحث- د ټولنیزو سازمانونو پیژندنه: ......................................................... 146
دوهم مبحث- د ټولنیزو سازمانونو حق د افغانستان د قوانینو له نظره: ...................... 147
دریم مبحث- د ټولنیزو سازمانونو حق د اسلامي شریعت له نظره: ............................ 150
نهم فصل ........................................................................................................ 151
د سوله ییزو غونډو ، اعتصابونو ، اومظاهراتو حق................................................... 151
لمړی مبحث- د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو د حق پیژندنه:..................... 151
لمړی مطلب - د سوله ییزو غونډو پیژندنه:...................................................... 151
دوهم مطلب - د سوله ییزو اعتصابونو پیژندنه:................................................. 151
دریم مطلب - د سوله ییزو مظاهراتو پیژندنه:.................................................... 152
دوهم مبحث- د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:... 153
لمړی مطلب- د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو په اړه د سازمانونو (جمعیتونو) او اشخاصو مکلفیتونه:......... 154
دوهم مطلب- په کومو وختونو او ځایونو کې ټولنې ، اعتصابات او تظاهرات نشي جوړیدای. ............ 154
دریم مطلب- پولیس د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو د خورولو په منظور کوم اقدامات کولی شي. ........ 155
څلورم مطلب- پولیس په کومو حالاتو کې د ټولنو ، اعتصابونو او مظاهرو پای یا ختم اعلانولی شي:......... 156
دریم مبحث- د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو حق د اسلامي شریعت له نظره: ............... 158

لسم فصل ........................................................................................................ 162
د پناه اخستني حق........................................................................................................ 162
لمړی مبحث- د پناه اخیستني د حق پیژندنه: ........................................................................ 162
دوهم مبحث- د پناه اخستني حق د افغانستان د قوانینو له نظره. ........................................... 164
دریم مبحث- د پناه اخیستني حق د اسلامي شریعت له نظره: ................................................ 166
لمړی مطلب- د مسلمان پناه اخیستل: ........................................................................ 167
دوهم مطلب:په اسلامي دولت کي د غیر مسلمه پناه اخیستل: ............................................. 168
وړاندیزونه: ........................................................................................................ 173
د اعلامو لړلیک........................................................................................................ 174
دآیاتونو لړلیک ........................................................................................................ 175
داحادیثولړلیک ........................................................................................................ 179
دمنابعو لړ لیک ........................................................................................................ 180
Research Summary: ........................................................................................................ 185

# پیلیزه / مقدمه

**إنَّ الْحَمْدَ لله نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَسْتَهْدِيْه، وَنَعُوذُ بِالله مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسْنِا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنا مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَهُوَ الْمُهْتَدْ وَمَنْ يُضلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ وَلِيًا مُرْشِدً ا، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، اما بعد فاعوذبالله من الشيطان الرجيم ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ: اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰى اَهْلِهَا وَ اِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًۢا بَصِيْرًا.**

وبعد:

لکه څرنګه چې پوهیږو ، الله تعالی انسان اشرف المخلوقات پیدا کړی دی، او په ټولنیز او اجتماعي ډول په ټولنه کې ژوند کوي، چې د دغه ټولنیز ژوند په بهتر شکل مخته بیولو لپاره یې په انسانانو باندې ځیني حقوق او مکلفیتونه لازم کړی دي، چې د بشري حقوقو په نامه یادیږي، تر څو د هغو په رعایت سره انساني ټولنې هوسا او آرام ژوند وکړي او پرمختګ طرف ته سوق شي، چې له دې بشري حقوقو له جملې څخه یو هم د انسان یا بشر سیاسي حقوق دي، چې یاد بشري حقوق د هر دولت د اساسي قانون په اساس خپلو اتباعو ته په ګوته شوي دي، نو مونږ دلته لومړی د اتباعو سیاسي حقوق د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو په رڼا کې څیړو او بیا یې د اسلامي فقهې سره مقایسه کوو چې په کومو برخو کې د افغانستان قوانین او اسلام سره ورته دریځ لري او په کومو برخو کې د افغانستان قوانین او اسلامي شریعت سره فرق لري، دې دواړو موضوعاتو ته په دې څیړنه کې ځای ورکړل شوی دی.

## د څیړنې لاملونه او ضرورت:

ما د لاندې ضرورتونو په اساس دا موضوع انتخا ب کړی ده ، ترڅو زما لیکنه د لاندې مشکلاتو په حل کې تر یوه حده ګټوره تمامه شي.

1 - زمونږ د ټولنې افراد په دې پوه شي چې په سیاسي برخه کې اسلام خپلو پیروانو ته تر ډیره حده پورې ازادی ورکړی ده، او په ډیری مسایلو کې ورته اصل د ټولنې مصلحت ایښودل شوی دی، په همدې اساس مسلمانان کولای شی چې د قرآن او سنتو په رڼا کې د خپلې ټولنې مصلحت په نظر کې ونیسي او په ځینو مسایلو کی پریکړی وکړی، اوپه دې ترتیب په سیاسي مسایلو کې داختلاف مخه ونیول شي.

2 - - په سیاسي برخه کې د اختلافاتو د کموالی په خاطر باید د ټولنی افراد یو بل ومني او یو په بل باندې بی ځایه د کفر او ګمراهي ټاپې ونه لګوي

3 - دا چې سیاسي فهم د ټولنې په ثبات او پرمختګ کې اهم رول لري ، نو ما هم دا موضوع انتخاب کړه تر څو زمونږ د ټولنې د افرادو سیاسي فهم کې زیاتوالی راشي او ټولنه مو با ثباته او پرمختللی شي.

## دموضوع اهميت :

د دې موضوع اهميت خو په دې کې دی چې سياست د انسان د ژوند اهمه برخه ده، اسلامي نړی چې نن د دې ناخوالو سره مخ ده يو سبب يې دا دی چې د سياست په برخه کې مسلمانانو غفلت کړی دی، او د ټولنې صالح او نيک وګړو ځان د سياسي مسايلو څخه ګوښه کړی دی او ميدان يې د ټولنې فاسدو خلکو ته پريښی دی، همدا سبب دی چې زمونږد اسلامي هيوادونو مشران پر ځای د دې چې خپل دين ، هيواد او ملت ته خدمت وکړی د خپلو شخصي اغراضو په خاطر د غرب د ګټو لپاره کار کوي، نو که مونږ غواړو چې په دې ميدان کې بيا فعال شو، نو ضرورت دا دې چې د ټولنې د عامو خلکو سياسي فهم باندی کار وشي او هغوي دوی ته اماده شي چې سياست د دين يوه برخه ده او تری اعراض کول ، ټولنه د ډيرو بدبختيو سره مخ کولای شي، نو که غواړو چې هم مو دنيا ښه اوښيرازه وي او هم مو آخرت کې کاميابی ترلاسه کړی وي نو پکار ده چې په سياسي برخه کې فعال و اوسو او دا ميدان د ټولنی بدو او فاسدو خلکو ته پرينږدو، نو په همدې وجه مې د اتباعو د سياسي حقوقو موضوع انتخاب کړی ده چې زمونږ هيوادوال د دې موضوع په اهميت باندی پوه شي.

## د څيړنې اصلي پوښتنې :

په دې څيړنه کې لاندې پوښتنو ته ځواب ويل شوی دی.

۱-- د اتباعو سياسی حقوق کوم دي؟

۲-- ايا په اسلام کې سياسي حقوق شتون لري او که نه؟

۳- ايا اسلام سياسي حقوقو ته د حقوقو په حيث قايل دی او که ياد حقوق د افرادو د مکلفيتونو په حيث پيژني.

## په دې موضوع کې مخکښنی ليکنې :

داسلامي سياست او سياسي حقوقو په هکله د اسلامي نړی علماؤ څه نا څه ليکني کړی دی چې هغه د اوس وخت د ټولو پوښتنو ځواب ويونکی نه دی ، او په دې هکله لا ډير کار ته ضرورت ليدل کيږي، تر اوسه چې کومي ليکني په دې برخه کې شوی دي، عمده يې عبارت دي له: فقه سياسی (دکتور قرضاوي ليکنه)، دين او سياست د دکتور قرضاوي بله ليکنه، الانتخابات و احکامها فی الفقه الاسلامی د فهد بن صالح العجلان ليکنه، نظام الدولة فی الاسلام و علاقتها بالدول الاخری د عبدالسلام جعفر ليکنه، التعدديه السياسية فی الدولة الاسلامية د صلاح الصاوی ليکنه، فرد او دولت د عبدالکريم زيدان ليکنه، الانتخابات و الديموقراطيه د سليمان الغويل ليکنه، رياسة الدولة فی الفقه الاسلامی د عثمان محمد رأفت

ليکنه، حکم انشاء الاحزاب السياسية فى الدولة الاسلامية د عبدالحى يوسف ليکنه، خلافت او ملوکيت د علامه مودودی ليکنه، اسلامی رياست د علامه مودودي بله ليکنه، اسلامي سياست د مولانا ګوهر رحمن ليکنه، د ښځو سياسي حقوق د دوکتور عبدالباقی آمين ليکنه، د اسلامی حکومت بنسټونه د زاهدی احمدزی ليکنه، اسلامی سياست د مولوی شريف رحماني ليکنه او داسی نوری ليکنی شوی دي.

که پورته کتابونه ولوستلی شي نو اکثرو يې اسلامی سياست په عمومي شکل وړاندی کړی لکه سياست څه ته وايي، ايا سياست د اسلام يوه برخه ده او که نه؟ ، د اسلامی سياست اساسات کوم دی، اسلامي سياست کوم ستر اهداف تعقيبوي، اوځينو محترمو ليکوالانو بياصرف يو موضوع د بحث لاندې نيولی ده لکه انتخابات د اسلام له نظره، د ښځو سياسي حقوق، په اسلامی حکومت کې د سياسي احزابو رامنځته کيدل، او داسی نور ولی ما په دې موضوع کې هڅه کړی ده چې د افرادو يا اتباعو ټول سياسي حقوق د اسلام او د افغانستان د قوانينو په رڼا کې خپلو لوستونکو ته وړاندی کړم.

## د څېړنې کړنلاره :

د دې موضوع د بحث او څيړنی لپاره مې د لاندې روش او کړنلارې څخه استفاده کړی ده:

لمړی: زما ليکنه کتابخانې بڼه لري، چې د موضوعاتو تحليل او استنباط پکې شوی دی.

دوهم : موضوع په فصلونو، مبحثونو، مطالبو او اجزاو باندی ويشل شوی ده.

دريم : د معلوماتو په راغونډولو کې مې د هر څه نه مخکې د قرآن، سنتو، د اسلامي نړی د علماؤ د ليکنو څخه او د افغانستان د نافذه قوانينو څخه استفاده کړی ده.

څلورم :د معلوماتو د راجمع کولو تر څنګ کوم ځای کې چې مناقشي ته ضرورت ليدل کيده ، هلته موضوع مناقشه شوی هم ده .

پنځم : د موضوع په مناقشه او تحليل کې مې خپله نهايي هڅه کړی ده چې د عدالت او انصاف څخه کار واخلم، او له هر راز تعصب او پلويتوب څخه مې ځان ساتلی دی، د اختلاف په صورت کې مې غوره قول سره د دلايلو ذکر کړی دی.

شپږم : د موضوع په څيرنه کې منابع او مراجع په لمنليکونو کی ځای پر ځای شوی دی.

اووم : په موضوع کې قرآني اياتونه ، د سورت نوم او د ايت شميره د سورتونو په ترتيب سره ليکل شوی دی.

اتم : په موضوع کې چې کوم احاديث ذکر شوی دي ، د هغې تخريج هم شوی دی او حکم هم پری شوی دی.

نهم : په موضوع کی چی د کومو اشخاصو ذکر شوی دی نو د هغی لنډه پيژندګلوي هم شوی ده.

لسم : په موضوع کي چې د کومو اصطلاحاتو يادونه شوی ده، چې معرفي ته ضرورت لري، نو دهغي خلص پيژندګلو هم په لمنليک کی ځای پر ځای شوی ده.

يوولسم :کچيری په موضوع کې د ځينو نا اشنا ځايونو نومونه راغلی دی نو دهغی معرفی هم شوی ده.

دولسم : په آخر کې مو لاندې فهرستونو ته ځای ورکړی دی.

الف- د اعلامو فهرست.

ب- دقرآنی اياتونو فهرست.

ج-د نبوي احاديثو فهرست.

د- د مراجعو فهرست.

ه- د مطالبو فهرست، ( د مطالبو او عناوينو فهرست په لومړی سر کي ځای پر ځای شوی دی.)

## د څيړنې اهداف :

۱-- په دې څيرنه کې لاندې اهداف په نظر کې نيول شوي دي:

۱-- د هر څه د مخه مونږ هڅه کړی ده چې د اتباعو سياسي حقوق روښانه کړو، چې اتباع کوم سياسي حقوق لري.

۲-- دوهم هدف دا دي چې دا خبره واضح شي چې اسلام د کومو سياسي حقوقو قايل دی او د افغانستان قوانينو خپلو اتباعو ته کوم سياسي حقوق ورکړی دي.

۳ــــپه دریم قدم کې دا خبره باید واضح شي چې اسلام سیاسي حقوق من حیث حقوق ګڼي او که نه اسلام سیاسي حقوقو ته د مکلفیت په حیث ګوري.

# لمړی فصل

## د اصطلاحاتو پيژندنه

دا چې زما موضوع د اتباعو سياسي حقوق د فقهې او د افغانستان د قانون له نظره ده، نو لازمه مې وګڼله چې په لمړي فصل کې هغه کلمات تشريح کړم له کوم څخه چې زما د تيزس عنوان جوړ شوی دی ، ترڅو لوستونکو ته موضوعات لا آسانه او جالب شي، او دا ځکه چې ډير ځله په يوې موضوع کې ډير استعمال شوي کلمات د خلکو د مسلک او فهم وړ نه وي نو بيا پرې پوهيدل هم ورته ګران وي، او د موضوع په اړونده کلماتو نه پوهيدل ، لوستونکو ته د موضوع لوستل د جالبيت پرځای د ستړيا لامل ګرځي، نو په همدې خاطر مې مناسبه وګڼله چې بايد په لومړی سر کې د بحث د اساسي اصطلاحاتو لنډه پيژندنه وشي.

په لمړی فصل کی به په دې باندې رڼا واچوو چې د تابعيت لغوي معنی څه ده او په همدې ترتيب په اصطلاح کې څه معنی ورکوي ، بيا به ورپسي د سياست په لغوي معنی او اصطلاحی تعريفونو رڼا واچوو ، په همدې شکل د سياست د کلمې ذکر به په قرآن او سنتو کې وڅيړو، چې ايا قران کې د سياست کلمه راغلی ده او که نه، که نه وي راغلی نو نور کوم هغه کلمات دی چې په قرآن کې د سياست د کلمې پر ځای استعمال شوی دي، د دې څخه وروسته به د نبی عليه السلام احاديثو ته مراجعه وکړو چې ايا په احاديثو کې د سياست کلمه راغلی ده او که نه، د دې څخه وروسته به د حق په لغوي او اصطلاحي معناؤ رڼا واچوو، د حق د لغوي او اصطلاحي معنا پيژندني څخه وروسته به د سياسي حقوقو تعريف او پيژندنه وکړو او ضمناً به دا هم ذکر کړو چې ايا سياسي حقوق حق دی او که مکلفيت، او په اخر کې به د فقهې او قانون په کلماتو باندې لنډه رڼا واچوو چی دا کلمات په لغت کی څه معنی لری او اصطلاحي معنی يې څه ده او اړونده نور ضروري معلومات به لوستونکو ته وړاندی شي.

## لمړی مبحث- د تابعيت پيژندنه:

د دې لپاره چې تابعيت په ښه شکل وپيژنو نو د تابعيت په لغوی او اصطلاحي معنی باندی رڼا اچوو، چې هر يو يې په بيلا بيلو مطالبو کی دبحث لاندې نيسو.

## لمړی مطلب: د تابعيت لغوی معنی:

تابعيت يوه عربی کلمه ده چې د ( تبع) کلمې څخه اخستل شوې ده، په لغت کې د تابعوالی او پيروی کولو معنی لري. [1] ، همدارنګه په فرهنګ معين او فرهنګ فارسی عميد کې د پيروي کولو او اطاعت کولو په معنی راغلی ده[2]، او مترادف کلمات يې قوميت، مليت ، انقياد حکم منل دی.[3]

## دوهم مطلب: د تابعيت اصطلاحی تعريف:

د حقوقو په څير د تابعيت لپاره هم يو واحد تعريف وجود نلري، بلکې د حقوق پوهانو له نظره پدې برخه کې بيلا بيل تعريفونه وړاندی شوی دي ، چې يو څو تعريفات يې دلته ذکر کوو:

تابعيت د يوې سياسي او قضايي اړيکی څخه عبارت دی چې د هغې نتيجه د يو فرد پيوسته کيدل دی د يو دولت سره.[4]

په همدې شکل محترم استاد ودير صافی په خپل کتاب ( نړيوال عمومی حقوقو کې تابعيت پدی شکل وړاندی کړی دی :

(تابعيت هغه رابطه ده چې له دې لارې يو وګړی د نړيوالو حقوقو له مزاياؤ نه ګټه اخستی شی).[5]

که پورته تعريفاتو ته متوجه شو نو ليدل کيږي، چې ذکر شوی تعريفات څه نا څه نيمګړتيا لري مثلا، لمړی تعريف کې وايي چې : ( تابعيت د يوې سياسي او قضايي اړيکې څخه عبارت دی چې د هغې نتيجه د يو فرد پيوسته کيدل دی د يو دولت سره)، پدې معنی چې تابعيت يواځې سياسي او قضايي اړيکه ده يعني تابعيت د دولت د سياسي ارادې څخه سرچينه اخلي او د خپل تبعه سياسي حمايت کوي او په همدې شکل قضايي اړيکه ده ، پدې معنی چې د دعواؤ د رامنځ ته کيدو په نتيجه کې د دغه شخص متبوع هيواد معلوم دی چې د ده دعوه واوري او يا د بل شخص دعوه د ده په حق کې واوری او مناسبه

---

[1] المعجم الوسيط ج۱ ص ۸۱

[2] -فرهنګ معين، او فرهنګ فارسی عميد

[3] - لغت نامه دهخدا.

[4] - خلعت بری ارسلان، حقوق بين المللی خصوصی ، پاڼې ګڼه:۲۰، چاپ کال ۱۳۱۶ ه ش، تهران، چاپخانه روشنايي.

[5] - صافی ، ودير، نړيوال عمومی حقوق، پاڼې ګڼه، ۸۵، چاب کال ۱۳۸۷ ه ش، مستقبل خپرندويه ټولنه.

فیصله ورته وکړي، ولي که مونږ وګورو نو تابعیت یواځي سیاسي او قضایي اړیکه نه ده ، بلکې تابعیت یوه حقوقي او معنوي اړیکه هم ده ، چې په پورته ذکر شوي تعریف کې دې نقطو ته اشاره نه ده شوي.

که دوهم تعریف ته ځیر شو نو دوهم تعریف هم کامل تعریف نه ښکاری ځکه په دوهم تعریف کې وایي چې : (تابعیت هغه رابطه ده چې له دې لارې یو وګړی د نړیوالو حقوقو له مزایاؤ نه ګټه اخستی شی).

پداسې حال کې چې د تابعیت په اساس یو شخص هم په نړیواله سطحه فایده اخستلای شی او هم په ملی سطحه ، ولي پدې تعریف کې یواځي نړیوال اړخ ته اشاره شوی ده.

پورته تعریفونه هم ډیر جالب او پر ځای دی، ولی زما چې کوم تعریف ډیر خوښ دی هغه په لاندی ډول دی:

تابعیت له هغې سیاسې، حقوقي ، ټولنیزي او معنوي اړیکې څخه عبارت دی کوم چې د حقیقي یا حقوقي اشخاصو او دولت ترمنځ شتون لري، چې د دغې اړیکي له مخې دولت او هم اشخاص ( حقیقي او حقوقي اشخاص) یو د بل په وړاندې د حقوق او مکلفیتونو څخه برخمن ګرځي.[1]

په دې تعریف کې هم د افرادو او هم د دولت حقوق او مکلفیتونو ته اشاره شوی ده، نو ځکه دا تعریف نسبتاً نورو تعریفونو ته غوره دی.

[1]- حسین الکجبافو حقوق بین الملل خصوصی ، پاڼی ګڼه، ۸۰.

## دوهم مبحث- د سیاست پیژندنه:

د دې لپاره چې د سیاست په معنی ښه پوه شو نو لمړی د سیاست لغوي معنا کوو او بیا ورپسې د سیاست اصطلاحي تعریفونه وړاندی کوو:

## لمړی مطلب: د سیاست لغوي معنی:

سیاست چې د عربی ژبې د مصدر صیغه ده، چې ماضی حالت یې سَاس [1] او مستقبل حالت یې یسوسُ [2] دی، معنی یې اصلاح کول او ښایسته کول دی، د همدی لغوي معنی پر اساس دا کلیمې د حکومت د چارو د تنظیم پخاطر استعمالیږي، ځکه چې د حکومت ستر هدف د خلکو اصلاح کول او هڅوی ته د یو سوکاله ژوند زمینه برابرول دي.

## لمړی جز- د سیاست کلمه په قرآن کې:

دا چې په قرآن او سنتو کې د سیاست کلمه راغلی ده او که نه ؟ پدی هکله دوکتور یوسف قرضاوي[3] په خپل کتاب ( دین او سیاست) کې داسې لیکې:

د سیاست کلمه په قرآن کې نه ده یاده شوی، نه په مکي او نه هم په مدني سورتونو کې ، نه یې هم کوم لفظي اشتقاق د فعل او صفت په چوکاټ کې وارد شوی ، که څوک (المعجم المفهرس لالفاظ القرآن الکریم) کتاب وګوری دا خبره به ورته څرګنده شی ، همدا لامل دی چې راغب په خپلو مفرداتو کې د سیاست ټکی نه دی راوړی، نه هم (معجم الفاظ القرآن) یاد کړی.

ځینی خلک همدا په قرآن کې د سیاست نه یادیدل د دې دلیل نیسي چې قرآن او اسلام دسیاست سره تړاو نلري.

پرته له شکه چې داخبره یوه لویه غلطي ده، کیدای شي یو لفظ په قرآن کې نه وي یاد شوی ، خو معنا او مضمون یې څرګند او ثابت وي، د بیلګې په توکه که مونږ و ګورو د (عقیدې ) کلمه په قرآن کې نه لیدلی کیږي، خو مضمون او مفهوم یې په قرآني آیتونو کې ښکاره دی، قرآن مونږ ته عقیده تشریح

[1]- ساس ماضی حالت دی یعنی سیاست یې کړی ؤ. المعجم الوسیط ج ۱ ص ۴۶۲.

[2]- یسوس راتلونکی حالت بیانوي یعنی سیاست به وکړی. المعجم الوسیط ج ۱ ص ۴۶۲.

[3]- یوسف قرضاوی چې مکمل نوم یې یوسف عبدالله القرضاوي دی، په کال ۱۹۲۶د سپتمبر په ۹ نیټه په مصر کې زیږیدلی دی، د مصر د مشهورو سني علماؤ له جملی څخه دی، په ماشومتوب کې یې حفظ کړی او د هغی څخه وروسته یې د نړی په مشهور پوهنتون ازهر کې د اصول دین په پوهنځی کې زده کړی کړی دی، او په کال ۱۹۷۳ کې د ازهر پوهنتون څخه دوکتورا ترلاسه کړه چې د دوکتورا موضوع یې (زکات او د اجتماعي مشکلاتو په حل کې د هغې رول) وه، د نړی مشهوری جایزی لکه د اسلامی پرمختیایي بانک جایزه، د ملک فیصل جایزه، په اسلامی فقه کې د سلطان حسن بلقیه (سلطان برونی ) جایزي ترلاسه کړی دی، دې د اسلامی نړی د علماؤ د اتحادي مؤسیس او ریس دی چې تر اوسه پوری د دوه سوه نه ډیر کتابونه یې لیکلی دی، او په نړی کې د یو وسطی فکر خاوند او امام العصر په نامه مشهور دی.(ویکیپیډیا).

کړی ، په الله جل جلا له باندې ایمان ، په پرښتو ، الهي کتابونو، رسولانو او په ورځ د آخرت باندی ایمان یې یاد کړی، چې همدې ته عقیده وایې بلکې عقیده د قرآني آیتونو لومړني دایره او محور دی، چې قرآن پرې راڅرخي.

همدا شان مونږ ګورو چې په قرآن کې د (فضیلة) کلمه نه ده راغلې چې معنا یې ده ښېګڼه ، خو قرآن د لومړني پیل څخه بیا تر پایه ښېګڼو او نیکمرغیو ته خلک رابولي او له بدمرغیو یې مخنیوي کوي.[1]

له دی څخه وروسته دکتور قرضاوی (حفظه الله) لیکي:

اګر چې د سیاست کلمه په قرآن کې نه ده راغلې خو نور ډیر داسې کلمات پکې شته چې په سیاست دلالت کوي لکه د (ملک) کلمه، چې د خلکو ترمنځ د حکم چلولو په معنا دی، د انسانانو د مشري په معنا، چې امر ورته کوي او له ځینو کارونو یې منع کوي.

د قرآن په اوږدو کې د (ملک او حکم) کلمات په مختلفو طریقو سره یاد شوی ، کچیری حاکم عادل وی په ښو یاد شوی ، کچیری ظالم وي بد پری ویل شوی دی ، لکه په لاندی آیاتونو کې چې لیدل کیږي.

## الف- د (ملک ) کلمه په قرآن کې:

**( أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمْ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكاً عَظِيماً)** [2]

ژباړه: او ایا دوی پر نورو له دې امله رخه کوي چې الله پر هغو خپل فضل پیرزو کړیدی ؟ که دا خبره وي نو دوې ته دې معلومه وي چې مونږ خو د ابراهیم او لاد ته کتاب او حکمت ورکړی او ستره باچاهي مو وربښلې ده

د ابراهیم له اولادې یوسف علیه السلام ؤ چې خپل رب ته یې په مناجات کې وویل:

[1]- قرضاوی ،یوسف عبدالله، دین او سیاست، پاڼې ګڼه: ۲۲ او ۲۳، چاپ کال، ۱۳۹۱ ه ش. د چاپ ځای انتشارات اصلاح افکار.
[2]-سورة النساء ۵۴ آیت.

( رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنْ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِنْ تَأْوِيلِ الأَحَادِيثِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِماً وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ).[1]

ژباړه: ای زما ربه! تا ماته حکومت راکړی او ماته دې د خبرو پر بیخ پوهیدل را زده کړي دي. د اسمانونو او ځمکي هستوونکیه ! همدا ته زما په دنیا او اخرت کښي سرپرست یې، زما خاتمه پر اسلام وګرځوه او په پای کښي ما له صالحانو سره یو ځای کړه'

په ایت کې د (من الملک) کلمه راغلی ده یعنی د پاچاهی نه دې ماته یوه برخه راکړی ، دا ځکه چې یوسف  علیه السلام په حکومت کې مستقل نه ؤ په سر یې بل پاچا درلود، هغه چې یوسف (علیه السلام) ته یې وویل:

(وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ).[2]

ژباړه: باچا وویل:' هغه ماته راولئ چې زه هغه د ځان لپاره مخصوص کړم' کله چې یوسف  (ع) له هغه سره خبرې وکړې نو هغه وویل' اوس ته زما په وړاندې قدر او منزلت لرې او ستا پر امانتدارئ پوره ډاډمن یم.

طالوت ته هم الله تعالی پاچاهي ورکړی وه، د بنی اسرایلو پاچا ؤ ، تر څو هغوی دطالوت تر رهبری لاندی جګړه وکړي ، الله تعالی پدی هکله فرمایي:

(وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكاً قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنْ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ)[3].

---

[1]- سورة یوسف ۱۰۱ آیت.
[2]- سورة یوسف ۵۴ آیت.
[3]-سورة بقره ۲۴۷ آیت.

ژباړه: د هغو پیغمبر هغو ته ووېل چې الله طالوت ستاسې باچا ټاکلی دی ددې خبرې په اورېدو هغوی ووېل: ' هغه څنګه پر مونږ د باچا کېدو استحقاق وموند؟ د هغه په پرتله مونږ د باچاهی زیات وړیو هغه کوم زیات شتمن سړی نه دی' پیغمبر ځواب ورکړ:' الله پر تاسې هغه غوره کړیدی او هغه ته یې روحي او جسمي دواړه ډوله پراخ اهلیت وربښلی دی او الله واکمن دی چا ته یې چې خوښه شي خپل ملك ورکوي، له خدای سره ډېره پراخي ده او پر هر څه عالم دی'

قرآنکریم د هغه کیسه له جالوت سره بیان کړی چې د جالوت په قتل سره پای ته رسیدلی:

**(فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ وَلَوْلا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتْ الأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ).**[1]

ژباړه: په پای کښې د الله په امر هغوې کافران وځغلول او داؤد جالوت وواژه او الله هغه ته سلطنت او حکمت ور په برخه کړ او هر هغه څه یې ور زده کړل چې د الله خوښه وه که دغه شان الله د یوې ډلې مخنیوی په بلې ډلې نه کولای نو د ځمکی نظام به ګډوډ شوی وای، خو پر نړېوالو د الله لوی فضل دی (چې هغه په دغه ډول د فساد دمخنیوي لارې چارې برابروي).

په همدی شکل دوکتور صیب قرضاوي نور ډیر ایاتونه په دی هکله راوړی دی چی مونږ پر همدی اکتفاء کوو.

## ب- د تمکین کلمه:

دوکتور صیب قرضاوي دوهمه هغه کلمه چې د سیاست پر ځای په قرآن کې استعمال شوی ده هغه تمکین ذکر کوي او په دې هکله وایي:

دې کلیمو ته ورته د (تمکین) کلمه هم یادیدلی شي، چې ډیر ځایه د سیاست په معنا کارول شوې ، الله جل جلاله فرمایي :

---

[1]سورة البقرة ۲۵۱ آیت.

(وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ)[1]

ژباړه : په دې توګه مونږ په هغه هیواد کښې د یوسف (ع) لپاره د حاکمیت لاره اواره کړه. د هغه خوښه وه چې په هغه (هیواد) کښې چې چیرته یې غوښتل ځانته ځای جوړ کړي. مونږ خپل رحمت چاته مو چې خوښه شي ورپه برخه کوو، د ښو کسانو اجر مونږ نه ضایع کوو.

همدا شان الله تعالی د مومنانو په هکله وایي:

(اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَ اَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَ نَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَ لِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ.)[2]

ژباړه: داهغه کسان دي چې که مونږ دوېته په زمکه کښې قدرت ورکړو نو لمونځ به قایم کړی. زکات به ورکړی، په ښوچاروبه امر وکړي اوله بدیونه به منع وکړي، او دټولو چاروپای دالله په لاس کښې دی.

## ج- د ( استخلاف ) کلمه:

دې ته ورته کلمه چې د سیاست مفهوم ورکوي د ( استخلاف) کلمه ده او نور هغه کلمات دی چې له دې کلمې څخه مشتق شوی دی ، الله تعالی فرمایي:

(وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَ لَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَ لَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا يَعْبُدُوْنَنِيْلَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْئًا وَ مَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ.)[1]

[1]-سورة یوسف ۵۶ آیت.
[2]- سورة الحج، ۴۱ آیت.

ژباړه: الله له تاسې نه دهغوکسانو سره چې ایمان راوړي اوښه عملونه وکړي وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کښې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغونه مخکې تېر شوي خلك يې ګرځولي وو دهغو لپاره به دهغو هغه دین پرمحکمو بنستونو ودروي چې هغه الله تعالٰی دهغو لپاره خوښ کړی دی. او د هغو د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي هغوی دې زما بندګي کوي اوله ماسره دې کوم شي نه شریکوي. او څوك چې له دې وروسته کفر غوره کړي نو همداسې کسان فاسقان دي.

د موسی علیه السلام د قوم د خلکو وینا الله تعالی په دې شکل رانقل کړې ده:

**﴿قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا وَ مِن بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَ يَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ﴾.**[2]

ژباړه: د هغه د قوم خلکو وویل ' ستا له راتګ نه مخکښې هم مونږ ځورول کېدو او اوس ستا په راتګ هم ځورول کېږو ' هغه ځواب ورکړ' نژدې دی هغه وخت چې ستاسې رب ستاسې دښمنان هلاك کړي او تاسې ته په ځمکه کښې خلافت درکړي بیا به وګوري چې تاسې څنګه عمل کوئ.

څلورمه کلمه چې دوکتور صیب یوسف قرضاوي (حفظه الله ) په خپل کتاب کې ذکر کړې ده هغه د (حکم ) کلمه ده، چې د سیاست هم معنی کلمه ده، چې په لاندې ډول یې ذکر کوو:

### د- (حکم) کلمه:

بله هغه کلمه چې د سیاست مفهوم ورکوي د ( حکم) کلمه ده او ټول اشتقاقات دي چې له دې کلمې څخه کیږي، الله تعالی فرمايي:

**﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعاً بَصِيراً﴾**[3]

---

[1]- سورة النور ۵۵ آیت.
[2]- سورة اعراف ۱۲۹ آیت.
[3]سورة النساء ۵۸ آیت.

ژباړه: مسلمانانو ! الله تاسي ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ، او کله چې د خلکو په مینځ کښي فیصله کوئ نو په عدالت سره یې وکړئ، الله تاسي ته په دې سره ډېر لوی نصیحت کوي او په باوري ډول الله اوریدونکي او لیدونکي دی.

(أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنْ اللَّهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ).[1]

ژباړه: (که دوی د خدای له قانون څخه مخ اړوي) نو ایا بیا د جاهلیت فیصله غواړي؟ په داسي حال کښي کوم خلك چې پر الله باور لري د هغو په نزد له الله نه بل غوره فیصله کوونکی هېڅ نشته.

(وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالأَنفَ بِالأَنفِ وَالأُذُنَ بِالأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ).[2]

ژباړه: په تورات کښي مونږ پر یهودیانو دا حکم لیکلی ؤ چې د نفس په بدل کښي نفس، د سترګې په بدل کښي سترګه، د پوزې په بدل کښي پوزه د غوږ په بدل کښي غوږ، د غاښ په بدل کښي غاښ، او د ټولو زخمونو له پاره برابره بدله؛ نو که څوك قصاص صدقه کړي نو هغه د هغه له پاره کفاره ده. او کوم خلك چې د الله له نازل کړي قانون سره سمه فیصله ونه کړي هماغوی ظالمان دي.

## دوهم جز- د سیاست کلمه په احادیثو کې:

دا چې څرګنده شوه چې خپله د سیاست کلمه په قرآن کې نه ده راغلی ولی د اسې ډېر کلمات شته چې د سیاست مفهوم افاده کوي چې پورته ذکر شول ، اوس پدی باندی خبره کوو چې د سیاست کلمیه په احادیثو کې راغلی ده او که نه، پدی هکله هم دوکتور یوسف قرضاوي (حفظه الله) په خپل کتاب دین او سیاست کې داسي لیکي:

په نبوي حدیثو کې د سیاست د کلمې څخه مشتق شوی کلیمې راغلی چې په دې هکله د ا متفق علیه حدیث یادولی شو:

[1]- سورة المایدة ٥٠ آیت.
[2]- سورة المایدة ٤٥ آیت.

**(عن ابی هریرة ، ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: کانت بنو اسرایل تسوسهم الانبیاء، کلما هلک نبی خلفه نبی، و انه لا نبی بعدی، وسیکون خلفاء فیکثرون، ، قالوا : فما تأمرنا؟ قال ، فوا ببیعة الاول فالاول و اعطوهم حقهم الذی جعل الله لهم، فان الله سایلهم عما استرعاهم).[1]**

ژباړه: د ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: انبیاؤ د بنی اسرایلو چارې فیصله کولی، کله به چي یو نبي وفات شو بل نبي به یي ځای ناستي شو، او بیشکه چي زما نه وروسته بل نبي نشته، خلیفه ګان به وي او ډیرېږي به، صحابه وو وویل، نو مونږ ته د دوی په هکله څه امر کوي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ، د هر مخکیني سره په بیعت وفا وکړی، هغه حق یي اداء کړی چي الله هغوي ته ورکړی ، بیشکه الله به د دوي نه د خپل رعیت پوښتنه کوي، [2]

په دې حدیث شریف کې د (تسوسهم ) کلمه د سیاست نه مشتق دي.[3]

دا چي په حدیثو کې د سیاست کلمه راغلی ده، او مونږ او تاسي په دې ایمان لرو چي نبی علیه السلام د ځان نه هیڅ هم نه وایي بلکې د الله لخوا ورته وحی کیږي او په قران کې هم ورته کلمات ذکر شوی دی نو ویلی شو چي د سیاست کلمات او دهغې مفاهیم په قرآن او سنتو کې بار بار راغلی دي.

## دریم جز- د سیاست او د (Politics) د کلمو مقایسه:

په انګلیسي ژبه کې د سیاست هم معنی کلمه د ( Politics) ده، دا چي د سیاست او ( Politics ) معنی سره یوه ده او که فرق لري، په دې هکله مولانا ګوهر رحمن صیب په خپل کتاب اسلامي سیاست کې دارنګه وضاحت کړی دی:

په انګلیسي ژبه کې د سیاست کلمه له (Politics) کلیمې سره هم معنی ده، چي د (Politics) کلمه په خپل وار له یوناني کلیمې (Polis)[4] څخه نشأت کړی دی ، خو د عربی ژبې د سیاست کلمه د انګلیسي ژبې له (Politics) سره مترادفه نه ده ، د عربی ژبې د سیاست کلمه هر اړخیز او پراخه مفهوم

---

1-صحیح البخاری، باب څلورم، جز څلورم ، صفحه ۱۶۹، حدیث شمیره ۳۲۶۸، حدیث صحیح.
البخاری، محمد بن إسماعیل أبو عبدالله ، صحیح البخاری ، تحقیق او څیړنه: محمد زهیر بن ناصر الناصر، چاپ ځای: دار طوق النجاة، لومړی چاپ: ۱۴۲۲ ه ق.

3- قرضاوی، یوسف عبدالله ، دین او سیاست، د پاڼي ګڼه: ۲۸، د چاپ کال ۱۳۹۱ ه ش ، د چاپ ځای، انتشارات اصلاح افکار.

4- Polis : په پخوانې یونان کې ښاری دولتونه موجود ول، چې د هر ښاري دولت چارې به د یوې کلا له خوا رهبری کیدلی او د هر ښاری دولت واکداران به د ښاری دولت د چارو د تنظیم لپاره په دغه کلا کې سره راټولیدل یعنی هغه کلا دغسې حیثیت درلود لکه په اوس وخت کې د ولسمشری ماڼۍ یا ارګ، چې دغی کلا ته یې ( Polis) ویله. جمهوریت ، لیکوال: افلاطون، ژباړن – سید نظیم سیدي، صمیم ادبې ټولنی چاپ ۱۳۸۸، ۳۲۱ مخ.

افاده کوي، لکه د نفس اصلاح کول، د کورنۍ اصلاح کول، د ټولنې اصلاح کول ، د نظام اصلاح کول ، تعزيری سياست، بلکې ټول اصلاحي کارونه د همدې کليمي په مفهوم کې شامل دي، خو د انګليسي ژبې د ( Politics) کلمه يوازې د ملکي ، ملي او حکومتي سياست لپاره استعماليږي چې په عربی ژبه کې يې مترادفه کلمه ( سياسة المدينة ) ده. [1]

**دوهم مطلب- د سياست اصطلاحي تعريف:**

دا چې د سياست په لغوي معنی باندی پوه شو اوس پدې باندی بحث کوو چې د سياست اصطلاحي معنی او مفهوم څه دی، په دې هکله لمړی د سياست تعريف د غربی پوهانو له نظره او بيا د سياست تعريف د اسلامي نړی د سترو فقهاؤ له نظره دلته رانقلوو:

**لمړی جز: د سياست تعريف د غربی پوهانو له نظره:**

په انسايکلو پيډيا الکبيرة کې د سياست اصطلاحی تعريف په دې ډول شوی دی:

(فن حکم الدولة او دراسه المبادی التی تقوم عليها الحکومات والتی تحدد علاقاتها بالمواطنين وبالدول الاخری).[2]

ژباړه: د حکومت کولو پوهی ته سياست ويل کيږی، يا په بل عبارت دا د هغه بنسټيزو اصولو علم دی چې د هغې په واسطه حکومتونه جوړيږي او د حکومت او خلکو ترمنځ پری اړيکې قايميږي او د نورو هيوادونو سره د اړيکو د ټينګولو حدود پری ټاکل کيږي.

بل تعريف:

(السياسة فن حکم المجتمعات الانسانية.) [3]

ژباړه: سياست په انسانی ټولنو د حکومت کولو فن دی.

همدارنګه په بل تعريف کې لاندې نقاطو ته اشاره شوی ده:

(د سياست نه مقصد د حکومت نظم و نسق دی). [4]

---

[1]-ګوهر رحمن، اسلامی سياست، د پاڼې ګڼه: ۱۱، د چاپ کال ۱۴۳۰ ه ق، دچاپ ځای ، پيغام خپرندويه مرکز، ژباړن، قريب الرحمن سعيد.
[2]- علم السياسة د ډاکټر حسن صعب د لبنان د پوهنتون استاد، لومړی فصل ۲۰ مخ، ۱۹۷۰ کال د بيروت چاپ.
[3]- مدخل الی علم السياسة د ډاکټر جمال الاتاسی ، ۷ مخ، دمشق چاپ.
[4] - د اسلامی حکومت نظام، ۲۰۰ مخ، مولانا حامد الانصاری ليکنه، ۱۹۵۶ م کال د هندوستان ډهلی چاپ.

د سیاست په هکله د غربی علماؤ په همدې تعریفاتو باندې بسنه کوو، او د دې څخه وروسته د اسلامی علماؤ تعریفات د سیاست په هکله رانقلوو.

## دوهم جز- د سیاست تعریف د اسلامی علماؤ له نظره:

ابن منظور افریقایي رحمة الله علیه د سیاست په هکله وایي:

(والسیاسة القیام علی الشیء بما یصلحه والسیاسة فعل السایس).

یعني د یوشي د اصلاح پخاطر ملاتړ او کلک دریدل له سیاست څخه عبارت دی چې دا دیو سیاست پوه او مدبر شخص کار دی.[1]

امام ابن خلدون رحمة الله علیه [2]د سیاست د تعریف په هکله وایي:

(فالسیاسة و الملک هی کفالة للخلق و خلافة الله فی العباد لتنفیذ احکامه فیهم).

یعني سیاست او حکومت د مخلوق د ساتني او دهغوی د ګټو د کفالت او ضمانت نوم دی او دا ډول سیاست د الله نیابت دی چی دهغه په بندګانو د هغه عزوجل احکام نافذ کړی شی.[3]

په همدې ډول امام راغب اصفهاني رحمة الله علیه [4] د اسلامي سیاست په اړه د دریو اهمو شیانو ذکر کوي چې هغه عبارت دی له :

۱ـــعمارة الارض: یعنی د ځمکي ابادول یا په بله معنی د ځمکی پر مخ ساختماني او تعمیراتي تمدن رامنځته کول.

۲ـــتنفیذ احکام الله: یعنې د الله تعالی د احکامو تنفیذ او تطبیق.

۳ـــمکارم الشریعة: یعنې د اسلامي اخلاقو اختیارول، یا په بله معنی اسلامی اخلاق په ټولنه کې مروجول.

---

[1]- رحماني، محمد شریف ، اسلامي سیاست، پاڼې ګڼه: ۱۱، شپږم چاپ، چاپ کال، ۱۳۹۰ ه ش، چاپ ځای، اصلاح افکار کتاب پلورنځی.

[2]- ابو زید عبدالرحمن بن محمد بن خلدون الخضرمی، په ۷۳۲ ه ق کال کی زیږیدلی دی او د تونس د هیواد تبعه ؤ، او په ۸۰۸ ه ق کال کی وفات شوی دی په ابن خلدون یي شهرت درلود، نوموړی د عربی نړی مشهور مسلمان تاریخ لیکونکی او ټولن پیژندونکی ؤ ، مشهور کتاب یې مقدمه ابن خلدون ده. ویکیپیډیا- نیټه ۱۴/۲/۲۰۱۸

[3]- محمد شریف رحماني ، پخوانی ماخذ، ۱۰مخ.

[4]په امام راغب اصفهانی مشهور، ابو القاسم بن محمد په ۵۰۲ ه ق کال کې له دی نړی سترګی پټې کړی دی ، نوموړی یو اصفهاني لغت پوه ، ادیب، او حکیم ؤ، او دمشهورو ایرانی پوهانو په ډله کې راځي..http://fa.wikipedia.org/wiki/ نیټه ۱۴/۲/۲۰۱۸

امام غزالی رحمة الله علیه [1] د اسلامی سیاست د تعریف په اړه وایې:

(استصلاح الخلق وارشادهم الی طریق المستقیم المنجی فی الدنیا والاخرة).

یعني د الله تعالی د بندګانو اصلاح او هغي لارې ته د هغوی لارښوونه کول چې د دنیا او اخرت د خلاصون یواځینی لار ده سیاست ویل کیږي.[2]

دننګرهار اسلامی پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي محترم استاد سید احمد فاطمی په خپل کتاب ( د اسلام سیاسي نظام ) کې د ځیني فقهاؤ په استناد لاندی تعریف راوړی دی.

(هی ما کان فعلا یکون معه الناس اقرب الی الصلاح و ابعد عن الفساد و ان لم یضعه الرسول صلی الله علیه وسلم ولا نزل به وحي.) [3]

یعنی سیاست داسې فعل ته وایې چې د دې فعل سره خلک سمون او اصلاح ته ډیر نږدی وي او له ورانی او فساد څخه ډیر لری وي، اګر که دا فعل رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وی په ګوته کړی او نه په قرآن کریم کی موجود وي.

سیاست د اسلامی دولت د چارو د تدبیر څخه عبارت دی ، کوم چې عامه منافع او مصالح تأمین کړی، ضرورنه دفع کړی، او د شریعت د حدودو او اصولو څخه تجاوز ونه کړی.[4]

د پورته ذکرشوو علماؤ څخه علاوه د اسلامی نړی زیاتو علماؤ د سیاست تعریفات کړی دی چې مونږ په همدې باندی اکتفاء کوو، البته د یوې خبری یادول ضروری دی او هغه دا چې د اسلامی علماؤ په تعریفاتو کی الفاظ متفاوت ولی معنی او مفهوم یي سره ډیر نیږدي دی، چې په لنډ ډول ورته اشاره کول غواړم:

## لمړنی مشترکه نقطه:

ټول علماء پدی خبره متفق دی چې اصل حاکم الله تعالی دی او انسان پکی د نایب او خلیفه حیثیت لری ، نه د ټولواک او واکمن.

---

[1]- ابو حامد محمد بن احمد غزالی طوسي، په ۴۳۷ ه ش کال کې په خراسان کی دې دنیا ته سترګې غړولی دی، دیني او ادبې علوم یې له احمد راذکاني زده کړل او وروسته یې د طوس په یو مدرسه کې زده کړی پیل کړی، په ۵۰۵ ه ش کال کې له دې دنیا څخه سترګی پټې کړی.( ویکیپیډیا ازاد- نیټه ۱۴/۲/۲۰۱۸

[2]- غزالی، ابو حامد محمد بن محمد الطوسی المتوفی ۵۰۵ ه ، احیاء علوم الدین، جلد اول، پاڼې ګڼه: ۱۳، چاپ ځای: دار المعرفة ، بیروت.

[3]- فاطمی، سید احمد ، د اسلام سیاسي نظام، پاڼې ګڼه: ۶، دوهم چاپ، چاپ کال: ۱۳۹۵، دچاپ ځای میهن خپرندویه ټولنه پیښور.

[4]- خلاف، عبدالوهاب ، السیاسة الشرعیة، د پاڼې ګڼه ۱۵، د چاپ کال:۱۹۷۷م، د چاپ ځای دارالانصار.

## دوهمه مشترکه نقطه:

ټولو علماؤ په دی خبره اتفاق کړی دی چې اسلامي سیاست هغه دی چې هلته د الله تعالی احکام تنفیذ او تطبیق شي.

## دریمه مشترکه نقطه:

اسلامي سیاست هغه دی چی پکې د الله د دین ساتنه او حفاظت وشي.

## څلورمه مشترکه نقطه:

ټول علماء په دی متفق دی چې اسلامی سیاست یواځی د دین پوری اړه نلری بلکی د دین په رڼا کې د دنیا ابادول هم پکې شامل دي، یعنی په دی معنی چی د مسلمانانو ټول ضرورتونه پکې پوره شی، اسلامي نړۍ خودکفا شي او په خپلو پښو ودریږي، او د نوری نړی د محتاجی څخه خلاصه شي، نه یواځی دا چې اسلامي نړۍ د نورې نړۍ د محتاجی څخه خلاصه شي ، بلکې د نورې نړی د مظلومو او محتاجو انسانانو مشکلاتو ته هم رسیدګی وکړي او هغوی ته د آزادی، عدالت، پرمختګ او پرامنه ژوند سهولتونه برابر کړي.

## پنځمه مشترکه نقطه: د اسلامي اخلاقو مروجول دي.

د اسلامي حکومت بل مکلفیت دا دی چې په خپلو حدودو کې اسلامي اخلاقو ته وده ورکړی، او د هر ډول بداخلاقیو مخه ونیسي.

## شپږمه مشترکه نقطه : د اسلامي امت مصلحت ته کتل:

په اخر کې ویلی شو چې هر هغه مصلحت اوخیر چې اسلامی نړی ورته ضرورت لری د هغې خپلول او هر هغه شر چې اسلامی نړی ته مضر وي د هغې نه ځان ساتل چې د شریعت د عامه اصولو او قواعدو سره په ټکر کی نه وی عبارت د اسلامی سیاست څخه دی.

## دريم مبحث- د حقوقو پيژندنه:

لکه څرنګه چی انسان يو اجتماعي مخلوق دی ، په ټولنه او اجتماع کې ژوند کوي ، او د نورو انسانانو سره مختلف قسمه روابط او اړيکي لري، د دغو اړيکو د ښه تنظيم پخاطر يو لړ قواعدو او اصولو ته ضرورت دی، اسلامي شريعت په لومړی قدم کې او وضعي قوانينو په دوهم قدم کې د انسانانو د ژوند دښه تنظيم پخاطر يو لړ قواعد او اصول وړاندی کړی دی ، چې دغو قواعدو ته په علمي لحاظ (حقوق) وايي، د دې لپاره چې د حقوقو په لغوي او اصطلاحي معناو باندې ښه پوه شو نو په لمړی قدم کې حقوق په لغوي لحاظ څيړو او په دوهم قدم کې حقوق په اصطلاحي لحاظ د اسلامی علماؤ له نظره او د معاصرو حقوق پوهانو او قانون دانانو له نظره څيړو.

### لمړی مطلب- د حقوقو لغوی معنی:

لکه څرنګه چې مونږ پوهيږو چې (حقوق) يوه عربی کلمه ده، چې مفرد يې (حق) دی، او په عربی ژبه کې مختلفي معناوي لری لکه ثبوت، وجوب، نصيب، د باطل ضد او داسی نور ، دا چې قرانکريم هم په عربی ژبه دی نو مونږ يې دلته ځيني اياتونه رانقلوو چې مختلفي معناوي ورکوي:

۱ــــحق د الله د نومونو څخه يو نوم دی، لکه الله تعالی چې فرمايې:

**(ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِ الْمَوْتَى وَأَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)** [1]

ژباړه: دا هرڅه له دې امله دي چې همدغه الله حق دی او هغه مړي ژوندي کوي او هغه په هرڅه قادر دی.

۲ــــ حق د برخی په معنی:

**(وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ).** [2]

ژباړه: چې دهغو په مالونو کښې يوټاکلي حق دي، د سائل او محروم له پاره.

---

[1]-سورة الحج ۶ آيت.
[2]- سورة المعارج ۲۳ آيت.

**۳- حق د وجوب په معنی، لکه الله تعالی چې فرمایي:**

**(وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقّاً عَلَى الْمُتَّقِينَ).**[1]

ژباړه : په همدې ډول کومو ښځو ته چې طلاق ورکړای شوی وي، هغو ته دې هم په مناسبه توګه څه ناڅه شی ورکړل شي او رخصت دې کړای شي دا پر متقیانو حق (واجب) دی.

۴- د جرم په معنی، لکه الله تعالی چې فرمایي:

**(ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ).**[2]

ژباړه: دایې نتیجه وه چې هغو د خدای له ایتونو نه انکار شروع کړ او د پیغمبرانو په ناحقه وژلو یې لاس پورې کړ، دایي نتیجه وه د هغو د نافرمانیو او ددې خبرې چې هغوی د شریعت له پولو نه پرله پسې پینې اړولې.

او داسی نوری ډیرې معناوي لري.

## دوهم مطلب- د حقوقو اصطلاحي تعریف:

دا چې حقوق د اجتماعي علومو له جملې څخه یو مهم علم دی ، نو پدې اساس یو واحد تعریف نه لری ، نه د اسلامی فقهاؤ له نظره او نه هم د معاصرو حقوق پوهانو له انده، د دی لپاره چې د حقوقو په تعریف باندی ښه پوه شو، نو لمړی د حقوقو تعریف د اسلامی فقهاؤ له نظره وړاندی کوو او بیا د حقوقو تعریف د معاصرو حقوق پوهانو له نظره وړاندی کوو.

### لمړی جز: د حقوقو اصطلاحي تعریف د اسلامي فقهاؤ له نظره:

ځینی خلک داسې فکر کوي چې پخوانیو فقهاؤ د حق کلمه استعمال کړی ده ولی د حق اصطلاحي تعریف یې نه دی کړی، پداسې حال کې چې پخوانیو فقهاؤ هم د حق اصطلاحي تعریفونه کړی دی ، چې د هغې له جملی څخه علامه قرافی [3] د حق الله او حق العباد په هکله وایي:

---

[1]-سورة البقرة ۲۴۱ آیت.

[2]- سورة البقرة ۶۱ آیت.

[3]- علامه قرافی چی د پلار نوم شمس الدین یحی بن عمر قرافی دی په ۹۳۹ ه ق کال کې د مصر هیواد د قاهری ښار په قرافه سیمه کې پیدا شوی دی، د مصر مشهور قاضی پاتی شوی دی، او په کال ۱۰۰۹ ه کې په قاهره کې وفات شوی دی.

د الله تعالی حق د هغه د اوامرومنل او د هغی له نواهیو څخه ځان ساتل دی.

د بندګانو د حقوقو په هکله وايي چې د بنده حق د هغه مصالح دی یعنی ټول هغه امور چی د بندګانو مصلحت ورپوری تړلی دی د هغوی حق دی.[1]

د اصول فقهی د علماؤ له جملی څخه علامه سعدالدین التفتازانی [2] چی د اتمی هجری پیړی یو ستر عالم تیر شوی دی ، هغه د حق د تعریف په هکله وايي:

د حق الله په هکله وايي: (هو ما یتعلق به النفع العام من غیر اختصاص باحد).

یعنی د الله تعالی حقوق هغه دی چی هغه د عامو خلکو د منافعو پوری تړاو نیسي، او د کوم مشخص شخص لپاره نه وي.

د حقوق العباد په هکله وايي: (هو ما یتعلق به مصلحة خاصة).

یعني د بندګانو حقوق عبارت دی له دی څخه چې د یو مشخص شخص د خاص مصلحت پوری تړاو ولري.[3]

اوسنیو معاصرو فقهاؤ هم د حق د اصطلاحی تعریف په هکله خپل نظریات ورکړی دی، مثلاً شیخ علی الخیف پدې هکله وايي چې:

(هو مصلحة مستحقة شرعاً). یعنی د هغه مصلحت څخه عبارت دی چی چې یو شخص په شرعی لحاظ د هغې مستحق کیږي.[4]

په همدی شکل استاذ مصطفی الزرقا وايي:

(هو اختصاص یقرر به الشرع سلطة او تکلیفاً.)

یعني حق په اصطلاح کې عبارت دی له دی څخه چې د شریعت ښبتن د هغې په مټ واک یا یو مکلفیت انسان ته تفویضوي.[1]

---

[1]- عثمان ،محمد رافت، الحقوق والواجبات و العلاقات الدولیة فی الاسلام، دپاڼې ګڼه: ۱۲، څلورم چاپ، د چاپ کال:۱۹۹۱، د چاپ ځای، دارالضیاء للطبع والنشر والتوزیع، القاهره.

[2]- د علامه التفتازانی مکمل نوم سعد الملة والدین ابو سعید مسعود بن عمر بن محمد بن ابی بکر بن محمد بن الغازی التفتازانی السمرقندی الحنفی دی، په ۱۳۲۲ ه ق کې په خراسان کبری کی په تفتازان کی پیدا شوی دی ، مشهور نصابی کتابونه یې مختصر المعانی، مطول، شرح العقاید او شرح المقاصد دی، د اهل السنت او الجماعت د مشهورو علماؤ څخه شمیرل کیږی او په کال ۱۳۹۰ ه ق کې وفات شوی دی.
[3]-- محمد رافت عثمان، مخکینی ماخذ ،مخ ۱۳
[4]- محمد رافت عثمان، مخکینی ماخذ ، مخ ۱۳.

یا حق هغه واک دی،چې انسان ته د تصرف او یا هم د بل چا څخه د اداء کولو دغوښتنې صلاحیت ورکوی، لکه د انسان تصرف په خپلو ممتلاکاتو کې او یا هم د انسان صلاحیت پدې کې چې د نورو انسانانوڅخه د هغه تعهداتو د پوره کولو غوښتنې وکړي، کوم چې په ځان باندې یې منلي وي.[2]

په همدې شکل استاد مصطفی الزرقا د خپل تعریف تشریح چې پوهاند داد محمد نذیر د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد په خپل کتاب ( د اسلامي حقوقو اساسات) کې را اخستی ده او خپله تبصره یې هم پری کړی ده، په لاندې ډول وړاندی کیږي:

دا تعریف د حقوقو ټولې برخې لکه دیني ، مدني، ادبي، اخلاقي او عمومي حقوق، همدارنګه مالي حقوق لکه د نفقې حق، په ذمه کې د دین استحقاق او غیر مالی حقوق لکه د ولي حقوق د نفس په ولایت کې او د وکیل حق په وکالت کې په برکې نیسي.

پدې تعریف کې د حق جوهر او ماهیت بیان شوی دی  او هغه په یوه ځانګړي شخص پورې اختصاص دی ، لکه د بایع حق په ثمن کې او د مشتري حق په مبیع کې چې دا اختصاص په یوه ځانګړی شخص پوری دی چې هغه ځانګړی یا ټاکلی شخص بایع او مشتري دی نو که په کوم ځای کې اختصاص په ټاکلی شخص پورې اړوند نه وي بلکې اباحت عام وي لکه له ټول ګټو تأسیساتو څخه ګټه اخیستل، د وحشي ښارویو ښکار، د ځنګله له بوټو څخه ګټه اخیستل، دا یاد موارد حق نه بلکې عامه اباحت نومول کیږي.

اخصاص د دوو شیانو د شتون غوښتنه کوي یو یې مختص او  بل یې مختص به دی ، مختص احیاناً د الله جل جلا له د حق په موضوع کې دی، پدې صورت کې داحقوق ، حقوق الله نوموي، او کله هم مختص حقیقي شخصیت لکه انسان او کله هم مختص حقوقي شخصیت لکه دولت ، بیت المال او ټول ګټې مؤسیسې وي.

د واک ویې (لغت) پدې تعریف کې څرنګه چې د یوه انسان واک پر بل انسان باندې څرګند وي لکه د مور حق د ماشوم په حضانت کې ، د ولي حق د نفس په ولایت کې همدارنګه په ټاکلی شی باندې د شخص واک درلودلو ته هم شامليږي، لکه د مالک حق په خپلو ملکیتونو باندې.

[1]- محمد رافت عثمان، مخکینی ماخذ ، ص ۱۳.
[2]- عوضی ،احمد عبدالله ، الحقوق السیاسیة للرعیة فی الشریعة الاسلامیة مقارناً بالنظم الوضعیة،د پاڼې ګڼه: ۴، د چاپ کال ۱۹۹۴م.

د مکلفیت کلمه پدې تعریف کې دا مطلب رسوي چې انسان باید تل ملزم واوسي، برابره ده که د حقوق الله د اداء کولو په وړاندی وي لکه عبادات یا د بل انسان په وړاندې وي لکه داین ته د دین اداء کولو حق او د اجیر مسؤلیت سرته رسول د کار دځښتن لپاره.

دا تعریف یو بل مهم مطلب هم رسوي هغه دا چې د حق مصدر د الله تعالی د سپیڅلي ذات اراده ده ، ځکه چې حقوق د اسلام له انده یوه الهي ډالۍ ده چې الله تعالی بشر ته ورکړې ده او دغیر مباشر (شرع) او یا مباشر مصادرو په تکیه هغه یې د تایید وړ ګرځولي دي او له هغو څخه عملی شرعي احکام استنباطیږي.

په اخر کې پوهاند صیب داد محمد نذیر لیکي:

لدې وروستي تعریف څخه داسي څرګندیږي چې حق عبارت له هغه امتیاز او ځواکمنتیا څخه دی چې د شریعت څښتن هغه دخلکو د اړیکو د سمون لپاره او په ټولنه کې د نظم د خوندیتوب او د عدالت د پلي کولو په موخه یو چاته د نورو پر وړاندې په رسمیت پیژني، دا ځواکمنتیا او امتیاز د (حق) په نوم یادوي چې جمع یې حقوق دی.

نو د دې تعریف باندې د جامعیت او مانعیت ته په پاملرنې سره همدارنګه پدې تعریف باندې د نیوکې نه شتون ته په پام درلودلو سره ویلی شو چې دا تعریف د نورو تعریفونو په پرتله قوي دی.[1]

په اخر کې دا خبره کول ضروري ګنم چې ځیني مسلمانان هم د طبعي یا فطري حقوقو اصطلاح استعمالوي ، چې په اصل کې دا یوه غربي نظریه ده چې غربي حقوق پوهان په دې معتقد دي چې انسانان ځیني طبعي او فطري حقوق لري لکه ژوند کولو حق، د عقیدي او دیني مراسمو د اجرأ حق، د مسکن د خوندیتوب حق او... یعني دا حقوق چا ورکړې نه دی بلکې د پیدایښت سره سم یې کسب کړې دی ، پداسې حال کې چې اسلام دا نظریه په کلکه ردوي، مونږمسلمانان پدې معتقد یو چې د ټولو حقوقو مصدر د الله تعالی ذات دی ، هماغه ذات دی چې انسان یې پیدا کړی دی او هغه ته یې د ژوند کولو حق ورکړی دی، هم یې خپله شخص له دې څخه منعه کړې دی چې د خپل ځان وژنه وکړی او هم یې نورخلک مکلف کړی دی چې د دغه شخص د ژوند حق ساتنه وکړی او دا یې پر هغوی لازم کړی ده په همدې شکل نور حقوق یې.

---

[1]- پوهاند داد محمد نذیر، د اسلامي حقوقو اساسات،دپاني ګڼه، ۵۰ نه تر ۵۲ پورې، لمړی ټوک، د چاپ کال ۱۳۹۴ ه ش، د چاپ ځای : د حامد رسالت خپرندویه ټولنه کابل،

## دوهم جز: د حقوقو اصطلاحي تعریف د معاصرو حقوق پوهانو له نظره:

دا چې حقوق د اجتماعي علومو یوه څانګه ده او په اجتماعي علومو کې واحد تعریف پیداکول چې د هغه مسلک ټول پوهان پرې متفق وی نه پیداکیږي، نو پدې اساس د حقوقو د تعریف لپاره حقوقدانان لمړی حقوق پر دوه برخو ویشي چې هغه عبارت دی له افاقی حقوق او عندی حقوق او بیا د هر یو لپاره بیلا بیل تعریفات وړاندی کوي ، چې دلته یې مونږ هم په ډیر مختصر ډول ذکر کوو:

### الف- افاقي حقوق:

آفاقي حقوق (Objective Law) د ټولنیزو علومو له جملې څخه یو علم دی او خپله د ټولنې ، چاپیریال او اطراف مانا هم ورکوي، چې د علماؤ له خوا ورته ډیر زیات اصطلاحي تعریفات شوی دی ، مونږ یې د نموني په ډول یو څو دلته رانقلوو.

لمړی تعریف: آفاقي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده چې په یوه سیاسي ټولنه باندې حاکمیت لري، د افرادورابطه تنظیموي او د دولت لخو یې تضمین کیږي.[1]

دوهم تعریف: آفاقي حقوق د دولت صریح او مشخص بیان دی ، چې ټولنې ته خبر ورکوي چې کوم کارونه باید اجرا شي ؟ او څرنګه باید اجرا شي.[2]

پوهاند دکتور حفیظ الله دانش آفاقي حقوق په لاندې ډول تعریفوي:

آفاقی حقوق د هغه جبري قواعدو له مجموعي څخه عبارت دی چې په ټولنه کظ موجود وي او د ټولنې ټولې برخې ترتیب او تنظیموي.

یا په بل عبارت آفاقي حقوق د هغه اجباري قواعدو مجموعه ده، چې په انسانانو تطبیق کیږی او د دغه انسانانو د ژوند ټول اړخونه په ملی او بین المللي سطحه د دولت د مداخلي او نه مداخلي په صورت کې ترتیب او تنظیموي.[3]

---

1- داد محمد نذیر، حقوق مبادی، اول جلد، ۱۱ مخ.
2- احمد ګل واثق، د حقوقو بنسټونه، ۱۵ مخ، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ل، مازیګر کتاب پلورنځی، جلال آباد.
3- پورتنی ماخذ، ۱۶او ۱۷ مخونه.

## ب- عندي حقوق:

عندي عربي کلمه ده چې د ذاتي او نفسي معنی لري، اوپه اصطلاح کې عندی حقوق عبارت له هغه صلاحیت ، قدرت او امتیاز څخه دی چې یو شخص یې د بل شخص یا یو شخص یې د یو شي پر وړاندې لري.

یا په بل عبارت عندي حقوق له هغه قدرت ، سلطی او امتیاز څخه عبارت دی چې شخص ترینه په ټولنیز ژوند کې استفاده کوي چې بل چاته یې ضرر نه وي او د عامه قدرت لخوا تضمین شوی وي.[1]

په همدې ډول د حق په تعریف کې د سلام پوهنتون استاد دوکتور شیر علي ظریفي په خپل کتاب د ( حقوقو مبادي) کې لیکي:

دحق تعریف: د شخص قدرت پر هغه مصلحت چې قانون یې ملاتړ کوي حق بلل کیږي.[2]

محترم استاد بیا د حق تعریف داسې تشریح کوي:

۱ـــ حق قدرت دی: په دې معنا ، چې هغه خپل خاوند ته تسلط ثابتوي، ترڅو له خپلو ګټو څخه یوه ګټه خوندي کړي او یا یې لاس ته راوړي، قدرت د مکلفیت ضد دی، هر قدرت او تسلط پریوه او یا ډیرو اشخاصو مکلفیتونه لازموي ، نو دحق خاوند د قدرت او تسلط څښتن دی او هغه اشخاص چې د دغه قدرت او تسلط رعایت باید وکړی، د مکلفیت وجیبې او التزام لرونکی دي.

۲ـــ حق د شخص لپاره ثابتیږي، دغه شخص کله طبیعي انسان وي او کله معنوي شخص وي.

طبیعي شخص د پیداکیدلو له وخته تر وفاته د حقونو د اکتساب (ترلاسه کولو) او پر ځان دالتزام د تحمل صلاحیت لري، ځکه شخص په ټولنه کې د قانوني نظام مرکز دی او د قوانینو دخطاب ځای هم پخپله شخص دی.

معنوي شخص د افرادو او مالونو هغې ټولګې ته ویل کیږی، چې د قانون له مخې ، حقوق ورته ثابتیږي او طبیعي اشخاص یې استازیتوب کوي.

---

[1]- احمد ګل واثق، د حقوقو بنسټونه، ۲۴۳ مخ، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ل، مازیګر کتاب پلورنځی، جلال آباد.
[2]-ظریفی ، شیر علی ، د حقوقو مبادی، د پاڼي ګڼه ۱۳۷، د چاپ کال: ۱۳۹۲ه ش ، د چاپ ځای اصلاح افکار کابل.

۳ــــهغه مصلحت چې د حق خاوند پرې قادر وي او لاس ته يې راوړي، مختلف ډولونه لري ، کله مصلحت مادي وي، لکه د ملکيت حق، چې پر بنسټ يې شخص پر يو محل (ځای) بشپړ قدرت پيدا کوي، ترڅو تصرف پکې وکړي، استعمال او يا استثمار يې کړي او يا د داينيت (پور لرلو) حق ، چې د هغه په مقتضا يو شخص له بل شخص څخه يو څه غواړي، د کار په کولو او يا له کار څخه په منعه کولو يې مکلف کوي.

کله مصلحت معنوي وي لکه، فکری توليد، چې بايد يوازې دهغه خاوند تري ګټه واخلي او نور خلک پرې تيری ونه کړی.

کله دا مصلحت د انسان په شخصيت پوری تړلی وي، لکه آزادي، د بدن سلامتيا او دهغه د عزت ساتل.

۴ــــقانون  د حق ساتنه کوي: پر مصلحت د شخص تسلط او واکمنيدلو ته هغه وخت حق ويل کيدای شي، چې قانون يې تاييد او ساتنه وکړي نو ټول حقوق بايد د مشروعيت د حصوصيت لرونکي وي.

د حق د مشروعيت ځانګړتيا دا غوښتنه کوي، چې نور خلک بايد هغه رعايت کړی او بل څوک پرې تيری ونکړي.

دغه ځانګړتيا قانوني ملاتړ رامنځ ته کوي ، چې غوره پايله يې د تيرې پر مهال قضاء ته پناه وړل دي، هغه حق ته چې قضايي  دعوا يې ملاتړ او ساتنه ونه کړي، حق نه ويل کيږي.[1]

## څلورم مبحث- د سياسي حقوقو پيژندنه او دهغې ډولونه:

دا چې د حقوقو په تعريف او انواعو باندې لنډه خبره وشوه، اوس پدې باندې بحث کوو چې سياسي حقوق کوم دی ، تعريف يې څه دی، په څو نوعه دي، او سياسي حقوق حق دی او که مکلفيت، پدې هره موضوع باندې په بيل بيل مطالبو کې بحث کوو:

### لمړی مطلب- د سياسي حقوقو تعريف:

د افرادو سياسي حقوق په لاندې ډول تعريفوو:

لمړی تعريف:

[1]- ظريفی، شير علی، دحقوقو مبادی، د پاڼي ګڼه: ۱۳۷ نه تر ۱۳۹ پوری، د چاپ کال ۱۳۹۲ ه ش، د چاپ ځای اصلاح افکار کابل.

د افرادو سیاسي حق عبارت د هغه حق څخه دی چې یو شخص یې په سیاسي ساحه کې ترلاسه کوي . یا په بل عبارت ؛ د هغه حق څخه عبارت دی چې د یو هېواد داخلي اتباعو ته نوموړی حق ورکړل شوی وی تر څو په سیاسي ساحه کې ترې استفاده وکړي.[1]

دویم تعریف:

د فرد سیاسي حقوق دې ته وایې چې فرد د دولت په ادارې او د حکم کولو په اړخونو کې سهیم شي او برخه په کې واخلي.[2]

دریم تعریف:

سیاسي حقوق د افرادو له هغه واک او اختیار څخه عبارت دی چې کولای شي د دولت په عمومي قوه او تشکیل کې شرکت وکړي، لکه د کاندیدې او یا هم د کاندیدولو حق ، تابعیت او نور. [3]

څلورم تعریف:

سیاسي حق له هغه اختیار او صلاحیت څخه عبارت دی ، چې یوشخص ته دا واک ورکوي چې د دولت د عمومي قواوو او د هغه په جوړښت کې ګډون وکړي.[4]

پنځم تعریف:

د اسلام په فرهنګ کې سیاسي حقوق عبارت له هغه مکلفیتونوڅخه دی، چې په امت کې د ښې حکومت داری(**Good Governance**) د رامنځ ته کیدو او د هغه مقاصدو د تحقق او پوره کیدو په اړه د مسلمانانو په اوږو ایښودل شوی دی.[5]

سیاسي حقوق هغه حقوق دی چې دهغې له لارې فرد د دولت او حکومتداری په کارونو کې برخه اخلي.[6]

---

[1]- شینواری، بشارت الله، د اساسي حقوقو عمومی اصول، د پاڼې ګڼه: ۲۱۰، د چاپ کال ۱۳۹۴، د چاپ ځای میهن خپرندویه ټولنه.

[2]-ستانکزی، نصرالله، مبادی حقوق، د پاڼې ګڼه ۱۰، د چاپ کال ۱۳۷۸ ه ش ، د چاپ ځای ، بنګاه مطبعه میوند. پروژه امور عدلی و قضایي افغانستان.

[3]- ناصر کاتوزیان، مقدمه علم حقوق، تهران ، د پاڼې ګڼه ۲۵۵، دوهم چاپ، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، د چاپ ځای ، نشر میزان.

[4]- هاشمی ، سید اکرم بشري حقوق، د پاڼې ګڼه : ۱۱۵ ، دوهم چاپ، د چاپ کال ۱۳۹۶ ه ش ، د چاپ ځای یار خپرندویه ټولنه.

[5]- عوضی، احمد عبدالله ، الحقوق السیاسة للرعیة فی الشریعة الاسلامیة مقارناً بالنظم الوضعیة، د پاڼې ګڼه ۱۲. مخکیني مأخذ

[6]- دکتورجابرجاد، القانون المدنی خاص، د پاڼې ګڼه : ۲۷۲.

په څلورواړو تعریفونو کې دی خبری ته اشاره شوی ده چې د افرادو سیاسي حقوق هغه حقوق دی چې په سیاسي ساحه کې یې ترلاسه کوي، ترڅو فرد ته د دې موقع او چانس ورکړل شی چې له یو طرفه د دولت په مختلفو ارگانونو کي سهیم شی او له بل طرفه د دولت په شکل اوساختارکی دملی منافعو په نظر کی نیولو سره لازم تغیرات راوستلی شي.

## دوهم مطلب- د سیاسي حقوقو ډولونه:

د سیاسي حقوقو له پیژندلو څخه وروسته اوس په دې باندې بحث کوو چې سیاسي حقوق په څو ډوله دي ، په دی هکله لاندی معلومات وړاندی کوو:

محترم دوکتور محمد رأفت عثمان په خپل کتاب الحقوق والواجبات والعلاقات الدولية فى الاسلام کې د افرادو دری عمده سیاسي حقوقو ته اشاره کوي چې عبارت دی له:

۱ــــحق الانتخاب – د مشر د ټاکلو حق.

۲ــــحق الترشح- د ځان د کاندید کولو حق.

۳- حق الشخص فى ان يتولى الوظايف العامة – یعنی د عامه مسولیتونو او وظایفو ترسره کول.[1]

د افغانستان د اساسي قانون له نظره د افرادو سیاسي حقوق عبارت دی له:

۱-- د تابعیت حق (۴ ماده).
۲-- د انتخابولو او انتخابیدو حق.( ۳۳ ماده).
۳-- د بیان د ازادی حق.(۳۴ ماده).
۴-- د ټولنو جوړولو حق. ( ۳۵ ماده).
۵-- د احزابو او تنظیمونو جوړولو حق.( ۳۵ ماده).
۶-- د غونډو او مظاهرو حق. (۳۶ ماده).[2]

په همدې شکل د ننگرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي استاد محترم پوهندوی بشارت الله شینواری په خپل کتاب ( د اساسي حقوقو عمومی اصول) کې د افرادو عمده سیاسي حقوق په لاندې ډول بیانوي:

۱ــــد تابعیت درلودلو حق.

---

[1]- عثمان ، محمد رأفت ، ۱۹۹۱ ، الحقوق والواجبات والعلاقات الدولية فى الاسلام، د پاڼې گڼه : ۲۹، د چاپ کال ۱۹۹۱ م، څلورم چاپ، د چاپ ځای، دارالضیاء للطبع والنشر والتوزیع ، القاهره.
[2]-د د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د عدلیې وزارت رسمي جریده ، د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲ ه ش کال، پر له پسې گڼه (۸۱۸).

۲ـــــپه انتخاباتو کې د ګډون کولو حق.

۳ـــــد مظاهرو او اجتماعاتو جوړولو حق.

۴- د سونوشت د تعین حق.

۵- د احزابو ، انجمنونو او اتحادیو جوړولو حق.

۶- د بیان او قلم د آزادی حق.

محترم استاد سید اکرم هاشمي په خپل کتاب بشري حقوقو کې د افرادو لاندې سیاسي حقوقو ته اشاره کړی ده:

۱-- د تابعیت د لرلو حق.

۲-- د سوله ییزو غونډو ، اعتصابونو او تظاهراتوحق.

۳-- د سیاسي ګوندونو، ټولنو او انجمونونو جوړولو حق.

۴-- د کاندیدو حق.

۵-- د رایې ورکولو حق د مقننه قواوو او د جمهوري ریاست په ټاکنو کې.

۶-- د دولتي دندو د اشغال حق.

۷-- د مشورې ورکولو حق.

۸-- د عزلولوحق

۹-- د څارنې حق.[1]

محترم هاشمي صیب په خپل بل کتاب د افرادو سیاسي حقوق کې د پورته سیاسي حقوقو څخه علاوه د عقیدي او بیان د ازادی حق، او د پناه اخستنې حق هم ذکر کړی دي.

مونږ به د اتباعو سیاسي حقوق د افغانستان د قوانینو له نظره د بحث لاندې نیسو او بیا به هر حق د اسلامی فقهي سره پرتله کوو.

[1]- هاشمی ، سید اکرم هاشمي، بشري حقوق،د پاڼي ګڼه: ۱۱۵ او ۱۱۶، دوهم چاپ،د چاپ کال ۱۳۹۶ ه ش، د چاپ ځای: یار خپرندویه ټولنه.

**دریم مطلب- سیاسي حقوق ، حق دی که مکلفیت:**

دا چې سیاسي حقوق، حق دی او که مکلفیت ، دا به د سیاسي حقوقو او د مکلفیت یا وجیبې د تعریف څخه معلوم کړو چې دا حق دی او که مکلفیت:

د سیاسي حقوقو تعریف لکه څرنګه چې مخکې تیر شو عبارت دی له:

سیاسي حقوق د افرادو له هغه واک او اختیار څخه عبارت دی چې کولای شي د دولت په عمومي قوه او تشکیل کې شرکت وکړي، لکه د کاندیدې او یا هم د کاندیدولو حق ، تابعیت او نور. [1]

دلته که وګورو په دې تعریف کې سیاسي حقوقو ته واک او اختیار ویل شوی دی پداسې حال کې چې یو څوک په یو کار کې اختیار ولری نو پدې معنی چې دا عمل مکلفیت یا وجیبه نه ده بلکې حق دی.

ولی که د سیاسي حقوقو بل تعریف ته چې د اسلام له نظره شوی دی متوجه شو، نو هلته ورته بیا مکلفیت ویل شوی دی لکه چې وایې: (د اسلام په فرهنګ کې سیاسي حقوق عبارت له هغه مکلفیتونو څخه دی، چې په امت کې د ښې حکومت داری د رامنځ ته کیدو او د هغه د مقاصدو د تحقق او پوره کیدو په اړه د مسلمانانو په اوږو اینښودل شوی دی.[2]

نو که دې تعریف ته متوجه شو نو دا په واضح شکل معلومیږي چې سیاسي حقوق حق نه دی بلکې مکلفیت دی.

په همدې شکل محترم استاد دوکتور عبدالباقي آمین، د سلام پوهنتون استاد په خپله مقاله کې ( په اسلام کې د ښځې سیاسي حقوق) تر عنوان لاندې هم همدې خبرې ته اشاره کړې ده چې وایې:

(د سیاسي حقوقو اصطلاح نن ورځ ډیره زیاته شوې ده او ډیره استعمالیږي، تر دې اندازه خو د دې اصطلاح استعمالول سمه معنی لري، چې په هغه کې وپوهیدل شي، چې انسانان دا واک لري، چې د سیاسي قضایاؤ په هکله دښې حکومتدارۍ په هکله ، د راعي او رعیت ترمنځ په عادلانه تعهداتو د ولاړې رابطې د سمې جوړولو په هکله ، هڅه وکړې، او په عامه امورو او چارو کې د غلطو ، ناروا او مضرو تصرفاتو مخه ونیسي، اما په اسلامي ادبیاتو کې دغه د ښې حکومتدارۍ د رامنځ ته کولو هڅې د حق او حقوقو د کلمې نه پورته ، په قوي شکل کې مطرح شوې دی، هغه مکلفیتونه دی او انسان د دین له

---

[1]- ناصر کاتوزیان، مقدمه علم حقوق، د پاڼې ګڼه، ۲۵۵، دوهم چاپ، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، د چاپ ځای، نشر میزان ، تهران.
[2]- عوضی، احمد عبدالله ، ۱۹۹۴م، الحقوق السیاسیة للرعیة فی الشریعة الاسلامی مقارناً بالنظم الوضعة، د پاڼې ګڼه ۱۲، د چاپ کال ۱۹۹۴م. مخکینی مأخذ.

لحاظه ملزم دی، چې دا د سیاست په ډګر کې مکلفیت ترسره کړی، هغه یوازی واک ندی بلکې هغه مسؤولیت دی ، او حق لکه څرنګه مو چې پورته تعریف کړی هغه واک ته وایی چې انسان ته د تصرف صلاحیت ورکوي، او یا هم د بل چا څخه د التزاماتو او تعهداتو د پرځای کولو د غوښتنې حق ورکوي، اما سیاسي حقوق د اسلام له نظره د حق د تعریف په چوکاټ کې نشي خلاصه کیدای، بلکې د هغه نه زیات قوت لري، ځکه حق په هغه پورته معنی او بنسټ انسان ته د تصرف او غوښتنې صلاحیت هم ورکوي، او دهغی ترڅنګ انسان ته دنه تصرف او یا هم نه غوښتنې صلاحیت هم ورکوي، او دا تصور د اسلام د تصور سره فرق او توپیر کوي، نو له دې ځایه ده چې سیاسي حقوقو ته باید سیاسي واجبات او یا هم سیاسي مکلفیتونه وویل شي، او د دې تعمق نه دا جوته معلومیږي چې اسلامی نظر د سیاسي حقوق په اړه دقیق ، د جامعې او ټولنې د غوښتنو سره برابر اود انساني ټولنې په هکله د مسؤولیت پیژندني سره توافق او سمون لري).[1]

نو د پورته مختلف قسمه تعریفاتو او تشریحاتو څخه معلومیږي، چې په غربي نړی کې او په معاصرو حقوقو کې سیاسي مکلفیتونو ته دسیاسي حقوقو کلمه استعمالیږي، ولي د اسلام مبارک دین له نظره بیا دا سیاسي حقوق نه دي، بلکې دا د افرادو سیاسي مکلفیتونه دي چې باید یې اداء کړي او که په دې که سستي وکړي نو په دې هکله ګناهګاردي.

---

[1]- عبدالباقی امین، په اسلام کې د ښځې سیاسي حقوق،سلام څیړنیزه، علمي شپږ میاشتنې مجله، دریمه او څلورمه ګڼه،۱۳۹۱ه ل کال، ۵۶ او ۵۷ مخونه.

## پنځم مبحث- د فقهې پیژندنه:

پدې مبحث کې په بیلا بیلو مطالبو کې د فقهې په لغوي معنی او همدارنګه د فقهې په اصطلاحي معنا باندي بحث کوو:

### لمړی مطلب- د فقهې لغوي معنی:

فقه په لغت کې پوهې ته وایي لکه الله تعالی چې قرآن کې همدې معنې ته اشاره کوي:

**(قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيراً مِمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفاً وَلَوْلا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ).[1]**

ژباړه: هغو ځواب ورکړ' ای شعیبه! ستاپر زیاتره خبرو خو مونږ له سره پوهیږ و نه. او مونږ وینو چې ته زمونږ په مینځ کښې یو بېوسی انسان یې، که ستا خپلوان نه وای نو مونږ به دوختم ته سنګسار کړی وای، ستا مې بازو خو دومره نه دی چې پر مونږ درووند وي.

### دوهم مطلب- د فقهې اصطلاحي تعریف:

دفقهې اصطلاحي تعریفات د مختلفو علماؤ څخه رانقل شوی دی چې دلته یې مونږ یو څو تعریفات رانقلوو:

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د فقهې د تعریف په هکله وایي:

(معرفة النفس مالها وما علیها.)[2]

ژباړه: د یو انسان د خپلو ټولو حقوقو او مکلفیتونو پیژندلو پوهی ته فقه وایي.

د فقهې د تعریف په هکله امام شافعي رحمة الله علیه وایي:

(العلم بالاحکام الشرعیة العملیة المکتسب من ادلتها التفصیلیة.) [3]

ژباړه: فقه عبارت ده د شریعت په عملي احکامو باندې له علم لرلو څخه چې له تفصیلي احکامو څخه د استدلال او نظر په واسطه اخیستل شوي وي.

---

[1]- سورة هود ۹۱ آیت.

[2]-وهبة الزحیلی، الفقة الاسلامی و ادلته، د پاڼې ګڼه ۴۲، د چاپ کال ۲۰۱۲م، اردو ترجمه، د چاپ ځای ،دارالاشاعت کراچی ، پاکستان،

[3]- وهبة الزحیلی ، پورته مأخذ، د پاڼې ګڼه: ۴۳.

د پورته دوه تعریفونو د ښه تحلیل څخه وروسته دوکتور وهبة الزحیلی د قواعد زرکشي په حواله د فقهې لپاره لاندې تعریف وړاندی کوي:

(معرفة احکام الحوادث نصا و استنباطاً علی مذهب من المذاهب).[1]

ژباړه: د هر یو مذهب (حنفی، شافعی، مالکی او یا بل) د اصولو او قواعدو مطابق د واقعاتو او حوادثو علم چې د نص یا غور او فکر په ذریعه ترلاسه شوی وی عبارت له فقهې څخه دی.

## شپږم مبحث- د قانون پیژندنه:

د فقهې د پوهیدو څخه وروسته اوس پدې باندی بحث کوو چې قانون څه ته وایي ، نو قانون په لغوي او اصطلاحي لحاظ په بیلا بیلو مطالبو کې د بحث لاندی نیسو.

### لمړی مطلب- د قانون لغوي معنی:

قانون (Kanun) یوه یوناني کلمه ده ، په لغت کې د فزیکي او معنوي شیانو د مقیاس او اندازه کولو واحد په معنا ده همدارنګه هغه کلي امر ته چې په ټولو جزییاتو تطبیق کیدای شي او د هغه احکام راڅرګندوي هم قانون ویل کیږي، لکه د ځمکې د جاذبې قانون، په طبیعت کې د غبرګون قانون، او په اقتصادي چارو کې د عرضې او تقاضا قانون.[2]

### دوهم مطلب- د قانون اصطلاحي تعریف:

په اصطلاح کې قانون عبارت دی له:

(امر کليٌ ینطبق علی جمیع جزئیاته التی یتصرف أحکامها منه).

ژباړه: هغه کلي امر ته چې په ټولو جزییاتو تطبیق کیدای شي او د هغه احکام راڅرګندوي قانون ویل کیږي.

همدارنګه لاندې معناوې هم لري.

الف- عامه معنا چې د انګلیسي ژبې د ( Law) له لفظ سره مترادفه ده، د قانوني قواعدو هغې مجموعې ته ویل کیږي، چې له مدون قانون، دین، عرف او یا نورو شیانو څخه اخستل شوی وي.

---

1- وهبة الزحیلی ، پورته مأخذ، د پاڼي ګڼه: ۴۴،

2-ظریفی، شیر علی، د حقوقو مبادی، د پاڼي ګڼه ۸۶، د چاپ کال ۱۳۹۲ ه ش ، د چاپ ځای ، اصلاح افکار کابل.

ب- د افغانستان په اساسي قانون کې راغلی دي: ( قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورى د دواړو جرګو له خوا تصويب او دجمهور ريس له خوا توشيح شوى وي، مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوي وي، که جمهور ريس د ملي شورى له مصوبې سره موافقه ونه لري، کولاى شي چې د وړاندې کيدو تر نيټې وروسته يې په پنځلسو ورځو کې د دلايلو له ښوولو سره ملي شورى ته مسترده کړى، د دي وخت په تيريدو او يا دا چې ولسي جرګه يوځل بيا هغه د ټولو غړيو له دريوو برخو څخه په دوو برخو رايو تصويب کړي ، مصوبه توشيح شوې ګڼله کيږي او نافذيږي.[1]

ج- هرې ليکل شوي قاعدې ته چې دولتي ادارې يې د اساسي قانون له قواعدو سره سمه ، دخپلو صلاحيتونو په حدودو کې صادره کړي، قانون ويل کيږي.[2]

يا په بله معنا:

قانون د حقوقو په اصطلاح کې د هغو ټولنيزو کړو وړو د قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی ، چې کلي او ملزم وي او دولت د هغه د اجراء تضمين وکړي.

قانون د هغې اصطلاح له مخې چې زمونږ په هيواد کې دود ده په خاصه معنا سره هم استعماليږي، چې د عربي ژبې له شريعت سره مترادفه ده، او له هغو قانونی قواعدو څخه عبارت دی، چې په دولت کې مخصوص اداري پړاوونه ترسره کړي، د بيلګي په ډول:قواعد په يوه مسوده کې په ځانګړي ډول ځای په ځای کيږي، دعدلي وزارت له خوا د وزيرانو شورا ته وړاندي کيږي، د هغو له تصويب وروسته ولسي جرګې ته ځي، د ولسي جرګې له تصويب وروسته مشرانو جرګې ته ځي، د مشرانو جرګې له موافقې وروسته جمهور ريس ته د توشيح لپاره ليږدول کيږي، د جمهور ريس له توشيح وروسته په رسمي جريده کې نشر کيږي، د منشور دې مسودې ته هم قانون ويل کيږي، خو دا له هغه قانون څخه چې مخکې تعريف شو، خاص دی، ځکه دا د قانون يو مصدر دی او هغه قانون چې په متن کې تعريف شو، په ټولو قانوني قواعدو يې اطلاق کيږي، که د هغو مصدر شريعت ، يا د دين احکام او يا عرف وي.[3]

---

[1]-د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون ۹۴ يمه ماده.
[2]- ظريفی، شير علی، د حقوقو مبادی، د پاڼې ګڼه ۸۶، د چاپ کال ۱۳۹۲ ه ش ، د چاپ ځای ، اصلاح افکار کابل.
[3]- ظريفی، شير علی، د حقوقو مبادی، د پاڼې ګڼه ۷ او ۸ ، د چاپ کال ۱۳۹۲ ه ش ، د چاپ ځای ، اصلاح افکار کابل.

# دوهم فصل

# د تابعیت حق

د بحث د اساسي اصطلاحاتو د پیژندلو څخه وروسته د اتباعو د سیاسي حقوقو له جملې څخه لومړنی حق (تابعیت) د بحث لاندې نیسو.

د تابعیت حق مو د اتباعو دسیاسي حقوق په پیژندلو کې لومړی ذکر کړو او د دې وجه دا ده چې تر څو یو فرد د یو هیواد تبعه نه وي ګرځیدلی د نورو سیاسي حقوقو څخه نه شي مستفید کیدلی ، په همدې وجه مو لازمه وګڼله چې باید د تابعیت حق لمړی تشریح کړو.

تابعیت لکه څرنګه مو چې د تابعیت په تعریف کې وویل چې ، تابعیت د هغه سیاسي، حقوقي او معنوی اړیکي څخه عبارت ده چې یو شخص له یو هیواد سره تړي.

یا په بل عبارت تابعیت هغه رابطه ده چې له دې لارې یو وګړی د نړیوالو حقوقو له مزایاوو نه ګټه اخستی شی.[1]

د تابعیت د تعریف په اړه د نړیوالو حقوقو ټول لیکوالان ، پدې برخه کې ورته نظر لري، چې تابعیت د یو فرد له یو هیواد سره دایمی او حقوقي رابطه تابعیت ګڼل کیږي.

د تابعیت د اهمیت په اړه پوهاند صیب دوکتور ودیر صافی په خپل کتاب (نړیوال عمومی حقوق) کې د برطانوي عالم ستارک لاندې وینا رانقل کړی ده چې دلته یې کټ مټ رانقلوو:

ستارک وایي:

۱ــــ د ډپلوماتیکو استازیو د حقوقوحمایت او ملاتړ د تابعیت نتیجه او پایله ده.

۲-- کله چې یو هیواد د خپلو وګړیو د مجرمانه کړنو د ارتکاب مخنیوي ونکړي  او د دې اجازه ورکړي چې هم دغه شانته کړنې نورې هم ترسره کړي او یا  نورو هیوادونو ته ضرر ورسوي، نو نوموړی هیواد د دغه کس د دا ډول کړنو مسؤلیت په غاړه لري.

[1]- صافی ، ودیر، نړیوال عمومی حقوق، پاني ګڼه، ۸۵، چاب کال ۱۳۸۷ ه ش، مستقبل خپرندویه ټولنه.

۳-- په عام ډول ، هیوادونه د افرادو د تابعیت منل نه ردوي، له تابعیت نه زمونږ موخه له یو هیواد سره د وفادارئ په معنا ده، له تابعیت نه کولای شو دا رنګه مانا هم واخلو چې د یو هیواد وګړي نوموړي هیواد ته په نظامي خدمت مکلف دي.

۴-- د تابعیت بل اغیز دا هم دی چې هیواد د خپلو وګړیو تسلیمول ردولای شي.

۵-- د تجربې په بنسټ یو شمیر لوی هیوادونه د جګړې پرمهال د دښمن ځانګړنه او خصوصیت د تابعیت په بنسټ ټاکي.

۶—هیوادونه ډیری وخت په جنایي او مدني پیښو کې په تابعیت لرونکو اشخاصو باندې خپل صلاحیت پلي کوي.

۷— په یو لړ پیښو کې د عدالت نړیوالې دایمي محکمې دا پریکړه کړیده چې د دولت د موافقت پاڼې په بنسټ کولای شي داسې موضوعات لکه تابعیت له خپل داخلي صلاحیت نه بهر احراز کړي او په نړیوالو موضوعاتو کې یې ور دننه او تابع کړي.[1]

د تابعیت په اړه د پورتنیو توضیحاتو وروسته اوس د دې فصل په نورو مباحثو باندې رڼا اچوو.

[1]- ودیر صافی، نړیوال عمومی حقوق، د پاڼي ګڼه: ۸۵ نه تر ۸۷ پوري، د چاپ کال ۱۳۸۷ ه ش ، د چاپ ځای، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل،

## لمړی مبحث- د تابعیت د ځانګړتیاؤ، اصولو او د تابعیت د لاسته راوړلو د لارو او طریقو پیژندل:

دا چې د بحث په لمړی فصل کې د اساسي اصطلاحاتو تر عنوان لاندې د تابعیت لغوي او اصطلاحي پیژندګلو شوی ده ، نو پدې بحث کې د تابعیت په ځانګړتیاؤ، اصولواو دتابعیت د لاسته راوړلو د لارو او طریقو څخه بحث کوو.

### لمړی مطلب- د تابعیت لاسته راوړلو اصول:

د تابعیت په اړه په نړیواله سطحه یو لړ اصول موجود دي، چې د نړی ټولو هیوادونو د تابعیت په اړه یاد اصولو ته په خپلو قوانینو کې ځای ورکړی دی، یاد اصول په لاندې ډول ذکر کیږي:

### لومړی جز: هر وګړی باید تابعیت ولري:

دا یو ډیر مهم اصل دی، ځکه نن ورځ انسانان په طبعي لحاظ په یوه ټولنه او هیواد کې ژوند کوي، نو باید دهغي ټولني او هیواد رسمي غړیتوب ولري، چې همدې ته تابعیت ویل کیږي، او که یو څوک په یوه ټولنه او هیواد کې ژوند کوي، ولي د هغه هیواد یا بل هیواد تابعیت ونه لري ، نو دا به مشکله وي چې د دغه شخص هویت معلوم شي چې دا شخص د کوم هیواد تبعه دی، په همدې شکل یې حقوق او مکلفیتونه هم نه روښانه کیږي، ترڅو په اړه یې لازم تصمیم ونیول شي، نو په همدې اساس دا اصل وضعه شوی دی، چې هر څوک په یوه ټولنه او هیواد کې ژوند کوي ، باید د هغې هیواد تابعیت ولري.[1]

### دوهم جز- هر څوک باید یو تابعیت ولري:

د دې اصل څخه هدف دا دی، چې هر څوک باید یو تابعیت ولري، او د یو څخه زیات تابعیتونه ونه لري، خو دا په دې معنا نه ده، چې هر څوک کولای شي چې د یو څخه د زیاتو هیوادونو تابعیت ولري، ځکه لکه څرنګه چې بې تابعیتي په کورنی او بهرنی کچه ستونزې زیږوي، په همدې ډول له یوه څخه د زیاتو تابعیتونو لرل هم د حقوقو له انده یو سلسله مشکلات پیداکوي لکه د عسکري د خدمت موضوع، چې په دوه ګوني او څو ګوني تابعیت کې یوه لویه ستونزه ګڼل کیږي.[2]

### دریم جز: تابعیت یو تلپاتې اړیکه نه ده:

---

[1]-ناصح، ولی محمد ،تابعیت و دیدگاه حقوقي و سیاسي آن،د پاڼې ګڼه: ۴۴، د چاپ کال ۱۳۸۹ ه ش ، د چاپ ځای، کابل انتشارات سعید،

[2]- پورتنی مأخذ ۶۱ مخ.

د دې اصل له مخې د تابعیت اړیکه باید داسې فرض نشي، چې یوه دوامداره او نه شلیدونکی اړیکه ده، بلکې تابعیت د شخص له طبعي یا فطري حقوقو څخه شمیرل کیږي، او هر څوک کولای شي ، چې د یوه هیواد تابعیت ترک او د یو بل هیواد تابعیت خپل کړي.

لنډه دا چې د تابعیت له لاسته راوړلو وروسته د انجماد او مبهم والی حالت نه مطرح کیږي او تبعه ته یې د بدلولو لاره پرانیستې پریښې ده.[1]

## دوهم مطلب- د تابعیت ځانګړتیاوې:

په دې مطلب کې د تابعیت په ځانګړتیاو باندی بحث کوو، چې تابعیت کومې ځانګړتیاوې لري، هریوه ځانګړنه یې په لاندې ډول ذکر کوو:

### الف - تابعیت یوه سیاسي اړیکه ده:

ځکه دغه اړیکه د دولتونو له حاکمیت څخه سرچینه اخلي او دولتونه دا خبره ټاکي، چې کوم وګړي د هغوی اتباع ګڼل کیږي، همدارنګه دولتونه د تابعیت د قوانینو د تدوین پر مهال سیاسي موخو او بڼو ته پوره پاملرنه کوي.

همدا دلیل دی چې یو شمیر هیوادونه د اساسي قانون د تدوین پر مهال د تابعیت موضوع ته په اساسي قانون کې ځای ورکوي.

### ب - تابعیت یوه نړیواله اړیکه ده:

تابعیت یو نړیوال مفهوم دی او هغه وخت راڅرګندیږي، چې په نړیواله کچه یو له بل څخه خپلواک بیلا بیل دولتونه شتون ولري، ترڅو له هر دولت سره د هغه د وګړو تړاو اړین وګڼل شي، همدارنګه په نړیواله کچه حقوقو کې همدا تابعیت دی، چې وګړي ته حق ورکوي ترڅو اړونده متبوع هیواد له دغه شخص څخه په کورنیو او نړیوالو اړیکو کی ملاتړ وکړي.

### ج - تابعیت یوه کورنۍ یا ملي اړیکه ده:

---

[1]- پورتنی مأخذ ۶۳ مخ.

ځکه همدا دولتونه دی ، چې په خپلو ملي قواعدو کې دا په ګوته کوي، چې کوم وګړی دې د کومو شرایطو په رڼا کې اتباع وګڼل شي، له بل اړخه همدا تابعیت دی، چې یو وګړی د هغه له مخې په ملي کچه د یو شمیر حقوقو لکه رایه ورکول، نوماند کیدل، او.... څخه برخمن کیږي.

## د - تابعیت یوه حقوقي اړیکه ده:

په دې معنا چې دغه اړیکه په ملي او نړیوالو حقوقو کې د یو شمیر حقوقو او مکلفیتونو د رامنځته کیدو لامل ګرځي لکه زده کړې، خدمت، د قوانینو درناوی، له هیواد څخه دفاع او داسې نور.

## ه - تابعیت یوه معنوی اړیکه ده:

ځکه چې تابعیت هیڅکله هم د وګړي په استوګنځای پوری لازماً تړاو نه لري، یعنې تابعیت هغه شان معنوي تړاو دی د یو وګړی له یو ځانګړي هیواد سره چې کچیری دغه وګړی هر هیواد ته هم سفر وکړی بیا هم د دغې اړیکې له مخې د خپل متبوع هیواد تبعه ګڼل کیږي که څه هم په هر ځای یا هیواد کې شتون ولري.[1]

## دریم مطلب- د تابعیت حقوقي آثار او اغیزې:

کله چې د یو دولت او د فرد ترمنځ د تابعیت اړیکه رامنځته کیږي نو لاندې اغیزې (حقوقي آثار) ترې رامنځته کیږي.

### لمړی جز- اړونده هیواد لخوا د خپل وګړي سیاسي ملاتړ:

د دولت لخوا د وګړي سیاسي ملاتړ کیدای شي د همدې وګړي په ګټه له نورو هیوادونو سره د شخړې په صورت کې د تړونونو له مخې د ګټو خوندي کول یا د وګړې په شخصې ژوند کې د نورو وګړو یا دولتونو د مداخلې څخه مخنیوي او یا نور اړخونه ولري.

د ملګرو ملتونو د نړیوالو حقوقو کمیسیون د متبوع هیواد لخوا د خپل وګړي د سیاسي ملاتړ اړوند تدوین شویو موادو په لومړی ماده کې سیاسي ملاتړ داسې راپیژندلی دی: (( سیاسې ملاتړ د یو هیواد د هغه ګامونو څخه عبارت دی چې دغه هیواد یې د هغو زیانونو د ترمیم یا جبران په موخه پورته کوي کوم چې د بل هیواد لخوا د هغه د حقوقو په خلاف د دې هیواد وګړو (حقوقي او حقیقي اشخاص) ته رسیدلي وي.[2]

د یو هیواد لخوا د خپل وګړي سیاسي ملاتړ د لاندې شرایطو په رڼا کې ترسره کیدای شي.

---

[1] عبیدالله اخوندزاده، ۱۳۹۵، نړیوال خصوصی حقوق، د پانې ګڼه ، ۹۵ او ۹۶ ، د چاپ کال ۱۳۹۵، د چاپ ځای، ختیځ خپرندویه ټولنه،

[2] - حسین الکجباف، حقوق بین الملل خصوصی ، ۹۷مخ.

1 - د دولت ګام پورته کول د خپلو حقوقو څخه د دفاع لپاره وي.
2 - د دغه دولت او زيانمن شخص ترمنځ د تابعيت اړيکه شتون ولري.
3 - د نړيوالو حقوقو يوه قاعده ماته شوي وي.
4 - د حق د لاسته راوړلو لپاره ټولی کورنۍ لارې تعقيب شوی وي.
5 - د مدعی د لاس د پاکوالی نظريه ( مدعی بايد په اړونده موضوع کې مقصر نه وي).[1]

## دوهم جز- له حقوقو څخه د وګړو ګټه اخيستنه:

د تابعيت د اړيکې د رامنځته کيدو نه وروسته د يوه هيواد وګړي د يوه شمير هغو حقوقو څخه برخمن کيږي کوم چې يې د بل هيواد وګړي په دې هيواد کې نلري، د بيګې په ډول په خصوصي نړيوالو حقوقو کې د يو وګړې شخصي احوال لکه اهليت ، ازدواج، ارث او ... د هغه د تابعيت ته په کتو سره ټاکل کيږي، همدارنګه وګړي کولای شي چې د تابعيت د لاسته راوړلو څخه وروسته په متبوع هيواد کې د ټولو هغو حقوقو لکه سياسي حقوق ، ټولنيز حقوق ، مدني حقوق، سوداګريز حقوق او... څخه ګټّ پورته کړي.[2]

د يادولو وړ ده چې د يو هيواد وګړي د يادو حقوقو څخه د ګټې اخيستنې په صورت کې د خپل متبوع هيواد په وړاندې د يو شمير مکلفيتونو سره هم مخ کيږي لکه د خپل هيواد د قوانينو رعايت کول، ماليات ورکول، د خپل هيواد څخه د دفاع په موخه د عسکري خدمات ترسره کول، د نظام څخه په سرو مال دفاع کول، د نظام حمايت او نصرت کول او داسې نور.[3]

## څلورم مطلب- د تابعيت ډولونه:

تابعيت د بيلابيلو اړخونو څخه په څو ډوله ويشل کيږي، چې په لاندې ډول يې د بحث لاندې نيسو.

تابعيت د لاسته راوړلو د نيتې له مخې په دوه ډوله ويشل کيږي چې عبارت دی له:

۱ـــاصلي تابعيت ( د پيل تابعيت): هغه تابعيت ته ويل کيږي چې د زيږدني سره سم يې ماشوم لاسته راوړي، چې دغه ډول اصلي تابعيت د وينې او خاورې د سيستمونو له لارې تحقق پيدا کوي.

۲ـــاکتسابي تابعيت: هغه تابعيت ته ويل کيږي، چې يو وګړی يې د زيږيدو سره سم نه بلکې دهغه څخه وروسته راوړي، چې دغه ډول تابعيت هم د بيلابيلو لارو څخه لاسته راځي.

---

[1]- عبيدالله اخوند زاده ، حصوصی نړيوال حقوق، ۳۷ مخ ، د چاپ کال ۱۳۹۷ ه ل ، دچاپ ځای، ختيځ خپرندويه ټولنه جلالکوټ.
[2]- پورته ماخذ ۳۷ او ۳۸ مخونه.
[3]- پورته ماخذ ۳۸ مخ.

۳ـــتابعیت د واقعي توب او غیر واقعي توب له مخې هم په دوه ډوله ویشل کیږي.

لمړی- حقیقي تابعیت( د حقیقي اشخاصو تابعیت):

هغه تابعیت ته ویل کیږي، چې وګړو یا انسانانو ته ورکول کیږي.

دوهم- مجازي تابعیت ( د حقوقي اشخاصو او توکو تابعیت): هغه تابعیت ته ویل کیږي، کوم چې حکمي اشخاصو لکه شرکتونو، مؤسسو یا نورو بنسټونو ته ورکول کیږي او په واقعیت کی ریښتیني بنه نلري، بلکې مجازي یا غیر حقیقي تابعیت ګڼل کیږي.

۴- تابعیت د حقوقو او مکلفیتونو څخه د برخمن کیدو له مخې په دوه ډوله ویشل کیږي.

لمړی- لوړ تابعیت یا لومړی درجه تابعیت: په ټولیزه توګه لوړ تابعیت هغه چاته ورکول کیږي کوم چې د یوه هیواد اصلي اوسیدونکی وي چې دغه اوسیدونکي نسبت نورو اوسیدونکو ته په خپل هیواد کې د زیات شمیر حقوقو او مکلفیتونو څخه برخمن وي.

دوهم – عادي تابعیت یا دوهمه درجه تابعیت:

عادي تابعیت هغه چاته ورکول کیږی کوم چې د یو هیواد اصلي وګړي نه وي، او له پخوا څخه نه بلکې وروسته د یو هیواد تابعیت د بیلا بیلو دلایلو له امله لاسته راوړي، بناءً د لومړۍ درجې تابعیت لرونکي وګړي د یو هیواد اصلي وګړي ګڼل کیږي او هغوی نسبت د عادي تابعیت لرونکو ته د زیات شمیر حقوقو او مکلفیتونو څخه برخمن ګڼل کیږي او حتی په ځینو هیوادونو کله د امریکا متحده ایالاتو کی د دې لپاره چې د عادې تابعیت لرونکی وګړی په اصلي وګړو (ملت) کی وشمیرل شي، نو باید یوه ټاکلی وخت په متحده ایالاتو کی تیر کړی تر څو وروسته له هغه دی له ټولو هغو حقوقو څخه برخمن شي کوم چې یې اصلي وګړي لري.[1]

## پنځم مطلب- د تابعیت لاسته راوړلو لارې او طریقې :

کله چې یو ماشوم پیداکیږي او نړی ته سترګې غړوي، نو دغه ماشوم په دوه طریقو د یو هیواد سره تړاو پیداکوي، یو د ماشوم نسب دی او بل د پیدایښت ځای دی، نو پدې اساس په نړي کی د تابعیت د لاسته راوړلو لپاره په نړی کی دوه سیسمتونه وجود لري چې په نړیواله سطحه منل شوي دي، چې یو یې

[1]- عبیدالله اخوندزاده، ۱۳۹۵، نړیوال خصوصی حقوق، د پاڼې ګڼه ، ۹۹ ، د چاپ کال ۱۳۹۵، د چاپ ځای، ختیځ خپرندویه ټولنه،

د ويني سيستم يا د نسب له مخې د تابعيت لاسته راوړل دی او بل د خاوري سيستم يا د پيدايښت د ځای له مخې د تابعيت لاسته راوړل دی، چې هر يو يې دلته تشريح کوو:

## لمړی جز- د ويني د سيستم له مخې د تابعيت لاسته راوړل :

هغه سيستم ته ويل کيږي ، چې د دې ډول سيستم له لارې تابعيت د نسب يا د والدينو د وينې له لارې يو شخص ته انتقاليږي، چې دې ډول تابعيت ته ارثي يا نسبي تابعيت هم ويل کيږي.

په دې سيستم کې دی ته نه کتل کيږي چې ماشوم په کوم ځای کې زيږيدلی دی، بلکې دې ته کتل کيږي چې د ماشوم مور او پلار د کوم ځای تابعيت لري، ځکه د ويني سيستم مفهوم همدا دی چې ماشوم په هر ځای کې زيږيدلی وي هغه د خپل مور او پلار د خاوري تابعيت اخلي، مثلا: يو ماشوم په پاکستان کې زيږيدلی دی، ولي مور او پلار يې د افغانستان دی نو ياد ماشوم د وينې د سيستم له لارې د افغانستان تابعيت اخلي ، نه د پاکستان تابعيت.

دلته د يوې خبري يادول ضروري دي چې نسب بايد د نژاد سره مغالطه نشي، ځکه په نسب کې يوازې د مور او پلار تابعيت په نظر کې نيول کيږي، نه د هغه نژاد، مثلاً يو چينايي د افغانستان تابعيت اخستی دی، د نژاد له اړخه ياد شخص چينايي دی ولې د تابعيت له اړخه بيا افغانی دی، نو کچيرته د دې شخص ماشوم پيداشي نو هغه به د ويني د سيستم له لارې د افغانستان تابعيت اخلي ، نه د چين.

زمونږ هيواد افغانستان د ويني د سيستم پيروي کوي، د افغانستان د تابعيت د قانون(۹) ماده په دې اړه دا ډول صراحت لري: ( هر څوک چې د افغانستان د قلمرو په داخل کې يا بيرون د افغانستان د قلمرو څخه د داسې مور او پلار څخه وزيږيږي چې افغاني تابعيت ولري افغانان حسابيږي).[1]

## ب - د خاورې سيستم :

د دې ډول سيستم له لارې د يو شخص تابعيت د هغه د زيږيدني د خاورې پورې اړه لري، مانا دا چې څوک چې په هره خاوره کې وزيږيد د هغه خاورې تابعيت ترلاسه کوي، چې اکثره غربي هيوادونه د دې ډول سيستم پيروي کوي لکه هالند، المان، ايټاليا او.....

[1]- بصيرت، عبدالنبی ، خصوصی بين المللی حقوق، د پاڼي گڼه، ۶ او ۷ .

د دې سيستم په اساس مثلاً يو ماشوم په ايټاليا کې پيداکيږي، نو د ايټاليا هيواد نوموړی ماشوم ته خپل تابعيت ورکوي، ځکه ايټاليا د خاورې د سيستم پيروي کوي.[1]

## دوهم جز- دوهم حالت- يعنی د بلوغ عمر ته د رسيدو څخه وروسته د تابعيت لاسته راوړل:

له تولد نه وروسته يعني کله چې د يو هيواد وګړی د بلوغ عمر ته ورسيږي، نو پدې وخت کې په لاندې حالاتو کې تابعيت لاسته راوړلای شي:

### ۱-- د واده له لارې:

د ځينو هيوادونو له ملي قوانينو سره سم ، کومه ښځه چې د کوم بهرني نر سره واده کوي، د خپل هيواد تابعيت له لاسه ورکوي، خو د ځينو هيوادونو د قوانينو په بنسټ ، نوموړې ښځه کولای شي چې د خپل ميړه د هيواد په تابعيت سربيره ، د خپل اصلي هيواد تابعيت هم ولري.

### ۲-- تبني ( زوی نيونه):

پدې وخت کې کله چې يو ماشوم په زوی نيونه ومنل شو، د همغه هيواد تابعيت لاسته راوړی، چې دې يې په زوی توب نيولی او منلی دی، خو کله چې د بلوغ مرحلې ته ورسيد، کولای شي د خپل ځان لپاره خپل تابعيت وټاکي.

### ۳ـــد غوښتنې له لارې:

له دې لارې د تابعيت لاسته راوړل د هغه کس تر غوښتنې پورې اړه لري، چې غواړي د کوم هيواد تابعيت ترلاسه کړی، چې په دې حالت کې نوموړی دولت خپل دملي قانون د اصولو په اساس له ده سره تعامل کوي ، يا يې غوښتنه قبلوي او يا يې ردوي.

### ۴ـــد انتخاب په ذريعه:

يعنې له دوو تابعيتونو نه يو اختياروي، دا هغه وخت شوني ده چې د دولتي ارګان د پريکړې په بنسټ نه ، بلکې شخص يې د خپلې ازادی ارادې په څرګندولو سره ترسره کوي.

---

[1]- بصيرت، عبدالنبی ، خصوصی بين المللی حقوق، د پاڼې ګڼه ۷.

په مدني حقوقو کې انتخاب په یوه محدوده نیتې کې شوني ده، مګر په نړیوالو حقوقو کې د تابعیت انتخاب بیا چې کله یوه معینه برخه خاوره له هیواد نه جلا وي، د نړیوالو تړونونو په بنسټ تنظیمیږي.[1]

## شپږم مطلب- د تابعیت د لاسه ورکول:

یو شخص په لاندې حالاتو کې خپل تابعیت د لاسه ورکوي:

۱ـــد غوښتنې په ذریعه: یو شخص د دې غوښتنه کوي چې د نوموړي تابعیت دې ختم کړای شي، که چیرې یې غوښتنه دولت ومني، نو تابعیت یې له منځه ځي.

۲-- د ازدواج په ذریعه: کله چې یوه ښځه د میړه د دولت تابعیت لاسته راوړي نو دخپل هیواد تابعیت د لاسه ورکوي.

۳ــــ د فرزندئ په اساس: کله چې یو ماشوم د یو بل شخص د دولت تابعیت لاسته راوړي، نو دخپل هېواد تابعیت د لاسه ورکوي.

۴-- د جرایمو په اساس: د جرایمو د ارتکاب له امله هم کیدای شي چې یو شخص خپل تابعیت د لاسه ورکړي ، په ځانګړي ډول په سیاسي جرایمو کې لکه د داؤد خان د کودتا په وخت کې د ۷۵ نفرو څخه تابعیت اخیستل شوي ؤ.[2]

---

[1]- ودیر صافی، نړیوال عمومی حقوق، د پاڼي ګنه، ۸۸ او ۸۹، د چاپ کال ، ۱۳۸۷ ه ش، د چاپ ځای، مستقل خپرندویه ټولنه.

[2]- ثاقب، نقیب الله ، عمومي بین المللی حقوق، د پاڼي ګنه، ۳۳ او ۳۴، د چاپ کال ۱۳۹۱، د چاپ ځای، ننګرهار پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي.

## دوهم مبحث ـ د تابعیت حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

په دې مبحث کې په دې باندې بحث کوو ، چې د تابعیت حق ته د افغانستان په قوانینو (اساسي قانون او د تابعیت قانون) کې په کوم نظر کتل شوي دي، دې او دې ته ورته موضوعاتو باندې به په دې بحث کې رڼا واچوو.

## لمړی مطلب- د تابعیت حق د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې:

افغانستان دنړیوالی ټولنی د یو غړی په حیث د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه منلی ده، د بشري حقوقو د نړیوالی اعلامیې په ۱۵ ماده کې د تابعیت موضوع ذکر شوی ده چې په لاندې ډول ترینه یادونه کوو:

پنځلسمه ماده:

۱-- (هر څوک د تابعیت د درلودلو حق لري.)

۲-- نشو کولای هیڅوک د تابعیت درلودلو له حق څخه بې برخې کړو.)[1]

په همدې اساس د افغانستان د نورو اساسي قوانینو په څیر د ۱۳۸۲ ه ش کال په اساسي قانون کې هم د تابعیت موضوع ته په څلورمه ماده کې په لاندې ډول اشاره شوی ده :

(په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یې په خپله یا یې د خپلو استازیوله لارې عملي کوي، د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعیت ولري، د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ، پشه یي، نورستانی، ایماق ، عرب، قرغیز، قزلباش، ګوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ دی، د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کیږي، دملت هیڅ یو فرد د افغانستان له تابعیت څخه نه محرومیږي، په تابعیت او پناه ورکولو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمیږي).[2]

د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون دا خبره په وضاحت سره بیان کړې ده ، چې ټول هغه افراد چې د افغانستان تابعیت ولري هغه افغان دی او افغان تبعه بلل کیږي، چې د همدې سیاسي او حقوقي رابطې له مخې د پروتوکول دواړو اطرافو یعنی دولت او فرد ته یو لړ حقوق او وجایب ایجادیږدي، چې باید یې اداء کړی.

---

[1]- د بشري حقوقو نړیواله اعلامیې ۱۵ ماده.

[2]-د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲ کال، عدلیي وزارت رسمي جریده. څلورمه ماده.

**دوهم مطلب- د تابعیت حق د افغانستان د تابعیت په قانون کې:**

دا چې د اساسي قانون څلورمې مادې اخري فقره دا په ګوته کوي چې باید د تابعیت په اړه یو جلا قانون ترتیب شي، خو د ۱۳۸۲ ه ش کال څخه وروسته د تابعیت په اړه کوم مستقل قانون نه دی رامنځته شوی ، بلکې د طالبانو په دورې کې چې کوم د تابعیت په اړه قانون رامنځته شوی ؤ هماغه قابل تطبیق دی، فلهذا د هماغي څخه یو څه اهم موضوعاتو ته لنډه اشاره کوو.

په دې اړه لمړی پوښتنه چې پیدا کیږي هغه دا چې افغانستان د تابعیت په اړه کوم سیستم منلی دی ، د وینې یا نسب سیستم او که د خاوری سیستم؟

په دې اړه د افغانستان د تابعیت قانون (۹) ماده داسې صراحت کوي:

(هر هغه څوک چې د افغانستان اسلامي جمهوریت په قلمرو او یا بهر له هغه مور او پلار څخه پیدا شي ، چې د افغانستان تابعیت ولري د افغانستان د اسلامي جمهوریت تبعه شمیرل کیږي).

په همدې شکل بله پوښتنه چې مطرح کیږي هغه دا چې که د ماشوم د مور او پلار څخه یو تن افغان او بل یې بهرنی تبعه وي، په دې صورت کې د نوموړي ماشوم هویت څنګه معلومیدای شي؟

په دې اړه د تابعیت قانون لسمه ماده داسې صراحت کوي: ( که هر وخت د یو ماشوم د تولد پر مهال د هغه له والدینو څخه یو یې د افغانستان او بل یې د بهرني هیواد تابعیت ولري، نو ماشوم په لاندې شرایطو کې د افغانستان تبعه ګڼل کیږي:

۱-- د افغانستان په قلمرو کې پیدا شوي وي.

۲-- د افغانستان د قلمرو څخه بهر زیږیدلی دی، خو د هغه مور او پلار یا له هغو څخه یو یې په افغانستان کې دایمي استوګنه ولري.

۳-- ماشوم د افغانستان د قلمرو څخه بهر پیدا شوی دی مور او پلار یې هم له افغانستان څخه بهر دایمي استوګنه لري، خو د لوریو په موافقه د ماشوم لپاره د افغانستان تابعیت غوره کړي.[1]

---

[1]- ولی محمد ناصح، پخوانی ماخذ ۸۴ مخ.

## دریم مبحث- د تابعیت حق د اسلامي شریعت له نظره:

اسلامي شریعت مونږ ته دا لارښوونه کوي چې هر هغه څوک چې کلمه طیبه ووایي ، په الله او نورو مؤمن به شیانو باندی ایمان ولري، او دالله احکامو ته تابع او تسلیم شي، دا شخص که نر وي او که ښځه د پراخه او ستر اسلامي هیواد غړی بلل کیږي، ولو که د نورو مسلمانانو سره، په ژبه، نژاد، قوم، جغرافیوي موقعیت او... نورو کې اختلاف ولري.

د اسلامي شریعت له نظره عقیده او فکر دی چې مسلمانان سره وروڼه او خویندی ګرځوي، نه نسب ، ژبه ، قوم، هیواد او....

پدې اساس په اسلامي شریعت کې ایمان او عقیده د یو ملت جوړوني لپاره ضروري عناصر دي، په همدې اساس اسلامي شریعت د مسلمان ملت لپاره د امت کلمه استعمال کړی ده ، لکه الله تعالی چې فرمایي:

**(وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً).** [1]

ژباړه: او همدارنګه تاسې مې یو منځلاری او ممتاز امت ګرځولی یاست ترڅو د نورو ملتونو لپاره نمونه او ګواه اوسی.[2]

همدارنګه په بل ځای کې الله تعالی فرمایي:

**(إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ)**[3]

ژباړه: دغه ستاسې امت په حقیقت کښې ایکي یو امت دی او زه ستاسې رب یم، نو تاسې زما عبادت وکړئ.

که د اسلام ځلانده تاریخ ته وګورو نو هلته صهیب رومي ، د روم څخه ؤ، سلمان فارسي د فارس څخه ؤ ، بلال حبشي د حبشې څخه ؤ، ابوبکر صدیق د مکې څخه ؤ، ولي ټول سره وروڼه ول او په یو ټغر سره کیناستل او پاڅیدل، دا او دې ته ورته نور صحابه ټول د اسلامي خاوري غړی او اتباع

---

[1]-سورة البقرة ۱۴۳ آیت.
[2]-کابلی تفسیر، لومړی جلد، ۹۴ ص.
[3]-سورة الانبیاء ۹۲ آیت.

ؤل، او د دوي ترمنځ هيڅ قسمه فضليت په يو بل باندې د ژبې، قوم، سمت او نورو لحاظو سره نه ؤ موجود، لکه الله تعالی چې فرمايي:

**(يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ).[1]**

ژباړه: ای خلکو! مونږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځې نه پيدا کړئ او بيامو تاسې قومونه او قبيلې وګر ځولئ ترڅوچې تاسې يوتر بله سره وپيژنئ په حقيقت کښې دالله په نزد له تاسې نه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسې کښې ترټولو زيات پرهيزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهيدونکی او باخبره دی.

د پورته آيت څخه معلوميږي ، چې په اسلام کې معيار دفضليت رنګ، نژاد، ژبه، قوم او داسې نور نه دی بلکې اصل معيار پکی تقوی او د الله سره مينه، او د الله د دين سره مينه او پری عمل دی، که هغه هر څوک وي، هغه الله ته محبوب دی.

په همدې شکل په اسلامي شريعت کې کله چې يو څوک د يوې اسلامي خاوری تبعه ګرځي نو هغه به يا مسلمان وي او يا به ذمي وي، يا په بله معنی په اسلام کې د تابعيت لپاره دوه اصله موجود دي، چې يو ايمان دی او بل عهد او پيمان، د نبي عليه السلام څخه را نيولی تر دې دمه پوری په اسلامي هيوادونو کې دا دوه معيارونه د اعتبار وړ ؤ او دي، يعنې اسلامي شريعت هم مسلمان او هم ذمي خپل اتباع ګڼي، او د دواړو د حقوقو رعايت کوي.[2]

او په اسلامي شريعت کې د ويني او يا خاوري سيستم څه خاص اهميت نلري، د مثال په ډول که د يو امريکايي مور او پلار څخه چې په ديني لحاظ عيسوي يا يهودي وي، يو ماشوم پيداشي او هغه په دارالحرب[3] کې اسلام ومني او دارالاسلام[4] ته داخل شي، نو دا شخص د ستر اسلامي هيواد تبعه ګڼل کيږي، پداسې حال کې چې ياد شخص نه خو په اسلامي خاوره کې زيږيدلی دی او نه د مسلمان مور اوپلار څخه زيږيدلی دی.

---

1-سورة الحجرات ١٣ آيت.

2- د افرادو سياسی حقوق، پخوانی مأخذ، ١١٣ مخ.

3- دارالحرب هغه ځمکي ته وايي چې کفار پری واکمن وي، اسلامي شريعت هلته نه تطبيق کيږي، اګر که مسلمانان پکی موجود وي.

4- دارالاسلام هغه ځمکه ده چې مسلمانان پری واکمني لري، او د اسلام مبارک دين شعاير هلته اقامه کيږي، (مبادی و اصطلاحات علم فقه ، جلال جلالي زاده، ص ١٥٠، ١٣٨٧ تهران).

په اخر کې په لنډ ډول ویلی شو چې په اسلامي شریعت کې د ویني او یا خاوری سیستم ته ، کوم چې نن ورځ په نړی کې مروج دي، کوم اهمیت حاصل نه دی، اصل اهمیت چې په اسلامي شریعت کې د تابعیت لپاره ټاکل شوی دی هغه ایمان او عهد یا پیمان دی.

اګر چې اوس اسلامي نړي په پخواني حالت نه ده پاتي او په ډیرو هیوادونو باندې ویشل شوي ده، نو اسلامي نړی هم د تابعیت لپاره د پورته دوه سیستمونو څخه د یو(د ویني سیستم او یا د خاوري سیستم څخه) پیروي کوي.

# دریم فصل

# د عقیدې ، فکر، او د بیان د ازادی حق

په دې فصل کې د افرادو د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی په هکله رڼا اچوو، پدې معنی چې دا فصل مو په دریو مبحثونو باندې ویشلی دی، چې په لمړی مبحث کې به دا واضح او روښانه کړو چې د عقیدې ، فکر او دبیان د ازادی د حق نه هدف او مفهوم څه دی، په دوهم مبحث کې به د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی حق روښانه کړو او په دریم مبحث کې به د اسلامي شریعت له نظره د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی حق واضح کړو.

## لمړی مبحث- د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی د حق پیژندل:

د عقیدې ، فکر او بیان ازادی د افرادو د بنستیزو حقوقو له جملی څخه شمیرل کیږي ، د دې لپاره چې په دې موضوع ښه پوه شوي اوسو نو په دې مبحث کې د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی د حق پیژندنه په بیلا بیلو مطالبو کې وړاندی کوو.

### لمړی مطلب- د عقیدې او فکر د ازادی پیژندل:

د عقیدې او فکر د ازادی د حق څخه مفهوم او هدف دا دی چې انسان ته دا حق حاصل دی چې د کايناتو (ځمکي ، اسمانونه، لمر، سپوږمی، ستوری، نباتات، حیوانات، جمادات او....) ، انسان ، د دوی د خالق او د بلې هرې موضوع په هکله چې دغه شخص یې وغواړي فکر وکړي ، د هغې په هکله یوه عقیده خپله کړی، او د خپلې عقیدې او فکر مطابق تصمیم ونیسي، دې ته د عقیدې او فکر د ازادی حق وایې.

### دوهم مطلب- د بیان د ازادی پیژندل:

د بیان د ازادی څخه هدف او مفهوم دا دی چې هر شخص د خپل فهم، عقیدې او فکر په اساس کولای شي چې خپل نظر ښکاره کړی، پیشنهادات وړاندی کړی، د هغه څه په اړه چې ورسره مخالف دی ، خپل مخالف نظر ښکاری کړی، او حتی کولای شي چې انتقادات پری وکړی، که دا مخالفت، انتقادات او یا پیشنهادات په لیکلی بڼه وي، شفاهي وي، تصویري وي او یا په بله بڼه وي، دا شخص ازاد دی چې خپل نظر ښکاره کړی، دې ته وایې د بیان د ازادی حق.

د بیان ازادی په اصل کې د عقیدې او فکر د ازادی یوه برخه تشکیلوي ، که یو څوک د بیان ازادی ونلري ، هغه نشي کولای چې خپل فکر، عقیده او یا بل څه چا ته بیان او وړاندی کړی.

## دوهم مبحث- د افغانستان د قوانینو له نظره د عقیدې ، فکر او د بیان د ازادی حق:

پدې مبحث کې پدې باندی بحث کوو، چې د افغانستان نافذه قوانینو دا موضوع په څه ډول وړاندی کړی ده ، په لمړی مطلب کې به د عقیدې او فکر په ازادی باندی رڼا واچوو او په دوهم مطلب کې به د بیان په ازادی باندی بحث وکړو.

### لمړی مطلب- د عقیدې او فکر ازادی.

د افغانستان اساسي قانون د عقیدی او فکر ازادی د انسان بنسټیز حق ګڼي او احترام ورته لري ، ولي د قانون په چوکاټ کې، چې دا موضوع د افغانستان د اساسي قانون په دوهمه ماده کې په لاندې ډول ذکر کړی دی.

د افغانستان د اساسي قانون دوه یمه ماده:

(د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین د اسلام سپیڅلی دین دی، د نورو ادیانو پیروان د خپل دین په پیروۍ او د خپلو دیني مراسمو په اجرأ کې د قانون د حکمونو په حدودوکې آزاد دي).[1]

د افغانستان دولت یو اسلامي دولت دی، چې خپل ټول امور د اسلام سپیڅلي دین په رڼا کې پرمخ بیايي، د نورو ادیانو پیروان هم کولای شی چې د افغانستان په اسلامي دولت کې په ازادانه ډول د خپلو دیني مراسمو د اجراء سره ژوند وکړي، خو په ځینو هغو برخو کې چې د دوې د دیني عقایدو او شخصي احوالو سره ټکر ونلري، د افغانستان د قوانینو تابع دي، چې هغه د افغانستان په قوانینو کې واضح شوی دي.

[1]- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د عدلیې وزارت رسمي جریده، د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲ ه ش کال، پرله پسې ګڼه (۸۱۸) دوهمه ماده.

## دوهم مطلب- د بیان ازادي:

دا چې د عقیدې ، فکر او دبیان آزادي د انسان د یو له بنسټیزو حقوقو څخه شمیرل کیږي، نو په همدې اساس د بشري حقوقو نړیوالې اعلامې دا حق منلی دی او د خپلې اعلامیې په (۱۸) او (۱۹) مادو کې ورته ځای ورکړی دی ، یادې مادې په لاندې ډول دي:

اتلسمه ماده:

(هر څوک حق لري چې د فکر ، وجدان او مذهب له آزدی څخه برخمن شي، دا حق د مذهب او عقیدې د بدلولو متضمن دی، او همدارنګه دا حق یوازې یا له نورو سره په ګده، په ښکاره یا په خصوصي توګه،د خپلې عقیدې یا دین په تدریس،عمل ،عبادت کولو او دیني مراسمو د اجراء کولو، آزادئ متضمن کوي).[1]

نولسمه ماده:

(هرڅوک دبیان او د عقیدې آزادی حق لري، پدې حق کې هغه آزادی شامله ده چې یې څوک له خپلې عقیدې او نظر درلودلو څخه ویره او اندیښنه ونلري،او د عقایدو او معلوماتو په پلټنه او لاس ته راوړنه کې د کوم برید او سرحد پرته آزاد وي).[2]

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هم د نړیوالې ټولنې د یو غړی په حیث یاده اعلامیه مراعات کړی او په خپلو قوانینو کې یې د عقیدې او بیان آزادی ته ځای ورکړی دی، البته یو څه حدود یې هم ورته مخ ته ایښي دي، پدې معنی چې یادې ازادیانې یې په مطلق ډول نه دی منلي، بلکي په مقید ډول یې منلی دی او شرایط یې ورته ایښي دي، چې دا موضوع د افغانستان د اساسي قانون په څلوردیرشمه ماده کې په لاندې ډول ذکر کړی دی.

د افغانستان د اساسي قانون څلوردیرشمه ماده:

(د بیان آزادي له تیري څخه خوندي ده ،هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعایت څرګند کړي. هر افغان حق لري

---

[1]-د بشر دحقوقو نړیوالی اعلامي ۱۸ ماده.
[2]- د بشر د حقوقو نړیوالی اعلامیې ۱۹ ماده.

د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښيي، خپاره او نشر کړی.)[1]

دا چې د افغانستان قوانينو د بيان د آزادی لپاره کوم حدود ټاکلی دی ، لمړی يې په اساسي قانون کې ګورو او بيا د رسنيو قانون ته مراجعه کوو.

## لمړی- اساسي قانون:

د هر څه څخه مخکې د دې خبری يادونه ضرروي ده، چې د افغانستان اساسي قانون لمړی درې مادی بالخصوص دريمه ماده د افغانستان د نورو قوانينو لپاره داسې چوکاټ ايښی دی چې هيڅ قانون په افغانستان کې د اسلامي شريعت خلاف نه شي واقع کيدای ، او که جوړ شي نو هغه د اساسي قانون په اساس لغوه او باطل دی، د افغانستان د اساسي قانون دريمه ماده داسې صراحت لري:

درېيمه ماده:

(په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپيڅلی دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي)[2].

نو د اساسي قانون د دريمې مادې څخه معلوميږي ، چې د بيان آزادی په افغانستان کې محدوده ده ، نه دا چې مطلقه ، او هغه دا چې د بيان آزادی به د اسلامي شريعت مخالف نه وي بلکې د اسلامي شريعت د حدودو په چوکاټ کې به وي.

## دوهم- د رسنيو قانون:

د افغانستان د اساسي قانون په څير د ټوليزو رسنيو قانون هم د بيان آزادی ته حدود ټاکلی دی، او هيڅوک نشي کولای چې ياد حدود مات کړی ، چې په لاندې ډول ترينه يادونه کوو.

د رسنيو قانون په ۱۵ ماده کې د بيان د آزادی په هکله داسې وضاحت شوی دی:

پنځلسمه ماده:

---

[1]- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د عدليې وزارت رسمي جريده، د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲ ه ش کال، پرله پسې ګڼه (۸۱۸) څلورديرشمه ماده.
[2]- د افغانستان اساسی قانون، دريمه ماده.

(د ملي راډیو تلویزیون اداره مکلفه ده ، خپلې خپرونې د اسلام د مبین دین دحکمونو او اصولو په رڼا کې د افغانستان د ملت له ملي او معنوي ارزښتونو سره سمې عیاري کړی، او په خپلو خپرونو کې خبر رسونه او دیني ، علمي ، فرهنګي ، او اقتصادي ښوونې او رواني او اخلاقي امنیت تعمیمول په پام کې ونیسي).

همدارنګه د رسنیو قانون په خپله (۴۵) ماده کې هغه مطالب ذکر کړی دی چې نشرول یې منع دی، یاده ماده په لاندې ډول ده.

پنځه څلویښتمه ماده:

د دغه قانون په اوو ویشتمه ماده کې په درج شوو ټولیزو رسنیو او مؤسیسو کې د لاندنیو رپوټونو او مطالبوتولیدول، تکثیرولو چاپول او نشرول جواز نلري.

۱--هغه آثار او مطالب چې د اسلام د سپیڅلي دین له حکمونو او اصولو سره په ټوپیر کې وي.

۲-- هغه آثار او مطالب چې نورو ادیانو او مذهبونو ته د سپکاوي لامل وګرځي.

۳-- هغه آثار او مطالب چط د حقیقي او حکمی اشخاصو د سپکاوي ، تحقیر، او دهتک حرمت لامل شي.

۴-- هغه آثار او مطالب چې پر حقیقي او حکمي اشخاصو افترا وي او دهغوی شخصیت او اعتبار په ټولنه کې زیانمن کړي.

۵-- هغه آثار او مطالب چې له اساسي قانون سره توپیر ولري او دجزا په قانون کې جرم و ګڼل شي.

۶-- پرته د اسلام له سپیڅلي دین څخه د نورو دینونو تبلیغول او ترویجول.

۷-- د تاوتریخوالی او د تیري د قربانیانو د هویت او د تصویرونو څرګندول په داسې ډول چې ټولنیز حیثیت یې زیانمن شي.

۸-- هغه آثار او مطالب چې د ټولنې د افرادو او په ځانګړي توګه د ماشومانو او تنکیو ځوانانو رواني امنیت او اخلاقي سلامتیا زیانمنوي.

که مونږ د اساسي قانون او په همدې شکل د رسنیو قانون پورته مادو ته وګورو نو دا خبره په وضاحت سره معلومیږي چې په افغانستان کې رسنۍ او د بیان آزادی داسې مطلقه نه ده لکه څرنګه چې رسني ورڅخه غلطه استفاده کوي، په اساسي قانون او درسنیو په قانون کې په واضح شکل سره داخبره

شوی ده چې ټولی هغه خپروني چې د اسلام مبارک دین سره په ټکر کې وي او ټولنه او بالخصوص تنکي ځوانان بد اخلاقی طرف ته بیایي ، منع او جرم ګڼل شوی دي، ولي مونږ ګورو چې اکثریت رسنۍ دا حدود نه مراعات کوي او هغه څه خپروي کوم چې په واضح ډول د اسلام د مبین دین سره په ټکر کی دی او هم د افغانستان د نافذه قوانینو سره په ټکر کی دی.

که یاد حالت په همدې شکل دوام وکړی، کوم چې د غرب غوښتنه ده ، نو یقیناً چې ډیری تنکي ځوانان به له لاسه ورکړو او ډیرځوانان به مو په بد اخلاقیو کې ډوب شي چې له یو طرفه به خپلې کورنۍ او له بل طرفه به ټولنه بد بختیو طرف ته روانه کړی، چې ستر لامل یې د حکومت غفلت او نه توجه ده.

## دریم مطلب- ایا د نورو مذاهبو پیروان خپل دین ته دعوت او یا د خپل دین تعلیم نورو خلکو ته ورکولی شي؟

دا چې د الله تعالی په وړاندې یواځیني دین د اسلام مبارک دین دی لکه الله تعالی چې فرمایي:

**(اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ )**[1]

ژباړه: بی شکه د الله تعالی په وړاندی یواځیني درست دین هغه د اسلام مبارک دین دی.

نو په همدې اساس په دارالاسلام کې به یواځې د اسلام مبارک دین دعوت، تبلیغ او تعلیم ترسره کیږي، او د نورو ادیانو پیروانو ته په دارالاسلام کې همدومره ازادي شته دی چې هغوی کولای شي چې په خپل دین باندی پاتی شی، څوک یې په جبر او زور سره اسلام ته رابللی نشي، او په همدې شکل هغوي د خپل دین مطابق عبادات ترسره کولای شی او په شخصي احوالو کې هم هغوی ازاد دي، ولي د خپل باطل دین تبلیغ او یا تعلیم خلکو ته نشي ورکولای ، ځکه د دې په وجه په ټولنه کې فساد او ګډوډۍ ته زمینه برابریږي، او اسلام د فساد او باطل ادیانو ته په دعوت او تبلیغ باندی چاته اجازه نشي ورکولای، نو په خلص ډول ویلی شو، لکه څرنګه چې اسلام ذمیانو ته د خپل دیني مراسمو ازادی ورکړی ده ، په همدې شکل د افغانستان قوانینو هم ورته ازادی ورکړی ده ، او د دي څخه علاوه په کوم بل حق ورته قایل نه دي.

---

[1] - سورة ال عمران ، ۱۹ آیت.

## دريم مبحث- د اسلامي شريعت له نظره د عقيدې فکر او د بيان ازادی.

په دې مبحث کې پدې باندې بحث کوو چې د اسلامي شريعت دريځ د عقيدې، فکر او د بيان د آزادی په هکله څه دی، چې هر يو جدا جدا تر بحث لاندې نيسو.

## لمړيم مطلب- د اسلامی شريعت له نظره د عقيدی او فکر ازادي.

که د ديموکراسی او د بشر د حقوق تش په نامه طرفداران نن د عقيدې او فکر د آزادی خبري کوي، نو د اسلام مبارک دين د نن نه څوارلس سوه کاله پخوا دا حق انسان ته ورکړی دی چې د خپل عقل او قناعت په رڼا کې د خپل ځان لپاره د ژوند لاره انتخاب کړي، هر شخص د خپلې عقيدې او فکر په ټاکلو کې خودمختاره دی، که هغه يهودی دی او که نصراني، که هندو دی او که سک او يا په کوم بل دين، خوښه يې ده که اسلام من حيث دين او د ژوند نظام د خپل ځان لپاره قبلوي او که نه کوم بل دين او فکر، انسان ازاد دی ، د همدغې آزادی په اساس د ځان لپاره د ژوند نظام او لاره انتخابوي، هيڅوک دا حق نلري چې په يو چا باندې په جبر سره د اسلام دين ومني، دا عمل په اسلام کې منعه ګرځول شوی دی.

دا د اسلام پيغام دی د عقيدی او فکر د آزادی په هکله، پداسې حال کې چې د اروپا په منځنيو پيړيو کې په اندلس کی ډيری مسلمانان پدی وجه شکنجه کيدل چې ولی مسيحت نه قبلوي ،او دا به ورته ويل کيدل چې يا مسيحت قبول کړی او يا به وژل کيږی، چې د همدغه وحشت په اساس په لکونو مسلمانان د اندلس ( اوسنی (Spain)) څخه مهاجر شول، دا هغه وخت ؤ چې اروپا د کليسا او قيصر په ظلم کې ګير وه او د جهالت شپې يې سبا کولی، ولی د رسانس او پرمختګ په دوره کې د دوي عقل سر ته راغی او دا خبره يې ومنله چې بايد بشريت ته د دين ، فکر او بيان ازادی ورکړای شي، نو په همدې اساس يې د دوهم نړيوال جنګ نه وروسته په ۱۹۴۸ کال د دسمبر په ۱۰ نيټه د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه رامنځته کړه او د دين ، فکر او بيان آزاديو ته يې پکې ځای ورکړ.

دا چې د عقيدې او فکر موضوع د زړه پورې تړاو لري، نو په همدې وجه څوک په زړه باندی جبر نشي کولای چې د يوې عقيدې څخه يې واړوي او بله عقيده ورباندې ومني، ځکه دا کار ممکن نه دی،او دا ځکه چې که يو څوک په يو چاباندې په زوره اسلام ومني ولي د هغه زړه پری مطمیين نه وي ، نو دا اسلام خو د الله په وړاندی قبول نه دی ، اسلام خو هغه دی چې لمړی يو شخص په الله او په ورځ د آخرت باندی د زړه له تله ايمان ولري او بيا د همدغې ايمان په اساس الله ته په عملي ژوند کې تسليم شي ، دغې ته مسلمان وايي ، او که يو څوک د زړه نه په الله او په ورځ د آخرت ايمان ونه لري، ولی د

زور او یا ویري په اساس د اسلام کلمه ووایي ، نو دا خو بیا مسلمان نه شو ، دې ته خو په اسلاي قاموس کې منافق وایي ، چې انجام یې د کافر څخه هم بدتر دی، نو په همدې اساس اسلام د منافقینو په تعداد کې زیاتوالی راوستل هدف نه دی، بلکې د مخلصو مؤمنانو زیاتوالی غواړی چې د زړه له تله اسلام قبول کړی او الله ته تسلیم شي.

په همدې اساس د اسلام مبارک دین خپل پیروان د دی څخه منعه کړی دی چې پر یو چا باندې په جبر سره د اسلام دین ومني، پدې اړه لاندې قرآني آیاتونه د دلیل په حیث راوړو.

الله تعالی فرمایي:

**(لا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنْ الغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ)[1]**

ژباړه:

ددین په چارو کښې څه زور او مجبورول نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شویده اوس چې څوك له کوم طاغوت نه منکر شي او پر الله ایمان راوړي هغه یوه داسې کلکه اسره ونیوله، چې هېڅکله ماتېدونکی نه ده، او الله (چې هغه خپله اسره نیولی) د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی.

په همدې شکل که الله غوښتلی وای نو د ځمکي په سر چې څومره انسانان اوسیږي ، هغه ټول به یې مسلمانان ګرځولی وای، خو الله تعالی دا کار ونکړو، او په دې کې یې خپل حکمت دی، او هغه دا چې انسانانو ته یې د خپل سرنوشت او د ژوند د تګلاری ټاکلو اختیار ورکړی دی، پدې هکله الله تعالی فرمایي:

**(وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لآمَنَ مَنْ فِي الأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعاً أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ)[2]**

[1]- د سورة بقرى ۲۵۶ آیت.
[2]- د سورة یونس ۹۹ آیت.

که ستا درب اراده دا وای (چې په ځمکه کښې دې ټول مؤمنان او فرمانبردار اوسي) نو د ځمکې ټولو اوسېدونکو به ایمان راوړی وای. نو ایا ته خلك مجبور وې چې ایمان راوړي؟

په همدې شکل الله تعالی انسان ته د ایمان راړولو او کفرد انتخاب حق ورکړی دی ، هلته چې الله تعالی فرمايي:

**(وَقُلْ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَاراً أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقاً).[1]**

ژباړه: په ډاګه ووایه چې دغه حق دی ستاسې درب له لوري، اوس که د چاړره غواړي ودې مني او که د چا زړه غواړي منکر دې شي مونږ د (انکار کوونکو) ظالمانو له پاره داسې یو اورتیار کړیدی چې د هغه پردو هغوی ایسار کړیدي هلته که هغوی اوبه وغواړي نو پداسې اوبو سره به د هغو غوښتنه وپالل شي چې د تیلو د ځوښا غوندې به وي او دهغو مخونه به وریت کړي، ډېر ناکاره څښاك او ډېر ناوړه استوګنځی

الله تعالی چې انسان ته د خپل ژوند د تګلارې انتخاب حق ورکړی دی ، نو ددې په خاطر یې ورته عقل، سترګې، غوږونه، بصیرت او پوهه هم ورکړی ده، که یو عاقل انسان د کايناتو دې نظم او خلقت ته وګوری او په دې کې فکر وکړي او خپل عقل او پوهه په کار راولي، نو انسان کې الله تعالی دا وړتیا ایښي ده چې هغه حق او باطل وپېژني او د حق لاره انتخاب کړي، پدې هکله الله تعالی فرمايي:

**(إِنَّا خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعاً بَصِيراً ، إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِراً وَإِمَّا كَفُوراً)[2]**

ژباړه:مونږ انسان له یوې ګډې شوې نطفې څخه پیدا کړ تر څو چې هغه وازمایو او د دې غرض لپاره مونږ هغه اوریدونکي او لیدونکي وګرځاوه ، مونږ هغه ته لاره وښودله، یابه شکر کوونکي شي او یا کفر کوونکی.

---

[1]- د سورة کهف ۲۹ آیت.
[2]- سورة انسان ۲ او ۳ ایتونه.

که قرآنکریم ته ژوره لیدنه وشي، نو دا خبره په ډاګه معلومیږي چې د اسلام مبارک دین د عقل او فکر په آزادی ټینګار کوي او هیڅوک یې د عقل او فکر کارولو څخه نه دی منعه کړی ، بلکې حتی انسانان یې هڅولي دي تر څو په کایناتو کې د خپل عقل او فکر څخه کار واخلي او خپل ځان ته حق معلوم کړي.

په همدې شکل په بل ځاې کې فرمایې:

**(يَا أَيُّهَا الإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ فِي أَيِّ صُورَةٍ مَا شَاءَ رَكَّبَكَ)** [1]

ژباړه: ای انسانه څه شي ته دخپل هغه مهربانه خداي له لوري په غولونه کښې واچولې، چې هغه ته پیدا کړي یې، ستااندامونه یې برابر کړي دي، ته یې په انډول جوړ کړي یې، اوپه هره بڼه یې چې خوښه شوه ته یې نښلولی جوړکړې؟

د دې څخه وروسته الله تعالی خپل پیغمبر مخاطب کوي او ورته وایې چې کوم خلک اسلام نه قبلوي ، ته د هغوي په هکله تشویش مه کوه او مه خفه کیږی، ته خو د هغوي پیره دار نه یې او نه دهغوي وکیل یې چې ټول به ارومرو د اسلام مبارک دین ته داخلوي، پدې هکله الله تعالی فرمایې:

**(وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكُوا وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيلٍ)** [2]

ژباړه: که د الله خوښه وای نو (هغه په خپله داسې لاره چاره برابرولی شوه چې) دا خلك مشرکان شوي نه وای، ته مونږ پر هغو پیره دارنه یې ټاکلی او نه ته پر هغو باندې مسلط ساتونکی یې.

په همدې شکل په سورة شوری کې الله تعالی فرمایې:

**(فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً إِنْ عَلَيْكَ إِلاَّ الْبَلاغُ وَإِنَّا إِذَا أَذَقْنَا الإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الإِنسَانَ كَفُورٌ)** [1]

---

[1]- د انفطار سورة ۶، ۷ او ۸ آیتونه.
[2]- د سورة انعام ۱۰۷ آیت.

ژباړه: اوس که دوی مخ اړوي نو ای پیغمبره، مونږ خوته پردوی دساتندوی په توګه نه یې لیږلی. پرتا خو صرف دخبرې رسولو مسولیت دی. دانسان داحال دی چې کله مونږ وربادنې دخپل رحمت خوند څکو نوپه دې خوښیږي، او که د دوی دخپلو لاسونو کړي بدعملونه دکوم مصیبت په بڼه کښې پردوي را اوړي نو انسان ډیر ناشکره کیږي.

همداراز په سورة نساء کې الله تعالی فرمایي:

**(مَنْ يُطِعْ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً)**[2]

ژباړه: چا چې د پیغمبر اطاعت وکړ هغه په اصل کښې د خدای اطاعت وکړ او چاچې مخ واړوه، نو په هر صورت مونږ پردې خلکو ته د څارونکي او ساتونکي په توګه نه یې لیږلی.

او دې ته ورته نور ډیر آیاتونه راغلی دی چې الله تعالی خپل پیغمبر ته له یوه طرفه ډاډ ورکوي، چې ای پیغمبره! ستا کار د دین رسول دي نه په خلکو خامخا منل، بلکې تاسو خپله وظیفه ترسره کړی ده، او له بل طرفه ورته وایې د دعوت او تبلیغ په نه منلو خفه کیږه مه، ته خو په هغوی باندی پیره دار او ساتونکی نه یې مقرر شوی چې خامخا به یې د دوزخ څخه منعه کوي، بلکې ته خو مبلغ او رسوونکی یې.

د اسلام مبارک دین د ویری ، دهشت، ترور ، زور او اکراه دین نه دی، چې په خلکو به په زور او اکراه سره منل کیږي، بلکې د آسانی او قناعت دین دی، چې اساس او بنیاد یې په عقل ، قناعت او بصیرت سره اینودل شوی دی، داسی قناعت چې د مناقشې، مرکې، آزاد تعبیر، او منطقي جدال په اساس صورت نیسي، د اسلامي شریعت همدغه تګلاره ده او په همدغې تګلاره یې تأکید کړی دی او خپل پیغمبراو عام مسلمانانو ته یې امر کړی دی چې نور خلک په پوره حکمت او غوره دعوت سره اسلام ته راوبولی، پدې هکله الله تعالی فرمایي:

**(ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ)**[1]

---

[1]- د شوری سورة ۴۸ آیت.
[2]- د سورة نساء ۸۰ آیت.

ژباړه: ای پیغمبره صلی الله علیه واله وسلم، د خپل رب د لارې لوري ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه، او له خلکو سره په داسي ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي. ستا پروردگار ډېر ښه پوهیږي چې څوك د هغه له لارې نه اووښتی دی او څوك پر سمه لاره برابر دی.

همدارنگه د اهل کتابو سره د بحث په اړه فرمايي:

(وَلا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلاَّ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلاَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَأُنْزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَهُنَا وَإِلَهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ)[2]

ژباړه: او له اهل کتابوسره بحث مکوئ مگر په غوره ډول پرته له هغو خلکو چې له هغو څخه ظالمان وي او هغوته ووایئ چې مونږ ایمان راوړیدی په هغه کتاب باندې هم چې مونږ ته لیږل شویدی او په هغه کتاب باندې هم چې تاسي ته لیږل شوی ؤ. زمونږ خدای او ستاسي خدای ایکی یودی او مونږ د هماغه مسلمانان (فرمان منونکي) یو.

د پورته نصوصو په رڼا کې په واضح شکل سره لیدل کیږي چې اسلام د عقیدې او فکر د آزادی قایل دی او هرشخص ته یې د دې اختیار ورکړی دی چې د خپل قناعت په رڼا کې د خپل ځان لپاره دین او دژوند نظام انتخاب کړی، اوس سوال دا دی چې که یو څوک د اسلام د منلو څخه وروسته بل دین ته اوړی، پدې هکله د اسلام دریځ څه دی، نو د دې لپاره چې دا موضوع ښه روښانه شي ، لمړی به په قرآن کې د ارتداد په اړه آیاتونو ته مراجعه وکړو او بیا به په سنتو کې وگورو چې په دې اړه څه وايي.

## لمړی جز- په قرآن کې د مرتد جزا:

په قرآنکریم کې چې کوم آیاتونه راغلی دي، په هغو ټولو کې د مرتد لپاره اخروي جزا بیان شوې ده، په دنیا کې ورته کومه جزا نه ده بیان شوی، په دنیا کې چې کوم وعید ورته راغلی دی، هغه د الله لخوا پری لعنت او غضب راغلی دی، او په آخرت کې ورته د سخت او لوی عذاب وعید بیان شوی دی، د قرآنکریم په محکمو آیتونو کې راغلي دي چې څوک د اسلام له دین څخه مرتد شو او بیا په کفر له زړه نه ډاډه او مطمین شو، دهغه لپاره په آخرت کې سخته او شدیده سزا بیان شوی ده، البته دغه سزا د هغه چا لپاره نه ده چې د زور او اکراه په وجه په ژبه سره د اسلام څخه وگرځي خو زړه یې د اسلام په

---

[1]- د نحل سورة ۱۲۵ آیت.
[2]- د عنکبوت سورة ۴۶ آیت.

مبارک دین باندې مطمین او ټینګ وي، ولی د ویری له کبله په ژبه د کفر اقرار وکړی، لکه الله تعالی چې فرمایي:

(مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ وَلَكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْراً فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنْ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ)[1]

ژباړه : څوك چې له ایمان راوړلو وروسته كافر شي (هغه كه) مجبوركړای شوي وي او زړه يې پر ایمان ډاډه وي (نوبیا خوخیردی) خو چا چې په خوښۍ سره کفر ومانه پر هغه د الله غضب دی او د ټولو دغسي خلكو لپاره ستر عذاب دی.

همدارنګه د سورة بقرې په ۲۱۷ آیت کې فرمایي:

(وَلا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنْ اسْتَطَاعُوا وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ)[2]

ژباړه: هغوی به له تاسې سره تل په جنګ اخته وي آن تر دې چې كه يې وسه ورسېږي، نو تاسې به له دې دین نه واړوي (او په دې بنه پوه شئ) له تاسې نه چې هر څوك له دې دین نه واوړي او د كفر په حالت كښې ومري، د هغه عملونه به په دنیا او اخرت دواړو كښې بابېزه او ضایع شي داسې خلك ټول دوزخیان دي او تل به په دوزخ كښې اوسېږي.

په همدې شکل د فاطر سورة په ۳۹ آیت کې الله تعالی فرمایي:

(هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلائِفَ فِي الأَرْضِ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ وَلا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ إِلاَّ مَقْتاً وَلا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلاَّ خَسَاراً)[3]

---

[1]- د نحل سورة ۱۰۶ آیت.
[2]- سورة بقره ۲۱۷ آیت.
[3]- د فاطر سورة ۳۹ ایت.

ژباړه: هماغه ذات دی چې تاسې يې په ځمکه کښې خلفاء ګرځولي ئي. اوس چې هرڅوك كافر كيږي دهغه دكفر وبال پرهمغه دی، او كافرانوته دهغو كفر له دې پرته بل هېڅ پرمختګ نشي وركولای چې دهغو درب غضب پرهغو لازيات په تاو راځي. دكافرانو لپاره دزيان له زياتېدو پرته نورڅه پرمختګ نشته.

دې ته ورته د روم سورة په ۴۴ آيت كې فرمايي:

(مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحاً فَلأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ)[1]

ژباړه: څوك چې كافرشويدی د هغه د كفر وبال پرهمغه باندې دی او كومو خلكو چې نيك عمل كړيدی. هغوی د خپل ځان لپاره په (( جنت كې) ) ځايونه برابروي.

همداراز په سورة لقمان كې الله تعالی خپل پيغمبرته وايي:

(وَمَنْ كَفَرَ فَلا يَحْزُنْكَ كُفْرُهُ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلاً ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَى عَذَابٍ غَلِيظٍ)[2]

ژباړه: اوس چې څوك كافر كيږي نو دهغه كفر دې تاپه خفګان كې وانه چوي، د هغو بېرته راتګ همدازمونږپه لوري دی، بيا به مونږهغوته و ښيوچې هغوی له څه عمل سره راغلي دي. په باوري ډول الله آن د سينو په پټو رازونو باندې پوهيږي. مونږدلږوخت له پاره هغوته په دنياكې د خوند اخيستلو موقع وركوو، بيا به هغوی بېوسې كړو ديو سخت عذاب لوري ته به يې راكاږو.

په همدې شكل د مايدې سورة په ۵۴ آيت كې فرمايي:

[1]- د روم سورة ۴۴ آيت.
[2]- د لقمان سورة ۲۳ آيت.

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لائِمٍ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ)**[1]

ژباړه : ای مؤمنانو ! كه له تاسي نه څوك له خپل دين نه واوړي (نو وادې وړي) الله به نور ډير داسي خلك پيدا كړي چې الله ته گران وي او الله هغوی ته گران وي، چې له مؤمنانو سره به نرمي كوي او پر كافرانو سختي، چې د الله په لار كښې به جدوجهد وكړي او د هېڅ ملامتوونكي له پېغور اچولو نه ونه وېرېږي. دا د الله فضل دی چاته يې چې خوښه شي وركړه برخه كوي يې الله د پراخه وسايلو څښتن او پر هر څه پوهېږي.

د پورته آيتونو څخه په واضح ډول د عقيدې او فكر آزادی څرگنده شوه ، او د مرتد لپاره چې كومه سزا بيان شوی ده هغه د آخرت سخت عذاب دی.

### دوهم جز- د مرتد جزا په احاديثو كې:

دا چې د قرآني آيتونو څخه څرگنده شوه چې د مرتد لپاره په آخرت كې د سخت او شديد عذاب ذكر شوی دی، ولي مونږ گورو چې د نبي عليه الصلاة والسلام په مبارک حديث كې د مرتد لپاره د قتل حد[2] ټاكل شوی دی، سره د دې چې دغه سزا په قرآن كې نه ده راغلی او نه كوم قرآني نص په دنيا كې د مرتد سزا ته اشاره كړی ده.

پدې هكله چې كومه څېړنه دوكتور مصطفی نيازي په خپل كتاب (د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه د اسلام په رڼا كې) كې كړی ده هغه ستاسو مخ ته ږدم، هغه ليكي:

اوس به ديته راشوچې په سنتو كې ولې د مرتد سزا د وژنې حد ټاكل شوی دی، سره د دې چې دغه سزا په قرآن كې نده راغلی، او نه كوم قرآني نص په دنيا كې د مرتد سزا ته اشاره كړيده، ددې څخه

---

[1]- د مايده سورة ۵۴ آيت.

[2]- حد په لغت كې منعی ته وايې او په اصطلاح كې حد د احنافو په نزد د هغه ټاكل شوو جزاگانو څخه عبارت دی چې د الله د حقوقو پخاطر تطبيق كيږي. او د جمهور فقهاؤ په نزد حد د هغه ټاكل شوو جزاگانو څخه عبارت دی چې د الله او بندگانو د حقوقو لپاره تطبيق كيږی.
د حد سزاگانې په قرآن كې څلور ذكر شوی دي چې هغه عبارت دی له د زنا حد، د قذف حد، د سرقت د حد ، د حرابت يا قطاع الطريق حد، ولي په احاديثو كې د شرابو او ردت حدود هم ذكر شوی دی .

داسې جوتيږي چې د اسلام منطق او فلسفه د فرد ديني آزادۍ نه مقيد وي، بلکې دا (د ردت حد يا د مرتد وژل) د اسلام د لومړی وخت د پېښو او واقعاتو سره سمون خوري، هغه مهال د اسلام پرضد يهودانو دسيسي او توطييي جوړولې ، دوې په داسې مهال مديني منورې ته مخه کړی وه چې د هغه ښار ګوټې اوسيدونکو ټولو اسلام منلی وو، په دې وخت کې دوی د مسلمانانو د پلانونو د خنثی کولو لپاره بيلا بيلې دسيسي او توطييي جوړولی، يو شمير به يې په اسلام کې داخل شول بيا به بيرته ورڅخه وګرځيدل ترڅو نور مسلمانان په شک کې واچوې په تيره بيا هغه مسلمانان چې نوی به يې اسلام منلی ؤ، او هغوی ته د خپلو معتقداتو په اړوند شکونه پيداکړی، د دې سربيره به يې د مسلمانانو له حالاتو څخه ځانونه خبر کړل او دهغو پټ ځايونه به يې ښه په نښه کړل او بيا به يې دښمن ته دغه معلومات ورکړل، يهودانو يوائې په دې بسنه نه کوله چې خپلې دسيسې او توطييې د مسلمانانو په تيره بيا د کمزورو د ګمراهې لپاره وکاروي ، بلکې يوه ډله پدې متفق شول چې د ورځې په لمړيو وختونو کې به د ايمان اظهار کوي، د مسلمانانو سره به د سهار لمونځ اداء کوي ، خو د ورځې په پای کې به بيرته د دغه دين څخه ګرځي، د دې په هکله قرانکريم داسې ارشاد فرمايلی دی:

(وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي أُنْزِلَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوا آخِرَهُ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ)[1]

ژباړه: له اهل کتابو نه يوه ډله وايي چې ددې پيغمبر پر منونکيو چې څه نازل شويدي پر هغه سهار ايمان راوړئ او ماښام ورڅخه انکار وکړئ، ښايي پر دې دسيسه داخلك له خپل ايمان نه واوړي.

د منافقانو په هکله الله تعالی پخپل کتاب کی داسې فرمايل دی:

(وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلاً)[2]

---

[1] - د آلعمران سورة ۷۲ آيت.
[2] - د نساء سورة ۸۱ آيت.

ژباړه: هغو ی په خوله وايي چې مونږ فرمانبردار يو ؛ خو کله چې ستا له څنګ نه لرې کيږئ نو د هغو يوه ډله د شپې له مخې راټولېږي ستا د خبرو پر خلاف مشورې کوي ،الله د هغو داټولې پټې مشورې ليکي، ته د هغو پروا مه کوه اوپرالله توکل وکړه،او الله دساتونکی په توګه کافي دي.

په دې اساس د سپيڅلو سنتو پر وړاندی د دغسي دسيسو د شنډولو بله لاره هغه مهال نه وه په تيره بيا چې يهودو د دغو دسيسو په پلي کولو سره غوښتل اسلامي دولت په بشپړه توګه ختم کړی او جرړی له بيخه وباسي، او اسلامي دولت په دې وخت کی نوی راټوکيدلی ؤ نو د دغسې خاينانو د توطييو د شنډولو بله لاره نه وه پرته له دينه چې د دوې لپاره سخته سزا او عقوبت وټاکي، او ټينګار يې وکړ چې څوک اسلام ومني دی بيا نشي کولای د هغه څخه بيرته وګرځي ، له دې څخه دا څرګنده شوه چې هيچاته پکار نه ده چې مخکې لدينه چې اسلام په صحيح توګه مطالعه کړي په عقلي او علمي ډول د هغه څيړنه وکړي هغه ومني، ځکه د دغسي مطالعې څخه به وروسته دايمې او تلپاتې عقيده ومني، او هم به په دې سره د ګمراهانو او دسيسه اچوونکو توطييې شنډې شې ، دوی به د شومو اغراضو د پلی کولو پخاطر د اسلام په دين کې نه داخليږي، ځکه له هغې سختې سزا څخه به ويريږي، د دې سربيره دغه سخته سزا به په ځمکه کي د فساد خپرولومخه ونيسي او هغو به پر نيږدي چې په ځمکه کې فساد او فتنه راولي.

له بلې خوا که مونږ لږ غونډې فکر او سوچ وکړو نو معلومه به شي چې د اسلامي دولت پلازمينه – مدينه منوره – د محمد صلی الله عليه وسلم او د ده د راشدينو خلفاؤ پر مهال په داسې حالت کي قرار لرل چې د دښمنانو سره په سخت جنګ لګياؤ، او دغه جنګ د عربو مشرکانو او يهودو پرضد ؤ، او د دوی څخه وروسته د فارس او روم سره په جګړه لګياؤ، نو د دې وضعيت څخه داسې جوتيږي چې که مسلمان د خپل دين څخه ګرځي او ارتداد اختياروي نو دا د ملت او هيواد سره ستر خيانت ؤ، او د ملت او هيواد سره خيانت اوسمهال هم دغسې سزاګانې لري، له دې څخه د دغسې سترو سزاګانو اهميت په ډاګه کيږي، د دې سربيره دغسې حکم په مرتد پلې کيدل دعقيدې د آزدی سره په ټکر که نه دی، بلکې دغه سزاګانې د دوې د سترخيانت چې د هيواد او ملت او دولت په مقابل کی کړی دهغوی په مقابل کی دی، له بلی خوا دغسې خاينان غواړي د اسلامي دولت جرړي له بيخه وباسي، په ځمکه کی فساد خپور کړی ، نسلونه او فصلونه تباه کړی، او هم د دې سره سره د دښمنانو سره د هغوی د توطيو په پلی کولو کې مرسته وکړي، الله تعالی فرمايي:

**(وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ)[1]**

ژباړه: فتنه له قتل یا وژني نه ډیره بده ده.

نو دا چې د ردت قضیه او د هغې حکم په پیل د اسلام کې رامنځته شو او سنتو کی د هغې حکم څرګند شوی خو په قران کې داسې نص نه دی راغلی چې د ردت د نیوې سزا معلومه کړی، او سبب د مشروعیت یې د هغه مهال د یهودواو منافقانو دسیسې وې چې د مسلمانانو پر ضد به یې جوړولی، خو په دې کی هم د علماؤ ترمنځ هیڅ اختلاف نشته چې د ردت سزا د قتل او وژنی حد دی، اوس پوښتنه دا راولاړیږي چې ایا په معاصر وخت کی دغه سزا په مرتد پلی کیدای شي؟

د دې په ځواب کی باید ووایو چې دغه مسله د یوشمیر علماؤ او مفکرینو مخ ته راځي، او هم هغوی ته دغه مسله وړاندی کیږي، د دوی ګڼ شمیر د جمهور علماؤ په نظر دی او وایي چې مسلمان کله مرتد شي نو د هغه سزا قتل او وژل دی، دوی وایي مسلمان چی کله مرتد شي او بیا ورته د توبې ایستلو وړاندیز وشي خو د دې سره سره توبه ونه باسي او هم د اکراه او جبر څه لاملونه هم نه وي نو دغه سړی به وژلی کیږي.

دوی په دې حدیث د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دلیل نیولی هغه مبارک فرمایلی دي: **( من بدل دینه فاقتلوه)[2]**

ځینی بیا دا سوال مطرح کوي چې د هغه مرتد حکم به څنګه وي چې د دښمنانو په صف کی نه ودریږي، او هم د مسلمانانو پر ضد دسیسې نه جوړوي، او اسلام څخه یې وتل په مسالمت ایزه ډول وی، د هیواد مصالحو ته په کې هیڅ زیان نه وي، او الله پاک به په آخرت کی ورسره محاسبه کوي لکه څرنګه چې په قرآنکریم کی راغلی دي، ایا په دغسې شخص حد قایمیدلای شی، او که یې وژنه درسته نه ده، ځکه د دغه قسم ردت لکه یو شمیر کسان چې وایې په احادیثو سره نه شی ثابتیدلای، ځکه چې د محمد صلی الله

---

[1] - دبقری سورة ۱۹۱آیت.

[2] - صحیح البخاری، څلورم باب، جلد پنځم ، صفحه ۶۱، حدیث شمیره ۱۷۲۷۰، حدیث صحیح.
د ښځې په هکله علماء بیا یو له بله اختلاف لري امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په دی اند دی چې که ښځه مرتده شی نو دا نه وژلی کیږی، بلکی بندی کیږي به، او هره ورځ به د زندان څخه ایستلی کیږی، د توبې ایستلو وړاندیز به ورته کیږی، او دغه عمل به تر هغه پوری ورسره کیږی، ترڅو چې دا توبه وباسي، او یا هم په خپل مرګ مړه شی، نوموړی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغی نص دلیل نیولی چې د ښځې له وژنی څخه یې منعه کړی ، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم دسپین ږیرو، ښځو او ماشومانو له وژلو څخه منعه وکړه، کله چې ده مبارک یوه ښځه پداسی حالت کی ولیده چې هغه چا وژلی وه نو ویې ویل: ( دا د دې وړ نه ده چې چا وژلی وای،) مګر جمهور علماء بیا پدی نظر دی چې د ښځې سزا د سړی په څیر ده هیڅ فرق نه لري، دوی وایې د ردت ناوړه پایلی او ضررونه د سړی او ښځې دواړه یو شانته دی، وګوره فقه السنة مخ ۴۵۶.

علیه وسلم او خلفاء راشدینو په وخت کی حالات د اوس په پرتله مختلف ؤ ، ځکه هغه مهال به یو شمیر یهودان او منافقین په اسلام کی په دې غرض داخلیدل چید مسلمانانو حالات معلوم کړی او دهغوی جاسوسي وکړي د خپل هدف د پوره کیدو څخه به وروسته بیرته خپل دین ته وګرځید.

پدې هکله یو شمیر علماء پدې اند دی چی هغه مرتد چې اسلام او مسلمانانو ته ضرر نه رسوي د هغه وژل صحیح نه دی، داسې هم ویل کیږي، چې دغو علماؤ خپله رایه د پخوانیو علماؤ له نظریاتو څخه کشف کړی دی لکه ابن القیم، سرخسي او داسې نور، ګڼ شمیر معاصر علماؤ هم دغه نظر تایید کړی دی لکه شیخ محمد عبده، دوی وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم چی کله مکې ته داخل شو نو یو شمیر هغو کسانو ته یې عفوه وکړه چې د قتل ژمنه یې ورسره کړی وه لکه عبدالله بن ابی سرح، نوموړی د اسلام څخه ګرځیدلی ؤ حال دا چی دی یو له لیکوالانو د وحې څخه ؤ، عثمان رضی الله عنه د ده سپاربنت وکاوه، خو دوو نورو ته یې ببنه ونکړه، هغه پدې بنیاد چې ردت یو تعیزیری جرم دی ځکه په حدودو کی سپاربنتنه صحیح نه ده، یو شمیر نورو بیا په بل حدیث دلیل نیولی چی د دوی له انده هغه ردت دی، پدې حدیث کی راغلی چی یو سړی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی، او هغه ته یې وویل : ای محمده! ته د رعیت په هکله له عدالت نه کار نه اخلی، او نه په تقسیم کی انصاف مراعات کوی، دا هغه مهال ؤ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې غزوي –جنګ- فی تقسیمول، فقهاؤ ویلی دی چی دغه سړی کومی خبری وکړی هغه ردت ؤ ، ځکه ده دغه خبری مخامخ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړی ، دغی خبری عمر رضی الله عنه په غصه کړ او د هغه د وژنې قصد یې وکړ، په دې مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته وویل: زه دا خوښه نه ګڼم چی څوک ووایي محمد خپل ملګر وژني، عمر رضی الله عنه وروسته په دې بسنه وکړه چې هغه یې وشړه، دا راز ابوبکر رضی الله عنه کړنه چې مرتدین یې ووژل ځکه د اسلامي دولت څخه یې انکار کړی وو او اسلامي کیان ته یې خطر متوجه کړی ؤ نو د ابوبکر دغه عمل سیاسي ؤ نه دیني. [1]

## دوهم مطلب- د اسلامی شریعت له نظره د بیان ازادي.

د بیان د ازادی څخه هدف او مفهوم دا دی چې هر شخص د خپل فهم، عقیدې او فکر په اساس کولای شي چې خپل نظر ښکاره کړی، پیشنهادات وړاندی کړی، د هغه څه په اړه چې ورسره مخالف دی ، خپل مخالف نظر ښکاری کړی، او حتی کولای شي چې انتقادات پری وکړی، که دا مخالفت،

[1]- مصطفی نیازی، د اسلام په رڼا کی د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه، د پاڼې ګڼه: ۱۲۸ نه تر ۱۳۴ پوری ، د چاپ کال ۱۳۹۰ ه ش، د چاپ ځاي ، حکمت خپرندویه ټولنه جلال آباد د .

انتقادات او یا پیشنهادات په لیکلی بڼه وي، شفاهي وي، تصویري وي او یا په بله بڼه وي، دا شخص ازاد دی چې خپل نظر ښکاره کړی، دې ته وایې د بیان د ازادی حق.

دا چې د بیان د ازادی حق واضح شو اوس به د اسلام مبارک دین له نظره دا موضوع وڅیړو چې ایا د اسلام په مبارک دین کی دا حق منل شوی دی او که نه او که منل شوی دی په کومو حدودو سره منل شوی دی، چې دا موضوع په لاندی ډول د څیړنی لاندی نیسو:

د خپلی رایې، نظر، فکر او فهم د بیانولو او یا نورو ته د اورولو حق د اسلام مبارک دین له نظره د انسان د منل شوو او اساسي حقوقو له جملی څخه یو حق دی ، پدې شرط چې د نورو خلکو حقوقو ته زیان ونه رسوي او په کې د هیواد او خلکو مصلحت نغښتی وي.

ظلم، د مظلومو انسانانو وینی تویول، د خلکو مالونه په زوره اخستل، عامه او خاص ملکیتونه غصبول، د ټولنی او خلکو د حقوقو بی حرمتی، د دین، هیواد او خلکو ته ضرر رسول هغه ستر منکرات دی چې په هر مسلمان واجب ده چی د دې ناوړه کړنو مخه ونیسي، په اړه یې د خپلی رایې اظهار وکړی، په ښو امر وکړی او له بدو څخه منعه وکړی، د دغو منکراتو او ظلم مخه ونیسی، او دا هم پداسي ډول چې ټولني او امت ته په کې زیان ونه رسیږي، له هر راز شدت او سختی څخه به لری وي.

د نظر او رایې د بیانولو د صورتونو څخه چې په هر مسلمان باندې په فردي او اجتماعي شکل اداء کول واجب دی ، که هغه حاکم وی او که محکوم یو هم د امر بالمعروف او نهي عن المنکر موضوع ده، هغه چې انسان یې په اداء کولو سره د ثواب مستحق ګرځي او په پریښودلو سره یې ګناهکاریږي ، په دې شرط چې پرې قادر وي، پدې هکله ډیری نصوص شته دی چې دلته یې مونږ یو څو د نمونې په شکل ذکر کوو:

الله تعالی فرمایې:

﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَهُمْ مِنْهُمْ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمْ الْفَاسِقُونَ﴾[1]

[1]-د آل عمران سورة ، ۱۱۰ آیت.

ژباړه: اوس په نړۍ کښې هغه غوره ډله تاسې یاست چې د انسانانو د لارښودنې او اصلاح له پاره مینځ ته راوړل شوېده تاسې د نیکۍ امر کوئ او له بدیو منعه، او پر الله ایمان لرئ که دغو کتابیانو ایمان راوړی وای؛ نو دهمدوی له پاره ښه وه که څه هم په هغو کښې ځینې د ایمان خاوندان شته؛ خو ددوی زیاتره کسان له فرمان څخه سرغړوونکي دي.

په بل ځای کې فرمايي:

**(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنْكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمْ الْمُفْلِحُونَ)[1]**

ژباړه: په تاسې کښې باید څه خلك ارومرو داسې وي چې د نیکۍ لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بد و منع وکړي کوم خلك چې دا کار وکړي هماغوی به بریالي شي.

همدا راز فرمايي:

**(وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ سَيَرْحَمُهُمْ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ)[2]**

ژباړه: مؤمنان نارینه او مؤمنانې ښځې، داټول د یو بل دوستان دي، په ښو چارو امر او له بدیو نه منع کوي، لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت کوي دا هغه کسان دي چې پر هغو به د الله رحمت نازلیږي، بېشکه الله پر ټولو بر لاس اوحکیم دی .

او فرمايي:

**(التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنْ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرْ الْمُؤْمِنِينَ)[1]**

---

[1] -د آل عمران سورة ۱۰۴ آیت.
[2] -د توبې سورة ۷۱ آیت.

ژباړه: د الله لوري ته بیا بیا رجوع کوونکي، دهغه بندګی په ځای راوړونکي د هغه ثنا ستاینه ویونکي، د هغه په خاطر په ځمکه کښي ګرځېدونکي راګرځېدونکي، دهغه په وړاندې رکوع او سجده کوونکي، په نیکی حکم کوونکي، له بدی نه منع کوونکي، د الله د حدودو ساتونکي، (هغه مؤمنان همدغه شان وي چې له الله سره دراکړې ورکړې دا معامله سرته رسوي) او ای پېغمبره! دغو مؤمنانو ته زېری ورکړه.

په بل ځای کې د لقمان علیه السلام نصیحت خپل ځوی ته رانقلوي او فرمایې:

**(يَا بُنَيَّ أَقِمْ الصَّلاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنْ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُورِ)**[2]

ژباړه: زویکیه! لمونځ قایم کړه، په نیکۍ امر وکړه، له بدۍ نه منع وکړه اوهر مصیبت چې دربانديې راشي وربانديې صبر وکړه داهغه مهمې خبرې دې چې د هغو ډېرتاکید شوی دی.

همدارنګه فرمایې:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيداً)**[3]

ژباړه: ای مومنانو! له الله نه ووېرېږئ او سمه خبره کوئ.

د بیان لاره او طریقه به سوله ایزه وی او د هر راز شدت ،سختی ، ګواښ ،اکراه او جبر څخه به خوندې وي په زوره به څوک دیته نه اړ کوي چې ویې مني، ځکه په غوره او ښې طریقې سره دعوت کول هغه نیکي ده چې سپیڅلي دین پری امر کړی دی لکه الله تعالی چی فرمایې:

**(ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ)**[1]

---

[1]- دتوبې سورة ۱۱۲ آیت.
[2]-د لقمان سورة ۱۷ آیت.
[3]-د احزاب سورة ۷۰ آیت.

ژباړه: ای پیغمبره صلی الله علیه واله وسلم، د خپل رب د لارې لوري ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه، او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي. ستا پروردګار ډېر ښه پوهیږي چې څوك د هغه له لارې نه اووښتی دی او څوك پر سمه لاره برابر دی.

الله تعالی د هغو کسانو حکایت کوی چې هدایت او سمه لارښوونه له خلکو څخه په داسې حالت کې پټوي چې دوی پری ښه پوهیږي ، نو پداسی خلکو د الله لعنت دی ، الله تعالی فرمايي:

**(إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنْ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُوْلَئِكَ يَلْعَنُهُمْ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمْ اللاَّعِنُونَ).[2]**

ژباړه: کوم خلك چې زمونږ نازل شوې روښانه لارښودنې او هدايات پټوي په داسې حال کښې چې مونږ هغه د ټولو انسانانو د لارښودنې له پاره په خپل کتاب کښې بيان کړيدي، باور ولرئ چې الله هم وربانديې لعنت وايي او ټول لعنت ويونکي هم وربانديې لعنت وايي.

پورتني ټول آيتونه پدې دلالت کوي چې مسلمان بايد د خير داعي واوسي ، ټولنه او خلک د خير او نيکي طرف ته راوبولي ، او شر او منکراتو څخه يې وژغوري او د هغو منکراتو په وړاندی چې ټولنه او جامعه د تباهي طرف ته بيايې بايد چپ پاتی نه شي، او د خپل توان او قدرت مطابق بايد خپله وجيبه اداء کړی، په ټولنه کې چې کوم ظلم او زياتي روان وي بايد د هغې د مخنيوي لپاره هلي ځلي وکړی که هغه په قول سره وي او که په فعل سره وي ، که د وينا په شکل وي او که د تحرير په شکل خو بايد د خپل فکر او نظر په اساس د ټولني په اصلاح کی رول ولوبوي ، دا يې نه يوازې حق دی بلکې يوه ديني او ټولنيزه وجيبه همه ده، ځکه که په ټولنه کې ظلم او زياتي وي او ټولنه د تباهي طرف ته روانه وي ، نو د ټولني ترڅنګ به دا شخص هم د تباهي طرف ته ځي ، نو پدې اساس دا يوه ټولنيزه او شرعي وجيبه او مکلفيت دی، چې په ترسره کولو يې ثواب او په پريښودلو يې عذاب مرتب کيږي.

محمد صلی الله علیه وسلم چې دالله تر ټولو غوره بنده او مخلوق ؤ، بيايې هم د مسلمانانو مشورې ته غوږ نيو او دهغوی رايه او نظر به يې اخيسته، آن چې د هغوی څخه به يې د مشورې غوښتنه کوله،

---

[1]- د نحل سورة ۱۲۵ آيت.
[2]- د بقری سورة ۱۵۹ آيت.

الله تعالی خپل پیغمبر ته فرمايي او امر ورته کوي چې له مؤمنانو سره به له سخت زړه توب څخه کار نه اخلي بلکي له دوې سره به مشوره کوي ترڅو ورڅخه ونه تښتي، الله تعالی پدې هکله فرمايي:

**(فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنْ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ)[1]**

ژباړه: (ای پیغمبره !) دا د الله لوی رحمت دی چې ته ددې خلکو له پاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې که داسې نه وای او ته توند خویه او سخت زړی وای نو دا ټول به ستا له شاوخوانه خواره شوي وو ددوی خطاوې وبښه، ددوی له پاره بښنه وغواړه، او ددین په چارو کښې هغو ته هم په مشوره کښې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده پر کومه رایه ټینګه شي ؛ نو پر الله توکل وکړه، د الله هغه خلك خوښېږی چې د هماغه په ډاډینه کار کوي.

همدا لامل ؤ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دوی سره د جنګونو په هکله مشورې کولې ، د خندق د غزا په ورځ یې د مسلمانانو سره مشوره وکړه او دهغوی مشوری ته یې غوږ ونیو، او د احزابو په مصالحت کې د دوی نظر ومانه، د احدد جنګ په مهال یې له دوی سره په دې مشوره وکړه چې ایا په مدینه منوره کې پاتې شي او که احد ته و ووځي او هلته د مکې مشرکینو سره جګړه وکړی، ګڼ شمیر خلکو دا نظر ورکړ چې باید د مدینې څخه بهر باید ووځو او دخپل دښمن سره وجنګیږو، د بدر د جنګ په وخت یې مشوره ورسره وکړه چې د قافلې مخې ته ور ووځي او که نه، په همدې شکل یې د حدیبې په مهال ورسره مشوره وکړه ،تر دې چې نبی علیه السلام به په خپلو کورني مسایلو کې هم د هغوی سره مشوره کوله لکه د افک – په پیښه کې ، هغه مهال چې مسلمانانو ته یې وویل : ( ای د مسلمانانو ټولیه ماته د هغه قوم په هکله مشوره راکړی چې زما اهل ته آذیت رسوی او هغوی بدناموي).

هغه څوک چې ظلم ګوری او د هغې په مقابل کی خپل اواز نه اوچتوی ، نبي علیه السلام د هغی په هکله فرمايي:( له حق څخه ساکت اخرس شیطان دی).

په همدې شکل بل ځای کې فرمايي: ( قسم په هغه ذات چې د محمد نفس دهغه په لاس کی دی تاسې به په نیکیو امر کوی او له منکراتو څخه به منع کوی او که دا کار ونکړی، نو نیږدی ده چې پر تاسې د هغه ذات له لورې عذاب راشي بیا به دعاګانی کوی خو هغه به قبلیږي نه ) ، په بل حدیث کی

---

[1]-د آل عمران سورة ١٥٩ آیت.

فرمايي : چا چې منكر وليد نو هغې ته دې په لاس سره تغير وركړی (منعه دی كړی)، او كه په لاس سره يې وسه نه وه نو په ژبې سره دې هغې عمل ته تغير وركړی ، او كه په ژبې سره يې هم وسه نه وه نو دا عمل دې په زړه كې بد وګڼي، چې دا بد ګڼل په زړه كې د كمزوري ايمان نښه ده.

په همدې شكل نبي عليه السلام صحابه كرام او نور مسلمانان هڅولي دي چې په شرعي مسايلو كی اجتهاد وكړي، اجتهاد په همدې معنی چې د قرآن او سنتو په رڼا كې د جزوي مسايلو لپاره د حل لاری ولټول شي او هغه بيا په پوره صراحت او بی له كوم ډار څخه بيان شي ، كه مجتهد حق ته ورسيده ، نو دهغې لپاره دوه اجره دی ، او كه خطا شو نوبيا هم د خپلې هڅې اجر وركول كيږي.

همدا راز په بل ځاې كی فرمايي:

**(افضل الجهاد كلمة حق عند سلطان جاير).**[1]

ژباړه غوره جهاد هغه دی چې د ظالم پاچا په وړاندې د حق كلمه ووايې دا حديث په ښكاره ډول د نظر او رايې په بيانولو دلالت كوي او د حق وينا اظهار د ظالم پاچا په وړاندې غوره جهاد دی، نو د هر ظلم او تيرې په وړاندې د حق وينا كول له لوړو درجو د جهاد څخه دي.

د رايې او بيان د آزادی حق د راشدينو خلفاؤ په زمانه كې په بشپړه توګه موجود ؤ ، د صحابه و او تابعينو په وخت كی د دغه حق زيات درناوی كيده، د دې غوره بيلګه د سقيفه بنی ساعده د منبر آزادی وه، د دوی ترمنځ د نظرياتو مباحثه وشوه د مهاجرينو او انصارو ترمنځ خبری تبادله شوی او ټولو د هيواد او خلكو مصلحت او بهبود غوښته، د دوی ترمنځ د خلافت د موضوع په مسله ، په ازاده فضاء كی نظريات متبادله شول، هيڅوک د خپل نظر او رايې له ښكاره كيدو څخه منع نشول، همدا لامل ؤ چې كله ابوبكر صديق رضی الله عنه خليفه وټاكل شو نو غوښتل يې چې خلكو ته د دوې د رايې او بيان د حق تاكيد وكړی، نو هغوی ته يې وويل: ( كچيری تاسو په حق وليدم نو زما مرسته وكړی، او كه مو په باطل وليدم نو اصلاح مې وكړی)، د ده دغه تګلاره د ده څخه وروسته عمر بن خطاب رضی الله عنه تعقيب كړه، هغه خلكو ته په خپله لمړنی وينا كی وويل: ( زه د الله پخاطر له تاسو نه غواړم كه هره يوه ستاسې ما كې عيب وليد نو هغه دې اصلاح كړی ) او وبې ويل: ( كچيری تاسو په ما كې كوږوالی وليده نو ما اصلاح كړی)، يو سړی په همدې وخت د ده خبره رد كړه ورته يې وويل : ( كچيری مونږ په تا كې

---

[1]- مسند الامام احمد بن حنبل ، باب ، جلد ١٧ ، صفحه ٢٢٧، حديث شميره : ١٥٩٦، حديث صحيح كما قال الباني.
مسند احمد مخرج،ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد الشيانی (المتوفی ٢٤١ ه ق)، د چاپ ځای مؤسيسة الرسالة، الطبعة الاولی ٢٠٠١م.

کوړوالی وګورو نو مونږ به هغه په توره اصلاح او برابر کړو)، ابو بکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما چې کوم بیانونه ورکړل هغه په قطعي ډول په دې دلالت کوي چې د رایې او نظر دبیانولو ازادی د ټولو لپاره خوندی ده ، که هغه ښځه وی یا نر، د دې بیلګې په هغو کړنو کې څرګندیږي چې د رعیت لخوا هغه مهال په بیلا بیلو وختونو کې ویل شوی دي، د مثال په توګه ، یوه ورځ عمر بن خطاب رضی الله عنه خلکو ته خطبه اوروله او دوی ته یې امر وکړ چې په مهرونو دې مبالغه او زیادت نه کوي ، زیاته یې کړه : ( تاسي د ښځو په مهرونو کی افراط مه کوئ)، خلکو داسې وانګیرله چې عمر رضی الله عنه غواړی خپل نظر په دې مسله کی په خلکو په زور ومنې، کله چې عمر رضی الله عنه د تللو قصد وکړ د قریشو یوې ښځې پرې نیوکه وکړه او دلاندې آیت دلالت یې ورته څرګند کړ ،او هغه ایت یې ورته تلاوت کړ چې الله تعالی فرمایې:

**( وَإِنْ أَرَدْتُمْ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَاراً فَلا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئاً أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَاناً وَإِثْماً مُبِيناً)**[1]

ژباړه: او که تاسې د یوې ښځې پر ځای د بلې ښځې راوستلو اراده وکړئ، نو که تاسې هغې ته په پنډونو مال هم ورکړی وي، له هغه نه بیرته هیڅ شی مه اخلئ ایا تاسې په تورتپلو او څرګند ظلم کولو هغه بیرته اخلئ؟

عمر رضی الله عنه د ښځې په دلیل قناعت وکړ ، بیرته منبر ته ستون شو او خلکو ته یې خطبه واوروله او ویې ویل، ـ چې ښځه پخپله خبره کې په حق وه، ویې ویل: ( عمر خطا شو او ښځه په حق ده ).

په همدې شکل په بل ځای کې عمر رضی الله عنه خطاب کوی او وایې چې : **( اسمعوا و اطیعوا)** یعنی واوری او ومنئ، یو صحابې ورته پاڅیږي او ورته وایې چې نه دې خبره اورو او نه یې منو، ترڅو دې مونږ ته دیوې خبری وضاحت نه وي کړی، او هغه دا چې په غنیمت کی چې کوم رخت تقسیم شوی ؤ د هغې څخه یوائی زمونږ یوه جامه جوړ شوی ده او ستا تری ټول لباس ، پدی وخت کی عمر رضی الله عنه خپل ځوی عبدالله بن عمر ته وایې چې د دې خبری ځواب ته ورکړه، هغه پاڅیږی او وایې چې ما مې خپله برخه هم خپل پلار ته ورکړه ترڅو جامې یې مکملی شي ، کله چې صحابي قانع کیږی نو د هغی څخه وروسته ورته وایي : ( چې اوس یې اورو او منو هم)، دا د رایې او بیان ازادی وه

[1] ـد نساء سورة ۲۰ آیت.

چې راشده خلافت کې موجود وه او دهغې څخه وروسته هم موجوده وه اګر چې په وروستیو وختونو کی به په هغه شکل موجود نه وه په کوم شکل چې اسلام ورته ازادی ورکړی ده او یا د راشدینو خلفاؤ په وخت کی موجود وه خو بیا هم په شکل د اشکالو موجود وه .

د دې لپاره چې د رایې او بیان ازادی په خپلو حدودو کې پاتې شي نو اسلام ورته عام قید دا ایښی دی چې باید د بیان ازادی د نورو خلکو د ازادی او پر حقوقو یې د تیری سبب نه شي، په همدې شکل د بیان د آزادی لپاره ځیني نور حدود هم ځینو خلکو وړاندی کړی دی چې یو څه یې دلته ذکر کوو:

د بیان د آزادی حدود:

د بیان د آزادی حدود په لاندی ډول ذکر کیږي.

لومړی- د بیان آزادی باید د اسلامی شریعت او د خلکو د عرف خلاف نه وي.

دویم- د بیان آزادی نه په خلکو کې د تفرقې اچولو په خاطر استفاده ونه شي.

دریم- د نورو ادیانو توهین به په کې نه وي.

څلورم- په نورو افرادو باندی تهمت ونه ویل شي، او همدارنګه د نورو افرادو توهین پکې ونه شي.

پنځم- د بیان له ازادی د نورو افرادو عزت، مال، نفس او نورو ته صدمه ونه رسیږي.

شپږم- ټولنیز نظم ته په کې صدمه ونه رسیږي.[1]

[1]- کریم، محمد نعیم ، حقوق انسان از دیدگاه اسلام، د پاڼي ګڼه ۴۱، دریم چاپ، د چاپ کال ۱۳۸۹ ه ش ، د چاپ ځای، انتشارات سعید.

# څلورم فصل

## په دولتي ادارو کې د کار کولو حق

په دې فصل کې پدې باندې بحث کوو چې په دولتي ادارو کې کار کولو څخه هدف څه دی، په همدې شکل د افغانستان قوانین په دې هکله څه وايي او په اخر کې په دې باندی بحث کوو چې د اسلام مبارک دين په دې هکله څه نظر لري ، چې دا هره يوه موضوع دلته په مفصل شکل باندی د بحث لاندې نيسو.

### لمړی مبحث- په دولتي ادارو کې د کارکولود حق پيژندنه:

په معاصر وخت کې دا د افرادو او اتباعو يو له بنسټيزو حقوقو څخه شميرل کيږي چې بايد هغوی ته په دولتي چوکاټ کې د کار کولو زمينه برابره شي، پدې هکله نړيوال اصول او مقرارات هم شتون لري، او د نړيوالو قوانينو ترڅنګ هر هيواد پدې هکله خپل خپل قوانين لري ، چې د هغې په رڼا کې افرادو او اتباعو ته د دې زمينه برابريږي چې د خپل هيواد په اداره او پرمختګ کې رول اداء کړي.

په دولتي ادارو کې د کارکولو د حق څخه هدف هم دا دی چې بايد د يو هيواد اتباع وکولای شی بی له کوم تبعيض او توپير څخه په دولتي اداراتو کې کار وکړی شي، که هغه نر وي او که ښځه، او که د هر مذهب پوری تړاو ولري ، دولت مکلف دی چې پدې هکله ورته لازم سهولتونه برابرکړي تر څو د ټولنی ټول افراد او اتباع د هيواد په اداره او پرمختګ کې رغنده رول اداء کړای شي، او پدې هکله تبعيض کول جرم دی ، چې بايد دولتي چارواکي تري ځان وساتي.

## دوهم مبحث – په دولتي ادارو کې د کارکولو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

په دې مبحث کې په دې باندی بحث کوو چې د افغانستان قوانین پدې هکله څه مواد له ځان سره لري، او د افغانستان قوانینو نړیوالي اعلامې او میثاقونه پدې هکله په نظر کې نیولی دي او که نه، دا او دې ته ورته نور مسایل به په دې بحث کې راونغاړو:

د افغانستان قوانین د بشر د حقوقو د نړیواله اعلامیې په نظر کې نیولو سره په دولتي اداراتو کې کار کول د اتباعو اساسي حق ګڼې او د هغې څخه ملاتړ کوي، د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه په خپلې ۲۱ مادې لمړی فقره کې داسې صراحت لري: ( هر څوک حق لري چې څه په مستقیمه توګه او یا د خپلو استازو له لیارې چې په آزاد ډول انتخاب شوی دی د خپل هیواد په عمومي اداري چارو کې ګډون وکړي).[1]

په همدې شکل د ا فغانستان د اساسي قانون په (۵۰) ماده کې راغلی دي چې : (د افغانستان اتباع د اهلیت له مخې او له هر ډول توپیر څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کیږي).[2]

په همدې ډول د افغانستان اساسي قانون د دې لپاره چې د خپلو اتباعو حقوق یې خوندي وي ، د کارګر او کارفرما د کار په اړه جلا قوانین لري چې د کار قانون او د ملکي خدمتونو دکارکوونکو قانون په نامه یادیږي.

نو د دې لپاره چې د افغانستان د اتباعو دکار اړوند حقوق، وجایب، امتیازات او ټولنیز تأمینات خوندي وي ، د افغانستان اساسي قانون د کار په اړه د یو مستقل قانون غوښتنه کوي، د افغانستان د اساسي قانون په ۴۸ مه ماده کې په دې اړه داسې صراحت شوی دی: ( کار د هر افغان حق دی، د کار د ساعتونو ټاکل، او با معاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق، او له هغو سره نوری مربوطې چارې د قانون له لیاري تنظیمیږي).

د افغانستان د اساسي قانون په څیر د کار قانون لمړی ماده هم پورته اهمو نقاطو ته په لاندې ډول اشاره کوي: ( دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اته څلویښتمې مادې د حکم پربنسټ ، د

---

[1]- د بشر دحقوقو نړیواله اعلامیه ، ۲۱ ماده لمړی فقره.
[2]-د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ۵۰ ماده.

کارکوونکو په وجیبو،حقوقو، امتیازونو او تولنیزو تأمیناتو پورې د اړوندو چارو د تنظیمیولو او توضیح په منظور وضع شوی دی).

د افغانستان د اساسي قانون او د کار د قانون په اساس کار کول که هغه په دولتي اداره کې وي او که په غیر دولتي اداره کې وي ، د اتباعو او افرادو بنسټیز حق ګڼل شوی دی ، ولی په دولتي ادارو کې کار کول د یو سلسله اصولو او شرایطو تابع دي، که هغه شرایط پوره شول نو بیا یو شخص ته په دولتي اداره کی د کار کولو حق شته او که یې پوره کړی نه ؤ نو بیا د حق غوښتنه نشي کولای.

چې هغه اصول او شرایط په لاندي ډول د بحث لاندي نیسو.

## لمړی مطلب – د استخدام پورې اړوند اصول:

د استخدام پورې اړوند اصولو څخه هدف دا دی چې استخدام باید د لیاقت، وړتیا، عدالت او له هر دول تبعیض او توپیر پرته ترسره شي ، او که په استخدام کې دا صفات او ځانګړتیاوي په نظر کې ونه نیول شي ، دا په دې معنی ده چې استخدام په درست ډول نه دی ترسره شوی، د دې لپاره چې د استخدام په اصولو ښه پوه شو، هر یو جلا جلا د بحث لاندی نیسو.

## لمړی اصل- د تساوي اصل:

لمړی اصل چې په استخدام کې باید په نظر کې ونیول شي هغه د تساوي اصل دی، د تساوي د اصل څخه هدف دا دی ، چې هر افغان د یو بست لپاره ټاکل شوی شرایط پوره کړی ، هغه کولای شي چې یاد بست اشغال کړی، او پدې هکله باید هیڅ قسم ظلم او زیاتی ترسره نه شي، دې اصل ته د افغانستان د اساسي قانون ۴۸ مې او ۵۰ مې مادی په لاندې ډول اشاره کړی ده.

د افغانستان د اساسي قانون په ۴۸ مه ماده کې په دې اړه داسې صراحت شوی دی: ( کار د هر افغان حق دی، د کار د ساعتونو ټاکل، او با معاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق، او له هغو سره نوری مربوطې چارې د قانون له لیاري تنظیمیري).[1]

په همدې شکل د ا فغانستان د اساسي قانون په (۵۰) ماده کې راغلی دي چې : (د افغانستان اتباع د اهلیت له مخې او له هر ډول توپیر څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کیږي).[1]

[1]-د ۱۳۸۲ ه ل کال د افغانستان اساسي قانون ۴۸ مه ماده.

په لمړی ماده کې د ( هر افغان ) کلمه د عمومیت او تساوي څرګندونه کوي، په دې مانا چې د کار حق په مساوي توګه د هر افغان حق دی ، که هغه نر وي او که ښځه، اوکه هغه د هر مذهب پوری تړاو ولري، هغه افغان دی او په دي خاوره کی د کار کولو حق لري ترڅو له يوې لاری د دولت په ادار او پرمختګ کی رول ولوبوي او له بل طرفه د خپلی کورنی لپاره د حلالې نفقي وسيله شي.

## دوهم اصل- د لياقت او وړتيا اصل:

د دې اصل په اساس بايد د دولت او ټولني د خدمت لپاره وړ، لايقه او مناسب اشخاص انتخاب شي، پدې مانا چې د شخص تخصص، تجربه، فني پوهه او لياقت او د شخص ښه سيرت او نيک شهرت په نظر کی ونيول شي، که دغه اصل په نظر کې ونيول شي نو يوه اداره په تخصصي او متعهده اداره بدليږي، چې کولای شي د خپل تخصص او ژمنتيا په اساس د دولت او ټولنی د خدمت مصدر وګرځی، او که دا اصل په نظر کی ونه نيول شي، نو هيڅکله به د ټولنی په درد دوا نه شي.

پورته اصل ته د ملکی خدمتونو د کارکوونکو قانون دويمه ماده دويمه فقره په لاندې شکل اشاره کړی ده:

دويمه ماده : د دې قانون موخې عبارت دی له:

۲-- له توپير پرته د اهليت او وړتيا پر بنسټ د کارکوونکو استخدامول په روڼ (شفاف) ډول د آزادې سيالۍ له لاری.

په همدې شکل د دې قانون په اتمه ماده کې د ملکي خدمتونو د لومړی او دويم بست کارکوونکو لپاره د لسانس تر کچې پورې د زده کړو معيار هم په نظر کې نيول شوی دی ، ولی دا په کې واضح نه ده چې په کومه رشته کې لسانس ولري، چې دې کار په دولتي ادارو کې ډير مشکلات پيدا کړی دی، مثلاً يو سړی د حقوق فارغ دی ولی کار د اقتصاد په يو بست کی ترسره کوي ، په همدې شکل فارغ له طب څخه دی او کار په اداری برخه کې کوي ، چې دا په قانون کې خلا ده او بايد دا خلا يي ډکه شي، د دې ترڅنګ د ملکي خدمتونو کارکوونکی بايد د ښه سيرت او نيک شهرت درلودونکی اوسي، که يو کار کوونکی د ښه سيرت او نيک شهرت درلودونکی ونه اوسي ، هغه د ملکي خدمتونو په کوم بست کې بايد

[1]- د ۱۳۸۲ ه ل کال د افغانستان اساسي قانون ۵۰ مه ماده.

مؤظف نه شي، ځکه هغه به د دې بست څخه سؤ استفاده کوي او ټولنی ته به ضرر رسوي ، فلهذا داسی اشخاصو ته په ملکې خدمتونو کې ځای ورنکړای شي.

## دریم اصل: کارکوونکو ته د معاشاتو په برخه کې عدم تبعیض دی:

یو ښه اداري نظام هغه دی چې خپلو ټولو هغه کارکوونکو ته چې په عیني بستونو کی کارکوي مساوي معاشونه ورکړي، که داسي ونه شي ، دا اداري نظام مشکلات لري چې باید تصحیح شي، چې بدبختانه مونږ دا عمل په خپل هیواد کې ګورو چې د عیني بست کارکوونکي مختلف معاشات اخلي، چې ښه مثالونه یې په وزارتونو، ولایاتو او ریاستونو کی د ځینو مؤسیساتو لکه ( World Bank,UNDP, USAID) او داسی نورو لخوا ګومارل شوی مشاورینو ته لوړ معاشات ورکول دی، چې د دولتي مارمورینو څخه یې تنخواګانی په لس او شل چنده زیاتی دي، پداسې حال کې چې د دې مشاورینو څخه د دولتي مامورینو کاري ژمنتیا زیاته ده، او خپل کار ته پابند دی، د دی لپاره چې دا تبعیض له منځه لاړ شي ، باید دولت دې موضوع ته توجه وکړی تر څو د دولتي مامورینو علاقه او مینه له خپل کار سره نوره هم زیاته شي.

## څلورم اصل- د کار د امنیت اصل دی:

د کار یا د شغل د امنیت اصل پدې معنی چې مامور په راتلونکی ډاډه کوي ، او د زیاتو کوششونو په کولو سره خپل ورځنی کارونه ترسره کوي، اداري انضباط د مامور په مورال او روحیه مستقیمه اغیزه کوی، چې له مخې یې په اوچت مورال خپل کارونه ترسره کوي، دغه اصل ډیر مهم اصل دی حتی د دی اصل په نه شتون کی استخدام بی معنا او خپل حقوقي ماهیت له لاسه ورکوي.[1]

## دوهم مطلب- استخدام پوری اړوند شرایط:

پدې بحث کې مونږ د استخدام پوری اړوند شرایط دبحث لاندی نیسو، داچی د استخدام پوری اړوند شرایط په دوه قسمه دی چې یو ته یې عام شرایط وایي او بل ته یې خاص شرایط وایي، عام شرایط هغه دی چې هر دولتي مامور ته د هغی شتون ضروردی ، او خاص شرایط هغه دی چې هغه د ځانګړو مقاماتو لکه ریس جمهور، وزیران، د پارلمان غړی او داسی نورو... لپاره خاص وضعه شوی وي، چې مونږ لمړی عام شرایط اوبیا د ځینو اهمو بستونو لپاره خاص شرایط دبحث لاندی نیسو.

---

[1]- ګل رحمن قاضی ،اداری حقوق، د پاڼي ګڼه، ۶۰، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ش ، د چاپ ځای انتشارات سعید.

## لمړی جز – عام شرايط:

لکه مخکې مو چې ووېل چې عام شرايط هغه دی چې دولتي مامور يا  دملکي خدمتونو هر کارکوونکی ته لازمه ده چې ياد شرايط يې پوره کړی وي ، که ياد شرايط يې پوره نه وي نوموړی شخص نه شی کولای چې په دولتي اداره کې کار وکړي، چې هغه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون په اومه ماده کې ورته اشاره شوی ده چې هغه په لاندې ډول ه:

**اومه ماده:**

(١)- هغه شخص د ملکي خدمتونو په ادارو کې د مامورپه توګه منل کيږي چې لاندې شرايط ولري:

١-- د افغانستان تابعيت ولري.

٢-- عمر يې له اتلس کلنی څخه لږ او له څلورشپيته کلو څخه زيات نه وي.

٣-- د عامې روغتيا وزارت له واکمنو مراجعو څخه روغتيايي تصديق ولري.

۴--  د هيواد له دننه يا بهرله رسمي ښوونيزو مؤسيسو څخه دبکلوريا يا دهغه څخه د لوړفراغت سند ولري.

۵--  د واکمنې محکمې په قطعي او نهايې حکم د جنايت پر جرم باندی نه وي محکوم شوی.

(٢)- دلوړو زده کړو دعلمي مؤسيسو، د علومو د اکاډمی، لوی څارنوالی،او دعدلي وزارت د قانون جوړوني او علمي حقوقي څيړنود چارو د انستيتوت علمی کادر غړي او د پوهني وزارت مسلکي غړي د دې مادې د (١) فقرې په (١، ٢، ٣او۵) جز کې پر درج شوو شرايطو برسيره د خپلو اړونده تقنيني سندونو تابع هم دی.

(٣)- هغه مامورين چې د دولسم ټولګی څخه د ټيټو تحصيلاتو لرونکی دي او د ملکی خدمتونو د کارکوونکو د قانون له انفاذ د مخه په وزارتونو او دولتي ادارو کی مقرر شوی دی، په هغه صورت کی چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون په اتمه ماده کې د درج شوو بستونو معيارونه يې بشپړ کړی وي د اداري اصلاحاتو د برنامي د تطبيق په ترڅ کې ، کولی شی د تحصيل د درجی له په پام کی نيولو پرته د ملکی خدمتونو بستونه د سيالی پر بنسټ ترلاسه کړی.

(۴)- هغه شخص د ملکي خدمتونو په ادارو کی د قراردادي کارکوونکي په توګه استخدامیږي چې د دې مادي د (۱) فقری په (۲،۱، ۳ او ۵) جزء کی درج شوی شرایط ولري.

د قراردادي کارکوونکو شغلونه په اړوند تقنيني سند کې تنظيميږي.

(۵)- شخص په هغه دنده چې مستقيم آمر يې له لومړۍ درجی خپلوانو څخه وي، نشي مقرريدی،د لومړۍ درجی خپلوان په دې منظور، له پلار، مور، اولاد، زوج، زوجه ورور او خور څخه عبارت دي.[1]

پورته ذکر شوي ټول هغه شرايط دی چي د ملکي خدمتونو هر کارکوونکي ته ضروري دی چې په دولتي اداره کې د کار د اشغال په وخت يې  بايد ولري.

## دوهم جز- خاص شرايط:

دلته مونږ د هغه شرايطو ذکر کوو کوم چې ځانګړو مقاماتو لپاره وضعه شوی دي چې هغه عبارت دی له ، د جمهوري رياست مقام ، د وزيرانو بستونه، د پارلمان او ولايتي شوراګانو د نمايندګانو شرايط ، چی د دغو مهمو مقاماتو او بستونو د شرايطو څخه يې دلته په مختصر ډول يادآوري کوو.

## الف – جمهور ريس:

په افغانستان کی د جمهور ريس مقام او بست يو د مهمو بستونو څخه دی ، چی هر څوک نشی کولای ياد مقام ته د ځانګړو شرايطو د پوره کولو بغير ځان کانديد کړي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۶۲ مادي له مخې څوک چې جمهوري رياست ته کانديديږي لاندې شرطونه بايد ولري:

۶۲ ماده:

۱-- افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زيږيدلی وي او د بل هيواد تابعيت ونه لري.

۲-- د کانديدو په ورځ يې عمر تر څلويښتو کلونو لږ نه وي.

۳-- د محکمي له خوا د بشري ضد جرمونو جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.

---

[1]- د افغانستان د ملکي خدمتونو د قانون اومه ماده.

۴-- هیڅ شخص نشی کولای چې له دوو دورو زیات د جمهور ریس په حیث وټاکل شي.

۵-- په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور ریس د مرستیالانو په برخه کې هم تطبیقیږي.[1]

د پورتنیو شرایطو سربیره د افغانستان د ټاکنو قانون په دري اویایمه ماده کې د ولسمشر د نوماندۍ لپاره لاندی شرایط ټاکلي دي:

۱—هغه و ګړي چې غواړي ځانونه ولسمشرۍ ته نوماند کړی اړ دي، چې د ټاکنو د کمیسیون له خوا پر ټاکلی مهال دخپلې نوماندۍ لیکلی غوښتنلیک د نوم لیکني لپاره کمیسیون ته وسپاري.

۲-- د ولسمشرۍ نوماند باید دسل زره هغو کسانو له خوا تایید شي ، چې د رایه ورکولو شرایط یې پوره کړی وي.

۳-- د ولسمشرۍ نوماند باید له نوماندی وروسته یو میلیون افغانۍ بانک ته د امانت په ډول تحویل کړي او د بانک اویزد ټاکنو کمیسیوته وسپاري.[2]

دا چې افغانستان یو اسلامي هیواد دی نو باید چې مشر او ریس جمهور یې هم مسلمان وي ، چې خوشبختانه دې خبری ته په قانون کې ځای ورکړل شوی دی، ولی یوه خلاء چې د جمهور ریس په شرایطو کې ښکاري ، هغه د هیڅ قسمه علمي اسنادو د ذکر نه موجودیت دی ، چې ریاست جمهوری ته کاندید شخص باید کوم علمی سند ولري او علمي کچه یې څومره وي ، پداسی حال کې چې د ولسوالیو شوراګانو ته یې دا شرط ایښی دی چې باید په لیک لوست پوه وي ، ولی دلته دا شرط نه شته ، چی دا په قانون کی یو خلا ده ، امید دی چې په اینده کې اصلاح شي.

ولسمشر د اساسي قانون د ۶۹ مادې د احکامو مطابق د ملت او ولسي جرګې په وړاندی مسؤول دی.

۶۹ ماده:

(جمهور ریس د ملت او ولسي جرګې پر وړاندی د دې مادې د احکامو مطابق مسؤل دی).[3]

---

[1]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون ۶۲ ماده.
[2]- د افغانستان د ۱۳۹۵ ه ل کال د کار قانون ۷۳ مه ماده.
[3]-د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د اساسي قانون ۶۹ مه ماده.

په دې معنی چې ولسمشر به د دندې پر مهال د خپل ملت عليا منافع او ستر ارزښتونه په پام کی نيسي او که ولسمشر د دندې پر مهال د هيواد ملي ګټو ته پاملرنه ونه کړي او داسې کړنی ترسره کړي چې د ملی منافعو خلاف وي او يا بشري ضد جرمونه ترسره کړی نو د ځانګړي پروسيجر وروسته له دندې عزل (ګوښه ) کيدای شی ، دا چې په ولسي جرګه کې هم د ولس استازي ځای لري، نو په همدې خاطر ولسمشر د هيواد ملی ګټو ته د زيان رسولو پر مهال د ولس استازو ته مسؤول ګرځي، ځکه چې له هغوی سره د ولس ملاتړ موجود دی او ولس هم خپل ولسمشر د دی لپاره ټاکلی دی چې د دوی د سترو ګټو او ارزښتونو ساتنه وکړي.

## ب – وزيران:

د افغانستان د اساسي قانون د ۷۲ مادې له مخې ځوک چې د وزير په حيث ټاکل کيږي لاندی شرايط بايد ولري:

۱-- يوازې د افغانستان تابعيت ولري، که چيری د کوم وزارت کانديد د بل هيواد تابعيت هم ولري ، ولسي جرګه يې د رد او تاييد صلاحيت لري.

۲-- لوړ تحصيلات ، کاري تجربه او ښه شهرت ولري.

۳-- عمر يې تر ۳۵ کلونو کم نه وي.

۴-- د محکمې له لورې د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومی محکوم شوی نه وي.[1]

دا چې حکومت د وزيرانو څخه جوړ دی، او د حکومت په رأس کې ريس جمهور قرار لري، نو وزيران ريس جمهور ته مسؤل دي، او ريس جمهور کولای شی چې د خپلی کابيني لپاره وړ اشخاص د پارلمان د داخل او يا خارج څخه غوره کړی، که د پارلمان څخه يې وزيران غوره کړ، د پارلمان غړی په پارلمان کې خپل غړيتوب له لاسه ورکوي او پر ځای يې بل کس د قانون دحکم سره سم ټاکل کيږي.

په پورته ماده کې ليدل کيږي ، چې د افغانستان اساسي قانون هغه ځوک د وزارت مستحق بولي، چې د افغانستان تابعيت ولري، عمر يې د ۳۵ کلنۍ ته رسيدلی وي، او د محاکمو لخوا د جنايت په ارتکاب او يا په بشري ضد جرمونو تورن نه وي، په دې مانا چې د چا په قتلولو،بی حيا کولو، شکنجه

[1]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د اساسي قانون ۷۱مه ماده.

کولو او یا قتل عام تورن نه وي، او همدارنګه د مدني حقوقو څخه محروم نه وي، په یاده ماده کی د وزارت لپاره د ۳۵ کلنی عمر ذکر شوی دی، اګر چې دا عمر هم ډیر کم نه دی ، ولي زه فکر کوم چې د اهمو پوستونو لکه ریاست جمهوري،وزارتونو، ریاستونواو د ولایاتو مسؤلین باید د ۴۰ کلنی څخه د کم عمر شخص و نه ګمارل شي، ځکه د ۴۰ کلنی عمر د شخصیت د تکمیل عمر دی ، شخص پکې د ډیرو تجربو څخه تیریږي، او د خپل عمر څخه ډیر څه زده کوي، نو بیا که ورته داسې ستر مسؤلیت وسپاری نو د دې امید شته چې په درست ډول یې اداء کړای شي، او که په کم عمري کې ورته داسې ستر مسؤلیت وسپارل شي نو د دې ویره شته دی چې کیدای شي حق یې اداء نکړي،په همدې خاطر مناسبه ګنم چې ووایم چې په آینده کې باید په دې ماده باندی تجید نظر وشي.

## ج – د ملي شورا غړي:

په هر هیواد کې ملی شورا د قانون سازی په برخه کې ستر او لوړ ارګان دی، او ټول قوانین باید د همدې شورا له لاری قانوني بڼه غوره کړي، د افغانستان د اساسي قانون ۸۱ مه ماده ملی شورا داسې تعریفوي:

( د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورا د ستر تقنیني ارګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندګي کوي، ملي شورا دوه مجلسه لري ، چې عبارت دی له ولسی جرګې او مشرانو جرګې څخه دي).[1]

ولسي جرګه د ملي شورا له هغه مجلس څخه عبارت ده ، چې د اساسي قانون د ۸۳ مې مادې په اساس یې غړی د آزادو ، پټو، او مستقیمو رایو په نتیجه کې د خلکو لخوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي، له دې مادې څخه معلومیږي چې د ولسي جرګې دنده د خلکود رایو او اعتماد له مخې یو چاته ورکول کیږي، دا ځکه چې په ولسي جرګه کې د خلکو د برخلیک ټاکنې اړوند پریکړی کیږی، نو په دې جرګه کې باید هغه څوک راټول شي، چې د ولس ریښتیني استازي وي، او د هیواد په سطحه د ټول ولس استازیتوب وکړای شی، د ولسي جرګې دنده له دې امله هم مهمه ده ، چې دا مجلس د راتلونکو نسلونو لپاره قوانین جوړوي، نو ولسي جرګې ته باید داسې کسان لاړ شی چې هم د اسلام مبارک دین نه خبر وي او هم د نورو وضعي قوانینو په هکله معلومات ولري، په همدې ډول داسې خلک ولسي جرګې ته لاره پیدا کړی چی د نړی په سیاست باندی پوه وي او دهغې په رڼا کې د خپل هیواد سیاسي کړنلارې

[1]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون ۸۱ مه ماده.

ترسیم کړای شي، په همدې شکل ولسي جرګه د حکومت په کارونو باندی نظارت هم کوي، نو پدې اساس ولسي جرګي ته باید ایمانداره، وطنپاله، قوم پاله او مخلص خلک لاړ شي ، او داسي خلک وي چې په فساد اخته نه وي،داسي خلک وي چې د خپل هیواد ، ولس او ملی علیا منافعو سره مینه ولري، کچیری ولسي جرګي ته په دې صفاتو متصف خلک لاره پیدا کړی نو یقیناً چی د خلکو او ملت ستونیزی به تر ډیره حده پوری اوارې شي او د حکومت او ملت ترمنځ به واټی کم شي چی په نتیجه کی به امن ، سوکالي، او پرمختګ ته لاره هواره شي.

ولسي جرګي ته چې څوک کاندیدیږي باید کوم شرایط ولري، دا موضوع د د افغانستان د اساسي قانون په ( ۸۵) ماده کې په لاندی ډول ذکر شوي دي.

ملي شورا ته د نوماندیدلو شرایط:

هر افغان کولای شی چی ملی شورا ته لاره پیدا کړی ، خو دلاندی شرایطو په بشپړولو سره:

۱-- د افغانستان تبعه وي، یا لږ تر لږه د کاندیدیدو تر نیټی لس کاله وړاندی یې د افغانستان د دولت تابعیت ترلاسه کړی وي.

۲-- د محکمی له خوا دبشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومي محکوم شوی نه وي.

۳-- د ولسي جرګي غړیو د کاندیدیدو په ورځ د عمر پنځه ویشت کاله او د مشرانو د جرګي د کاندیدیدو په ورځ د عمر پنځه دیرش کاله پوره کړی وي.[1]

څرنګه چې مو مخکې ذکر کړل ، چې ولسي جرګي ته هغه څوک تلی شي ،چې ولس یې انتخاب کړی، او اړوند شرایط یې پورته ذکر شول، چې نوموړی باید د افغانستان تابعیت ولری او یا لږ تر لږه د کاندیدیدو تر نیټی پوری یې لس کاله وړاندی د افغانستان تابعیت اخستی وي، دا پدې معنی چې دا شخص په افغانستان کي ژوند کړی وی د افغانستان د خلکو د عرف و رواج ،فرهنګ، ارزښتونو سره اشنا وي ، دهغی ستونزی ورته معلومی وي ، ترڅو په آینده کي ښه تصمیم ونیولی شي، او که په افغاني ټولنه کې یې ژوند نه وي کړی، د افغانستان د خلکو عرف و رواج، فرهنګ مشکلات ، ستونزی او ارزښتونه

[1]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون ۸۵ ماده.

ورته معلوم نه وي ، نو دا شخص بیا د افغانانو نماینده ګي نه شي کولای، نو په همدې خاطر ورته د افغانستان د تابعیت قید ایښودل شوی دی.

بله اهمه نقطه چې په یادی ماده کی ذکر شوی ده ، هغه دا چې یاد شخص باید د بشریت پر ضد جرمونو او همدارنګه په جنایتو مرتکب شخص نه وي ، ځکه یو څوک چې قاتل ، زنا کار، غاصب ، فاسد او .....وي هغه به څرنګه وکولای شی چی د ټولنی نماینده ګی وکړای شی، نو په همدی خاطر ورته دا قید ایښودل شوی دی چې هغه څوک چې ملی شورا ته کاندیدیدیږي باید په بشري ضد جرمونو او جنایتو مرتکب شخص نه وي.

د دې مادې په دریم بند کې د ولسي جرګي غړی ته د ۲۵ کلنی عمر او د مشرانو جرګي غړی ته د ۳۵ کلنی عمر ذکر شوی دی، اګر چی د مشرانو جرګی غړی ته د ۳۵ کالو عمر ذکر کول بیا هم تر یوه حده مناسب ښکاری اګر چی ډیر مناسب نه دی ، ولی د ولسي جرګي غړ ته د ۲۵ کلنی عمر چې د ډیر ځوانی مرحله ده ، پدې عمر کې شخص خپل احساسات نه شي قابو کولای، د تجربی خاوند نه وي، او نور ډیری مشکلات لري، نو زما نظر دا دی چې د ملی شورا دواړو جرګو د غړو لپاره باید د ۴۰ کلنۍ عمر ټاکل شوی وای، دا به ډیره بهتره وی، او دوی به په ښه شکل کولای شو چې د خپل ژوند له تجربو څخه يې د هیواد په اداره او پرمختګ کې ښه رول لوبولی وای.

## د - د ولایتي او ولسوالیو شوراګانو غړي:

د ملي شورا څخه وروسته د ولایتو په کچه تر ټولو اهمه شورا ولایتي شورا ده،او د ولسوالیو په سطحه د ولسوالیو شورا ده، د ولایتونو د چارو د ښه تنظیم او سیمه ایېزو ادارو ته د مشورې ورکولو لپاره د اساسي قانون ۱۳۸ مادې پر بنسټ د ټاکنو له لارې ولایتي شورا یا جرګه جوړیږي، په افغانستان کې ولایتي شوراګاني په ولایتي کچه هماغسي مهم رول لري، لکه په ملي کچه يې چې ملي شورا لري، ولایتي شوراګاني په ولایتي کچه د ولایت د خلکو استازولی کوي او د ولایت د خلکو استازی او نماینده ګان دي، دوی په ولایتي کچه د ولایت د کارونو نظارت کوي، د دې ترڅنګ ولایتي شورا د ولایت د خلکو او حکومت ترمنځ د یو پول حیثیت لري، دې مهم ارګان ته غړي د خلکو د پټو، او مستقیمو رایو ، دهماغه ولایت د اوسیدونکو لخوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي، په همدې شکل د ولسوالیو شوراګاني چې د اساسي قانون د ۱۴۰ مادي پر بنسټ د ټاکنو له لارې رامنځ ته کیږي، د ولسوالیو شوراګانی د

ولسوالی په سطحه خپلي مشوري د ولسوالی د اداری سره شریکوي او په شریکه سره خپل کارونه پرمخ بیایي.

**ولایتي او ولسوالیو شوراګانو ته د نوماندۍ شرایط:**

د ټاکنو د قانون د ۴۰ مادې پر بنسټ هغه وګړي ځانونه ولایتي شورا او د ولسوالیو شوراګانو ته نومولای شي چې لاندې شرایط یې پوره کړی وي.

څلوېښتمه ماده:

(هغه شخص د ولایتی شورا او ولسوالی شورا غړیتوب ته نوماند کیدای شی چې د رایه ورکوونکو پر شرایطو برسیره د لاندې شرایطو لرونکی هم وي):

۱ -- د نوماند کیدو په ورځ یې لږ تر لږه پنځه ویشت کلنۍ سن بشپړ کړی وي.

۲-- لږ تر لږه د دولسم ټولګی د فراغت د سند لرونکی وي. [1]

که پورته مادی ته متوجه شو ، نو دلته هم دوه مشکل درک کولای شو، یو خو د عمر د کموالی مشکل دی، دا چي د ولایتی شورا او ولسوالیو شوراګانو کار محلی حکومت ته مشوری ورکول، او د هغوی د کارونو څخه نظارت دی او دا کار د تجربه لرونکو خلکو کار دی، پداسی حال کې چي یو شخص نوی ځوان شوی وی او یا یې نوی تعلیمي دوره پای ته رسولی وي ، هغه کله داسی ستر مسؤلیت ترسره کولای شی، دلته هم ځما هماغه پیشنهاد دی، چې باید په ټولو شوراګانو کې د لوړ عمر والا خلکو ته چانس ورکړل شي چې هغوی خپل تجارب او مشوری خلکو سره شریکی کړی شي.

بل مشکل دا لیدل کیږي چې د ولایتی او ولسوالیو شوراګانو ته دې د ۱۲ ټولګی دفراغت قید وي ، ولي د ملي شورا ( ولسي جرګه او مشرانو جرګي ) غړو ته دي دا قید نه وي، پداسي حال کي چې د ولایتي او ولسوالیو شوراګانو څخه د ملي شورا د غړو مسؤلیت او وظیفه درنده ده، نو دلته هم مونږ په قانون کې خلاء درک کولای شو ، امید دی چې په آینده کې ورته توجه وشي.

د پورته توضیحاتو څخه څرګنده شوه چې هر څوک د افغانستان تبعه وي پرته له کوم تبعیض او توپیره په دې شرط چې اړونده ټول شرایط یې بشپړ کړی وي ، کولای شی چې په دولتي ادارتو کې دندې اشغال کړی، خو د جزا قانون ۱۱۳ مادې له مخې هغه شخص چې په دوام لونکې حبس یا پر اوږده حبس

[1]-د ټاکنو قانون ۴۰ ماده.

چې له لسو کالو څخه زیات وي محکوم شي له لاندې حقوقو او امتیازاتو څخه محرومیږي، چې هغه عبارت دي له:

د جزا قانون ۱۱۳ مادې لمړی څلور بندونه:

۱-- د دولت ماموریت.

۲-- په اردو کې خدمت.

۳-- د پارلمان، ښاروالیو، د ولایتي او محلي جرګو د غړیتوب.

۴-- په انتخاباتو کې د رایه ورکوونکی په حیث د برخې اخستل.

د افغانستان د جزا قانون له مخې ټول هغه اشخاص چې په ټولنه او هیواد کې یې ستر جنایات او جرمونه ترسره کړی دی او خپل ټولنیز شخصیت یې داغداره کړی دی، نشي کولای چې د دولت په پوستونو کې وظیفې اجراء کړی ، په همدې شکل د مسلح فوځ په لیکو کې هم دخدمت لپاره نشي منل کیدای، د ولس نماینده توب نشی کولای او په همدې شکل د چا په حق کې رایه یا شهادت هم نشي ورکولای، دا ټول پدې معنی چې دا شخص د ټولنی یو بد انسان دی، او دا د دې مستحق نه دی چې ټولني ته خدمت وکړای شی، بلکې ده پخوا دا ثابته کړی ده چې د ده د اعمالو له وجې ټولنیز نظم ته صدمه رسیدلی ده او که بیا ورته چانس ورکړای شی نو بیا هم امکان لري چې د ده له وجې ټولنه صدمه وګوری نو دا شخص نه شي کولای چې په ټولنه کې عمده رول ولوبوي، فلهذا دا شخص د افغانستان د جزا د قانون په اساس په ( تورلست) کې شامل شوی دی.

## دریم  مبحث- په دولتي ادراو کې د کارکولو حق د اسلامي شریعت له نظره:

په دې مبحث کې پدې باندی خبره کوو چې د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې کار کول حق دی او که مسؤلیت، په اسلامي حکومت کې د سترو مسؤلیتونو خپله غوښتل روا عمل دی او که ناروا او د اسلامي حکومت له نظره د دغو امانتونو د سپارلو لپاره کوم مهم شرایط په نظر کې نیول شوی دي، دا مسایل به په دې بحث کې د مناقشې لاندې ونیسو.

### لمړی مطلب- د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې کار کول حق دی او که مسؤلیت:

د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې کار کول یو مسؤلیت دی نه حق، ځکه که حق وای نو نبی علیه السلام به د دې عمل څخه خلک نه منعه کولی چې هغوی د دولتی وظایف خپله وغواړی، ځکه کله چې یو شی حق وي نو دهغی نه څوک منعه کیدای نه شي، نو پدې اساس ویلی شو چې په دولتی ادارو کې کار کول مسؤلیت دی نه حق، نظر لاندې دلایلو ته:

نبی علیه السلام فرمایي:

**( لا تسأل الامارة ، انا والله لا نولی علی عملنا هذا احداً یسأله ویحرص علیه.)**[1]

ژباړه: امارت او حکومتی منصب مه غواړه ، په الله سوګند، مونږ د خپل حکومت منصب داسې چاته نه ورکوو چې د هغې غوښتونکی وي او یا د هغی د ترلاسه کولو لپاره حریص وي.

په همدې شکل بل ځای کې  فرمایي:

**(ان اخونکم عندنا من طلبه. )**[2]

ژباړه: ستاسو څخه تر ټولو ستر خاین زمونږ په وړاندی هغه دی چې پخپله یې وغواړي.

یعنی بی له دی چې د اسلامی حکومت مشران یې وګماری ، یو شخص خپله د امارت او مشري غوښتنه کوي، نو نبی علیه السلام دا شخص ستر خاین ګڼلی دی.

[1]- عمدة القاری شرح صحیح البخاری، ابو محمد محمود بن احمد بن موسی بن احمد بن حسین الغیبتابی الحنفی بدرالدین العینی(المتوفی ۸۵۵ ه ق)، باب رعی الغنم علی قراریط، دولسم جلد، صفحه ۷۹،  د حدیث شمیره ۱۶۲۲، د چاپ ځای، دار احیاءالتراث بیروت). حدیث صحیح.

[2]- سنن ابو داؤد ، **أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني** (المتوفى: **275**هـ) ، تحقيق: **محمد محيي الدين عبد الحميد**، کتاب الامارة، جلد ۳، صفحه ۱۳۰ ، حدیث شمیره ۲۹۳۲، د چاپ ځای، دارالکتاب العربی بیروت. حدیث ضعیف.

نو پدې اساس ویلی شو چې د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې کار کول د افرادو حق نه ګڼل کیږي، بلکې یو مسؤلیت او امانت دی چې دحکومت مشران به  په ټولنه کې اهل او امین خلک مشخص کوي او بیا به ورته دا مسؤلیتونه سپاري، که دا حق ګڼل کیدای نو نبي علیه السلام به هیڅکله هم څوک د خپل حق د غوښتلو څخه منعه کړی نه وی.

## دوهم مطلب- د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې خپله د کار غوښتنه روا ده او که ناروا :

په پورته مطلب کې د ذکر شوو دلایلو څخه علاوه نور دلایل هم شته دی چې دا را په ګوته کوي ، چې د اسلامي شریعت له نظره دا روا عمل نه دي چې یو څوک دې په اسلامي حکومت کې مسؤلیتونه خپله وغواړي، بلکې اصل دا دي چې حکومت به دا وظایف د اهلیت او امانت په اساس تقسیموي، او اسلامي شریعت مؤمنان د دي عمل څخه منعه کړي دي چې په اسلامي حکومت کې خلافت او یا نور لوړ پوستونه خپل وغواړي، چې په لاندې ډول نوورو دلایلو ته هم اشاره کوو.

قرآن کې الله تعالی فرمایي:

**(تِلْكَ الدَّارُ الآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لا يُرِيدُونَ عُلُوّاً فِي الأَرْضِ وَلا فَسَاداً وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ)**[1]

ژباړه: داخرت هغه کور خو به دهغو خلکو لپاره مخصوص کړو چې په ځمکه کښې خپله لوئي نه غواړي او نه د فساد کولو اراده لري. او نیك عاقبت یوازې د پرهېزګارانو لپاره دی.

یعنې هغه څوک چې خپله منصب غواړی، پداسې حال کې چې اسلام خلک له دې کار څخه منعه کړی دی ، دا ګویا په دې معنی ده ، چې نوموړی شخص خپل خاص اهداف لري، چې هغه عبارت دی له دې څخه چې په ټولنه کې دې عزتمن او د لوړ منصب څښتن شي، او د دې لارې څخه په نامشروع طریقه دولت او پیسې لاسته راوړي، او له دې لارې په ټولنه کې فساد خپور کړي، نو دا شخص به په آخرت کې د اخروي کور او نعمتونو څخه محروم شي، او د آیت په اخري برخه کې الله تعالی فرمایي چې پدې برخه کې چې څوک تقوی اختیار کړي یعني دا کار ونکړی نو د دغو خلکو عاقبت به نیک او ښه وي.

---

[1]- سورة القصص ۸۳ آیت.

د پورته دلایلو په اساس داسې ښکاري چې د دولتي مسؤلیتونو او وظیفو غوښتنه یو مناسب او روا عمل نه دی، که روا عمل وای نو نبي علیه السلام به صحابه کرام او عام مؤمنان د دې کار څخه نه منعه کولی، او د عقل تقاضا هم دا ده چې دولتي وظایف یو قسم مسؤلیت دی، نه امتیاز، او یو مسؤلیت باید یو شخص خپله ونه غواړي، او که دا کار کوي نو د پورته دلایلو په اساس دا کار یو ناروا او نا مناسب عمل ښکاري.

ښه دلته یوه پوښتنه پیدا کیږي، او هغه دا چې په اوس وخت کې چې اکثره پوستونه اعلانیږي او د اوسني عرف مطابق خلک باید هغې ته خپل غوښتنلیکونه وړاندی کړی تر څو یاد پوست ته شارټ لست شي، او که خپل غوښتنلیکونه وړاندی نکړی ، نو څوک یې پوښتنه هم نه کوي،پداسې حال کې د شریعت حکم څه دی، او په همدې شکل یوسف علیه السلام بیا ولي د مصر د باچا څخه د یو اوچت منصب غوښتنه وکړه، لکه الله تعالی چې د هغه قول رانقلوي او فرمایي:

**(وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ (54) قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ).**[1]

ژباړه: باچا وویل:' هغه ماته راولئ چې زه هغه د ځان لپاره مخصوص کړم' کله چې یوسف علیه السلام له هغه سره خبرې وکړې نو هغه وویل' اوس ته زما په وړاندې قدر او منزلت لرې او ستا پر امانتدارئ پوره ډاډمن یم'، یوسف ع وویل:' د هیواد خزانې ماته وسپاره، زه ساتونکی هم یم او عالم هم'.

نو د دې آیت په هکله کابلی تفسیر لاندې خبری ته اشاره کړی ده چې وایي:

(که یو سړی سره له نیک نیتئ داسې وګڼې چې د هغه منصب لپازه زه اهل یم، او له نورو ځنی به دغه کار په ښه شان سره اداء کړای شم، نو دغه د مسلمانانو د خیر غوښتلو او نفع رسولو له امله که د هغه غوښتنه یا مطالبه وکړی کولی یې شي، او که حسب الضرورت خپل د ځینو حسنه ؤ خصالو او حمیده ؤ اوصافو بیان او تذکره هم وکړی، نو دغه به په کومې ناجایزی مدحی کې نه وي شامل او نه به په ممنوعه تزکیه د نفس کې داخل وي، - **(وَ اَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ** [2]**)**، د عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه له یوه حدیثه معلومیږی(هر څوک چې پخپله د امارت طالب شی ، نو د هغه بار د ده پر اوږو باندی

---

[1]- سورة یوسف ۵۴ او ۵۵ آیتونه.
[2]- سورة ضحی ۱۱ آیت.

اچولی کیږی (او غیبی اعانت ورسره مدد او مرسته (امداد) نه کوی) او دغه په هغه وخت کی ده چې دغه طلب محض نفس پاللو او دجاه او د لوړوالی د خوښولو او نورو دنیوي اغراضو په بناء نه وي. والله اعلم.)[1]

د یوسف علیه السلام د منصب غوښتلو په هکله بیا علامه مودودی رحمة الله علیه [2] په خپل کتاب اسلامي رياست په دوهم ټوک کې بیا دا رنګه نظر لري:

(په دې ځای کې چاته دا شک پیدا نه شي، چې که چیری همدا ( د منصب نه غوښتل ) د اسلام اصول وي نو بیا سیدنا یوسف علیه السلام ولي د مصر د پادشاه نه د حکومت منصب وغوښت.

په حقیقت کې سیدنا یوسف علیه السلام په کوم اسلامي هیواد او اسلامي حکومت کی نه ؤ بلکې په یوه کافر ملک او کافر حکومت کې ؤ، هلته د څه ځانګړو شرایطو له مخې هغه محسوسه کړه چې کچیری په دې وخت کې زه د پادشاه نه د کوم ستر منصب غوښتنه وکړم نو ماته ترلاسه کیدی شي او د همغې له مخې به په دې ملک کې د الله تعالی د دین د خپرولو لپاره لاره پرانیزم ، خو کچیری زه د اقتدار د دې غوښتنې څخه لاس واخلم نو د دې کافر قوم د لارښوونې لپاره چې کوم خاص فرصت راته تر لاسه کیدونکی دی هغه به مې هم له لاسه ووځي، هغه ځانګړی حالات ؤ چې د اسلام په عامه قاعده کې نه شي رالنډیدای(نه داخلیږي).[3]

پدې هکله محترم استاد سید اکرم هاشمی په خپل کتاب (د افرادو سیاسي حقوق ) ۱۶۶ او ۱۶۷ مخونه کې همدې موضوع ته اشاره کړی ده چې دلته یې مونږ. کټ مټ را اخلو:

(څرنګه چې له یوې خوا د وظایفو طلب اوغوښتنه د اسلام له نظره په زړه پورې کار نه دی او له بلې خوا د دولت رئس مکلف دی ، چې وظایف صالحو او باکفایته اشخاصو ته وسپاری، چې د دغو اصولو تعمیل په اوسنیو شرایطو کې ګران کار معلومیږي، نو د دې مشکل د حل لپاره داسې تصویب شوي دی، چې وظایف په دوه ډوله دی:

---

[1]- کابلی تفسیر ، سورة یوسف، ۱۳۵۳ مخ.

[2]- مولانا مودودي په کال ۱۹۰۳ م ۲۵ ستمبر ه ق د رجب ۱۲ سره سمون خوری د جمعی مبارکی په ورځ د جیلی نوم کلی کی چې د حیدرآباد- هند ایالت کی واقع دی، په یو دینداره او مثقفه کورنی کی دنیا ته سترګی وغړولی، د خپل پار په لاس یې د لغتی عربی ، قرآن ، حدیث او فقه زده کړی وکړی، په کال ۱۳۳۷ ه ق کی د صحافی په توګه کار پیل کړ، په کال ۱۳۶۰ ه ق کی په هند کی د جماعت اسلامی په نوم ګوند جوړ کړ او ۳۰ کال یې د هغی مشری وکړه، تقریباً د ۱۰۰ څخه زیات تألیفات لري، چې مشهور یې المصطلاحات الاربعة، خلافت او ملوکیت، د تفهیم القرآن په نامه سره تفسیر هم لري، او په کال ۱۹۷۹ م کی د سمتبر د میاشتی په ۲۲ وفات او د لاهور په ښار کی د کور سره نژدی دفن شوی دی، ویکی پیډیا.

[3]- ابوالاعلی مودودی، اسلامي رياست ، دوهم ټوک، د پاڼې ګڼه، ۴۸۵ او ۴۸۶، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ش ، د چاپ ځای :پیغام خپرندویه مرکز،

۱ – مهم وظایف: لکه وزارتونه، اداري ، ریاستونه، او عسکري قیادتونه او رهبري.

۲ – وړې او غیر مهمې وظیفې: چې له پورتنیو وظایفو یې مسؤلیت او اهمیت کم دی.

له پورتني طبقه بندی څخه وروسته وایو چې : د دولت رئس مکلف دی ، چې د لومړی درجې وظایفو د اشغال لپاره هغه اشخاص پیدا کړی، چې د شرعي میزان او مقیاس پر اساس برابر اود نوموړو وظایفو لپاره اهل وي، خو د دویمي درجې وظیفو لپاره د مناسبو اشخاصو پیداکول او د وظیفي ورسپارل ربښتیا چې د امکان نه وتلی معلومیږي، نو په دې برخه کې ویل کیږي، چې دولت باید یو داسې نظام او قانون جوړ کړی، چې په هغې کی د وظیفی د اشغالولو ټول شرعي شرایط او ضروري اوصاف ذکر کړي، تر څو خلک د هماغو شرایطو او اوصافو په درلودلو سره د وظایفو د اشغال لپاره دولت ته مراجعه وکړي، نو هر څوک چې په هغو شرایطو او اوصافو برابر وي، باید په وظیفه وټاکل شي، که څه هم د دولت رئس سره خصوصي مخالفت او مخاصمت ولري، او هرڅوک چې په دغو شرایطواو اوصافو برابر او موافق نه وي ، باید چې وظیفه ورنه کړل شي ، که څه هم د دولت د رئیس سره د خپلوۍ ، دوستۍ، او یا حزبي ارتباط ولري.)[1]

د دې لپاره چې هم په احادیثو عمل شوي وي، او هم د اوس وخت مشکلات حل شوي اوسي، نو پورته نظر ښه ښکاري، پدې مانا چې د دولت مسؤلین باید اهمو مسؤلیتونو لپاره وړ او اهل اشخاص خپله انتخاب کړی، او د ټیټ ارزښت پوستونو لپاره مناسب شرعي او وظیفوي شرایط ذکر کړي او هر چا چې ذکر شوي اوصاف پوره کړل ، هغه د دې مسؤلیت اهل دی، که د وظیفی په دوران کې داسې ښکاره شي چې نوموړي د دې مسؤلیت اهل نه دی، کیدای شي چې په ظرفیت سازی یې کار وشي او که بیا هم د دې مسؤلیت جوګه نه وي ، کیدای شي چې لرې شي او بل کس یې پر ځای مقرر شي. والله اعلم .

## دریم مطلب- د اسلامي شریعت له نظره په دولتي ادارو کې د کارکولو شرایط:

د اسلامي شریعت له نظره دولتي وظایف او مسؤلیتونه امانتونه دي، او پدې هکله د الله تعالی ارشاد دي چې تاسې امانتونه خپل اهل خلکو ته وسپاری، لکه الله تعالی چې فرمایې:

[1]- سید اکرم هاشمي، د افرادو سیاسي حقوق، د پاڼي ګڼه، ۱۶۶ او ۱۶۷ ، د چاپ کال ۱۳۹۵ ه ش ، د چاپ ځای ، یار خپرندویه ټولنه.

(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعاً بَصِيراً)[1]

مسلمانانو ! الله تاسي ته حکم کوي چې امانتونه د هغو اهل ته وسپارئ، او کله چې د خلکو په مينځ کښې فيصله کوئ نو په عدالت سره يې وکړئ، الله تاسې ته په دې سره ډېر لوی نصيحت کوي او په باوري ډول الله اوريدونکي او ليدونکي دی.

همدارنگه د اسلامي شريعت له نظره د يو مسؤليت لپاره دوه اهم شرطونه په نظر کې نيول شوي دي، چې هغه عبارت دی له:

لمړی – د يو کار کولو اهليت او وړتيا درلودل، يعنی اهل کار به وي.

دوهم- شخص به امين، صادق ، په وعده وفاکوونکی،ديندار‌ه او تقوا داره وي، ترڅو خپله وظيفه په ښه شکل ترسره کړی.

لکه الله تعالی چې د موسی عليه السلام په هکله د شعيب عليه السلام د لور قول رانقلوي او فرمايي:

(قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنْ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الأَمِينُ)[2]

ژباړه: له هغو دوو ښځونه يوې خپل پلارته وويل (( پلاره، دغه سړی نوکر ونيسه، يو ډېر ښه سړی چې ته يې نوکر نيسې هماغه کېدای شي چې قوی او امانتدار وي ) ) .

د دې آيت په تفسير کې کابلی تفسير ليکلی دي:

(يعنې په موسی عليه السلام کې دواړه صفات موجود دي ، زورور دی چې يواځې لويه تيږه (ګټه) يې د کوهی له سره لرې کړه، چې هغه به په څو تنو لرې کيده، په ډير قوت او ميړانه (بهادری) سره يې اوبه وويستلې او زمونږ رمه يې په لږ وقت کې اوبه کړه او ګرده (ټوله) د اوبو ويستونکی مجمع

[1]-سورة النساء ۵۸ آيت.
[2]- سورة القصص ۲۶ آيت.

يې سره لرى کړه او امانت دار دى چې هيڅ طمع او توقع نه لرى او ډير عفيف او يو شريف زلمى دى تر دى چې په لاره کې هم له ما ځنى پر مخ ته چې پر ما يې له سره نظر ونه لګيږي).[1]

نو د پورته آيت او تفسير څخه معلوميږى چې د يوې وظيفى او مسؤليت په سپارلو کې اسلامي شريعت دوه اهم صفات ذکر کړى دي چې يو د هغو څخه د وظيفي اهل توب دى،يعني د ورسپارل شوى وظيفي مربوطه وړتياوي ولري تر څو هغه په احسن او ښه شکل ترسره کړاى شي، او دوهم په شخص کې امانت دى، پدې معنى که شخص امين ونه اوسيږي، نو که هر څومره وړتيا او اهليت ولري بيا به هم په خپله وظيفه کې خيانت کوي او خپله وظيفه به په ښه شکل نه ترسره کوي، نو فلهذا دا دوه صفات ډير اهم صفات دى چې بايد په يوشخص کې موجود وي.

کچيرى يو څوک داسې يو شخص په يوه وظيفه وګماري چې د دې شخص څخه بل شخص نوموړى مسؤليت ته ډير اهل وى نو دې ګمارونکي شخص لوى خيانت وکړ،هم دخپل هيواد اوهم د خپل ولس سره.

نو په آخر کې دا په لنډ شکل ويلى شو چې اسلامي شريعت د مسؤليتونو لپاره عام شرايط همدا اهليت او امانت ټاکلى دى، هر څوک چې د يوې وظيفي د اداء کولو وړتيا او اهليت ولري او امين هم وي نو نوموړى شخص د دې اهل ته چې ذکر شوى وظيفه ورته وسپارل شي، او که په دې اړه چا خيانت وکړ يعني يو داسې شخص ته يې وظيفه وسپارله چې د دې مسؤليت اهل نه ؤ نو دا شخص لوى خاين دى، چې هم يې د الله تعالى سره خيانت وکړ او هم يې خپل هيواد او ولس سره.

---

[1]- کابلى تفسير، دوهم جلد ۴۹۷ او ۴۹۸ مخونه.

# پنځم فصل

## د نوماندي یا کاندیداتوری حق

په دې فصل کې به په دې بحث وکړو چې نوماندی یا د ځان کاندیدولو حق څخه هدف څه دی، په همدې شکل به د افغانستان د قوانینو له نظره دا حق وڅیړو او په اخر کې به د اسلامي شریعت نظر په دې هکله راواخلو چې د ځان کاندیدول یا نوماند کول جواز لري او کنه ، چې هر یوه موضوع د بیل بیل مبحث لاندې تر څیړني لاندي نیسو.

## لمړی مبحث- د نوماندی د حق پیژندنه:

د نوماندیٔ یا د کاندیدیدلو حق چې عربی کې ورته حق الترشیح (یا د ځان کاندید کولو حق) هم وایې او کاندید ته (مرشح) وایې ، عبارت له دې څخه دی، چې یو شخص د دې ازادی او حق ولري چې په قانون کې د ذکر شوو شرایطو د پوره کیدو په صورت کې وکولای شي چې ځان ریاست جمهوری ، ولسي جرګي او یا نورو شوراګانو ته کاندید( نوماند) کړي، که دا شخص د یوې منطقي او سیمي د خلکو په غوښتنه په آزاد شکل ودریږي او یا د یو سیاسي تنظیم (ګوند) لخوا ودریږي، نو ودریدای شي، او په دې برخه کې ورسره هیڅ قسمه ژبنی، قومي، مذهبی او یا نور قسمه تبعیض و نه شي ،چې دې ته د نوماندی حق ویل کیږي.

## دوهم مبحث- د نوماندی حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

د افغانستان اساسي قانون هم د بشر دحقوقو د نړیوالی اعلامیې د یوویشتمې مادې په څیر دا حق خپلو افرادو ته ورکړی دی چې د خپل هیواد په اداره ، نظم او هر اړخیز پرمختګ کې د فعال ګډون په منظور ځان د ریاست جمهوری او یا نورو جرګو لکه ولسي جرګي، ولایتي او یا هم د ولسوالیو جرګو ته ځان کاندید (نوماند) کړي، دا موضوع د افغانستان د اساسي قانون په دري دیرشمه ماده کې په لاندې ډول ذکر شوی دی:

**دری دیرشمه ماده:**

(د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابیدلو حق لري، له دې حق څخه د ګټې اخستو شرایط او لارې د قانون له لیارې تنظیمیږي).[1]

د افغانستان د اساسي قانون د دې مادې په اساس د افغانستان ټول اتباع کولای شي چې مختلفو پوستونو ته ځان کاندید کړی، دا چې هر پوست ځانګړی شرایط لري نو هغه د ټاکنو په قانون کې ذکر شوی دی، چې دلته یې مونږ په لنډ ډول ذکر کوو.

## لمړی مطلب - د جمهوري ریاست د نوماند شرایط:

د افغانستان د ټاکنو قانون په ۳۸ اته دیرشمه ماده کې د جمهوري ریاست د نوماند شرایط ذکر شوي دي چې دلته یې مونږ کټ مټ رانقلوو.

اته دیرشمه ماده:

( (۱)--هغه شخص جمهوري ریاست ته نوماند کیدلای شي چې د لاندې شرایطو لرونکي وي.

۱-- د افغانستان تبعه ، مسلمان او د افغان والدینو څخه متولد (پیدا شوی) وي او د بل هیواد تابعیت ونلري.

۲-- د نوماند کیدو په ورځ د هغه سن له څلویښتو څخه لږ نه وي.

۳-- د محکمې لخوا په بشري ضد او جنایت د جرمونو په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په حرمان محکوم شوی نه وي.

[1]- د ۱۳۸۲ ه ل کال د افغانستان اساسی قانون ۳۳ ماده.

۴-- دوه دورې د جمهور رئیس یا د جمهور رئیس د مرستیال په توګه غوره شوی نه وي.

(۲) -- د جمهوري ریاست د مرستیالی نوماندان هم د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرایطو تابع دي).[1]

که د افغانستان د ټاکنو قانون دې مادې ته وګورو نو زما په نظر په دې ماده کې یو څه خلا ښکاري، او هغه دا چې د رئیس جمهور لپاره هیڅ قسمه تعلیمی او علمي سند ذکر شوی نه دی، چې د ریاست جمهوري لپاره نوماند شخص لسانس وي ، ماسټر وي او یا بله کومه علمي درجه ولري، چې په دې اساس یو بې تعلیمه سړی هم کولای شي چې ریاست جمهوري پوست ته کاندید شي، پداسې حال کې چې د یو هیواد رئیس جمهور باید یو علمي او اکاډیمیک شخصیت وي ، د دین په ضروري مسایلو باندی پوه وي، او د نړی د حالاتو نه خبر وي او نړیوال مسایل په ښه شکل تحلیل کړای شي، نو په یاد قانون کې دا خلا ښکاري ، چې زما په نظر په اوسنیو حالاتو کې د ریاست جمهوري لپاره یو نوماند باید د ضروري دیني علم تر څنګ په یوه رشته کې کم از کم د ماسټری تعلیمي سند ولري، امید دی چې په آینده کې مربوطه مراجع دې ته توجه وکړي.

## دوهم مطلب - د ملي شورى د نوماند شرایط او اوصاف:

د ملی شوری د نوماند شرایط د افغانستان د ټاکنو د قانون په ۳۹ ماده کې په لاندې ډول ذکر شوي دي:

(هغه شخص د ملی شوری غړیتوب ته نوماند یا ټاکل کیدای شی چې د رایې ورکوونکي د شرایطو پر بشپړیدو برسیره، د لاندې اوصافو لرونکی هم وي.

۱-- د افغانستان تبعه وي یا د نوماند یا ټاکل کیدو له نیټې څخه لږ تر لږه لس کاله دمخه یې د افغانستان د دولت تابعیت ترلاسه کړی وي.

۲-- د محکمې لخوا په ضد بشري اود جنایت په جرمونو یا له مدني حقوقو څخه په حرمان محکوم شوي نه وي.

۳-- د ولسي جرګی غړو د نوماند کیدو په ورځ پنځه ویشت کلنی سن او د مشرانو جرګي غړود نوماند یا ټاکل کیدو پنځه دیرش کلنی سن بشپړ کړی وي).[1]

---

[1]- د افغانستان د ټاکنو قانون ۳۸ ماده.

که د ټاکنو قانون پورته مادې ته ځير شو، نو دلته هم يو څه خلا تر سترګو کيږي، او هغه په دوه برخو کې ، لومړی دا چې د ولايتي شورى او د ولسوالۍ شوراګانو د غړيتوب لپاره نوماند بايد د دولسم سند ولري، ولي د ملي شورى د غړيتوب لپاره هيڅ قسمه تعليمي سند يادونه نه ده شوي، پداسي حال کې چې ملي شورى د ولايتي او ولسواليو شوراګانو په نسبت ډير اهم مسايل دبحث لاندي نيسي او فيصلي وربانديي کوي، نو زما په نظر چې دلته هم بايد کم از کم د لسانس درجه ذکر شوی وای دا به بهتره وای.

دوهمه خلا چې په پورته ماده کې ماته تر سترګو کيږي، هغه دا ده چې د ملي شورا د غړو لپاره بالخصوص د ولسي جرګې د غړو لپاره ډير کم عمر ټاکل شوی دی، چې هغه د پنځه ويشت کلنی عمر دی، يو پنځه ويشت کلن ځوان پارلمان ته ليږل تر څو هغه د ملت په سترو قضاياو باندی بحث وکړی او ملي منافع په نظر کي ونيسي، چي تعليم يی هم نه وي ، نو بيا دي د دی هيواد الله مل شي، دا بلکل مناسبه نه ښکاري، پکار خو دا ده چې د ملي شورا دواړو جرګو لپاره د څلويښت کلنی عمر و ټاکل شي ، تر څو يو شخص د عمر پښتګۍ ته ورسيږي، تجربه پيدا کړی بيا که يو داسي ځای ته لاره پيدا کړی نو بيا باک نشته.

## دريم مطلب - د ولايتي شورى او د ولسوالۍ د شوراد غړيتوب د نوماند شرايط:

د افغانستان د ټاکنو قانون په څلويښتمه ماده کې د ولايتي شورى او د ولسوالۍ شوراګانو د غړيتوب لپاره د نوماندانو شرايط په لاندې ډول ذکر کړي دي.

( هغه شخص د ولايتي شورى او د ولسوالۍ شورا غړيتوب ته نوماندکيدای شي چې د رايه ورکوونکي په شرايطو برسېره د لاندې شرايطو لرونکی هم وي.

۱-- د نوماند کيدو په ورځ يې لږ تر لږه پنځه ويشت کلنی سن بشپړ کړی وي.

۲-- لږ تر لږه دوولسم ټولګی د فراغت د سند لرونکي وي).[2]

په پورته ماده کې هم ماته يو څه خلا ښکاری او هغه د ولايتي شورا او ولسواليو شورګانو د غړو لپاره د پنځه ويشت کلنی عمر تعينول، يو څوک چې په ولايتي سطحه او يا د ولسواليو په سطحه وکيل ټاکل کيږي بايد د پاخه عمر خاوند شخص وي، ښه تجربه ولري ، د ټولنی خلک پری راغونډ شي، او زه خو وايم چې د ولسواليو په سطحه بايد قومی مشرانو او سپين ګيرو ته وخت ورکړای شي ترڅو هغوی

---

[1]- د افغانستان د ټاکنو قانون ۳۹ ماده.
[2]- د افغانستان د ټاکنو قانون ۴۰ ماده.

هم ځان په دې نظام کې دخیل وګڼی اګر که تعلیم یې هم نه وي ، ځکه د ولسوالیو په سطحه اکثره کلیوالی مسایل تر بحث لاندی نیول کیږی، چې د ځوانانو په نسبت قومی مشران او سپین ګیری پری ښه پوهیږي او ښه یې حل کولای شي.

د افغانستان د ټاکنو قانون د کلیوالی شوراګانو او همدارنګه د ښاروالیو لپاره د نوماندانو شرایط هم ذکر کړی دی خو په دې ځای کې دهغی څخه صرف نظر کوو، په همدې شکل د افغانستان د ټاکنو قانون د نوماند کیدو لپاره ځینی محدودیتونه هم ذکر کړی چې په لاندې ډول تری یادونه کوو.

## څلورم مطلب - د نوماند کیدو په اړه محدودیتونه:

د افغانستان د ټاکنو قانون په څلور څلویښتمه ماده کې هغه حالات ذکر کړی دی چې په کې یو څوک نشي کولای چې ځان یو پوست ته کاندید کړی چې هغه عبارت دی له:

څلورڅلویښتمه ماده:

لاندې اشخاص ، له خپلو دندو څخه له استعفی دمخه، پدې قانون کې درج ټاکنیزو څوکیو ته نشي نوماند کیدای.

۱ــــ د ستري محکمې رئیس او نور قاضیان.

۲-- لوی څارنوال، څارنوالان او دڅارنوالای د اداري مسلکي غړي.

۳-- وزیران، سلاکاروزیران، د جمهوري ریاست سلاکاران، معینان، د ادارو رئیسان، او دهغوی مرستیالان، د خپلواکو کمېسیونونو رئیسان او غړي، والیان او دهغوی مرستیالان، ولسوالان، سفیران او په بهر کې مېشت د هیواد د سیاسي نمایندګیو کارکوونکي.

۴-- د ملي دفاع کورنیو چارو د وزارتونو، د ملي امنیت دلوي ریاست اود نظامي تشکیلاتو لرونکي نورو وزارتونو او ادارو نظامي منسوبین.

۵ــــد ملکي خدمتونو کارکوونکي.

۶ــــد کمېسیون دایمي او مؤقت کارکوونکي.

۷-- د دولتي لوړو زده کړو د مؤسیسو استادان او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي کادر غړي).[1]

پورته ذکر شوي هغه محدودیتونه ؤ چې د افغانستان د ټاکنو قانون د نوماندانو په وړاندی ایښي دي چې باید د ټاکنو په وخت په نظرکې ونیول شي.

---

[1]- د افغانستان د ټاکنو قانون ۴۴ ماده.

## دریم مبحث- د نوماندی حق د اسلامي شریعت له نظره:

په دې مبحث کې په دې باندی بحث کوو چې ایا انتخابات یا ټاکنی د اسلامي شریعت له نظره یو روا عمل دی او که نه؟ او یو منصب یا یو مسؤلیت ته لکه ریاست جمهوری منصب، یا د ملی شورا عضویت او یا هم بل منصب ته یو شخص خپل ځان کاندید یا نوماند کولای شي او کنه؟ پدې هکله د اسلامي شریعت دریځ څه دی، په کومو حالاتو کې دا عمل روا دی او په کوم حالت کې روا نه دی، په دې مبحث کې به په هم دې موضوعاتو باندې رڼا واچوو.

### لمړی مطلب- انتخابات د اسلامي شریعت له نظره:

د هر څه نه مخکې ضرور دا ده چې په دې پوه شو چې ایا انتخابات د اسلام مبارک دین له نظره روا دی او کنه، که روا وي نو بیا خو طبعاً به یو کس نوماند کیږي او ولس به د اعتماد رایه ورکوي ، او که اصلاً انتخابات روا نه وي نو بیا خو د نوماند کیدو او یا رایه ورکولو سوال نه پیدا کیږي.

پدې هکله د یوه ډله علماؤ نظر دا دی چې انتخابات په اسلام کې نشته دی او دلیل دا راوړی چې دا کار د نبي علیه السلام او خلفاؤ راشدینو په وخت کې نه دی شوی نو فلهذا اوس وخت کې انتخابات کول یو ډول بدعت دی او بدعت کول یو ناروا عمل دی، چې ځان ساتل تری پکار دي.[1]

ولی بله ډله علماء بیا وایې چې اوس وخت کې انتخابات یو روا عمل دی او د اسلام سره کوم ټکر نه لري، چې په دې هکله د مولانا ګوهر رحمن صیب نظر په لنډ ډول را اخلو، هغه په خپل کتاب اسلامي سیاست کې وایې:

(نن سبا ځیني خلک وایې چې د انتخاباتو لړی په اسلام کې نه شته دا په دې خاطر چې په نبوي دور او د خلفاؤ راشدینو رضی الله عنهم په دوره کې د بیلټ پیپر( رای پاڼه) طریقه رواج نه وه، دا خبره په اصل کې د شریعت د اصولو څخه د بی خبری په حالت کې کیږي، په دې لړ کې یو څه اصولي قواعد وړاندې کوو:

لمړی قاعده: ټول شیان اصلاً مباح او روا دی تر هغه پورې چې کوم دلیل د هغه په حرمت دلالت ونه کړی.

---

[1]- اسلامی سیاست، پخوانی ماخذ، ۳۰۵ مخ.

امام احمد رحمة الله علیه فرمايي: ( الاصل فی العادات ان لا يحظر الا ما حظره الله تعالی) عادات او معاملات (پرته د عباداتو څخه) اساساً غیر ممنوع دی مګر دا چې الله تعالی د کومې معاملی څخه منعه راوړی وي.[1]

همدارنګه نبي علیه السلام فرمايي:

**( عن ابی ثعلبة الخشنی قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله فرض فرائض فلا تضیعوها و حرم حرمات فلا تنتهکوها و حد حدودا فلا تعتدوها وسکت عن اشیاء من غیر نسیان فلا تبحثوا عنها)** [2]

ژباړه: یعنې الله تعالی څه شیان فرض کړی دی هغه مه ضایع کوی او څه شیان یې حرام کړی دی د هغی حرمت مه ماتوی، او څه حدود یې ټاکلی دی د هغی نه تجاوز مه کوی، او د ځینې شیانو په هکله د (هیریدو نه بغیر) چپوالی اختیار کړی دی نو تاسو د هغو شیانو په مباح کیدو بحث مه کوي.

ملا علی قاري حنفی رحمه الله د دې حدیث په هکله لیکي چې: دل علی ان الاصل فی الاشیاء الاباحة (دا حدیث په دی دلالت کوي چې په شیانو کې اصل د هغه اباحت او جواز دی).

خو دا قاعده یوازی په عباداتو کې نشی جاری کیدای، خو د رای پاڼې په ذریعه انتخابات کوم شرعي کار نه دی، شرعي حکم شورایت دی، چې د قرآن او سنتو او د صحابه و رضی الله عنهم د سنتو څخه ثابت وي ، انتخابات (Election) یوازی د اعتماد د لاسته راړولو یو وسیله ده چې د عرف او رواج د بدلیدو سره بدلیږي.

د مجلس شوری جوړول په هغه اصلي مباحاتو کې شامل دی چې د هغی په اساس شریعت مونږ ته آزادی راکړی چې د حالاتو مطابق هره لاره چې غوره ګڼی ، اختیارولای شی، او په اوسنی وخت کی د ولس د اعتماد د لاسته راوړلو یوائی لاره همداه ده چې د وټونو په اساس دی اصلي اداره جوړه کړای شی، د( رایې پاڼې) د انتخاب په هکله که کوم شرعي دلیل وی نو هغه رامخته کړی، او که نه وي نو اصلاً په عاداتو ، معاملاتو او آلاتو کې اباحت دی، او دا د عباداتو له ډلی څخه نه دی تر څو د ثبوت نشتوالی د جواز د نشتوالی لپاره دلیل وګرځي، لکه څنګه چې په قتال فی سبیل الله کي د نوی اسلحې

---

[1]- اقتضاء صراط المستقیم د ابن تیمیة لیکنه، ۲۶۹ مخ.، ۱۹۵۰ عیسوی کال کی چاپ، المشکوة المصا بیح باب الاعتصاء.

[2]- مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ، علی بن (سلطان) محمد ، ابو الحسن نورالدین المالا الهروی القاری المتوفی ۱۰۱۴ه.ق، سباب الاعتصام بالکتاب والسنة، اول جز، ۲۷۳ مخ، حدیث شمیره ۱۹۷، ناشر، دارالفکر بیروت لبنان. دچاپ کال : ۲۰۰۲م. حدیث حسن لغیره.

استعمال په دی خاطر منع کیدای نه شی چې دا خو په نبوی دور کې مروج نه وه، نو په همدې توګه د رایې پاڼې په اساس انتخابات هم ناروا نه شو ګڼلای چې په هغه دور کې مروج نه ؤ.[1]

مولانا صیب د انتخاباتو د مشروعیت لپاره دوهمه قاعده د عام عرف ذکر کوي او وايې چې:

دوهمه قاعده: عرف عام په شریعت کې معتبر دی.

و العرف فی الشرع له اعتبار ولذا علیه الحکم قد یدار

(عرف عام په شریعت کې معتبر دی، نو له دې امله په ځیني وختو کې د هغې په پریکړی عمل کیږي).

و فی المبسوط، الثابت بالعرف کا لثابت بالنص (د عرف په اساس ثابت شوی شی داسی دی لکه څنګه چې د نص څخه ثابت شوی وی).

جلال الدین سیوطی رحمة الله علیه شپږمه قاعده دا بیان کړی ده چې (العادة محکمة) یعنې عادات فیصله کوونکی حیثیت لري.

خو عرف ، عادات ، رسم او رواج هلته معتبر وی چې د قطعي نصوصو او اجماع په خلاف نه وي او که نه نو بیا ورته د فقهاؤ په اصطلاح فاسد عرف وایې ، چې د هغې د منځه وړل په کار دی، همدا ډول په تعبدي احکامو کې هم عرف ته څه مقام (حیثیت) نه دی ورکړل شوی ، خو انتخابات یوه انتظامي معامله ده، د راشده خلفاؤ په وخت کې انتخابات د رایې پاڼې په اساس رواج نه وه او نه د هغه وخت په عام عرف کې ورته اړتیا لیدل کیده، خلک لږ وه او په لویو صحابو کرامو رضی الله عنهم دخلکو پوره اعتماد ؤ او هغوی عملاً او عرفاً د خپل ملت نمایندګان او د حل وعقد خاوندان ؤ، خو په اوسنی وخت کی عرف بدل شوی دی نو په دې اساس په دې دور کې د انتخاباتو همدا مروجه لاره ګټوره ده.[2]

---

[1]- مولانا ګوهر رحمن، ، اسلامي سیاست،د پاڼي ګڼه، ۳۰۵ او ۳۰۷ ، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، ژباړن، قریب الرحمن سعید،
[2]- مولانا ګوهر رحمن، ، اسلامي سیاست،د پاڼي ګڼه، ۳۰۷ او ۳۰۸ ، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، ژباړن، قریب الرحمن سعید،

**دریمه قاعده: د سد الذرایع په اساس:**

سد الذرایع یا د فساد او خرابی د ذرایعو مخنیوی کول، کچیری کوم روا او نیک کار د فساد او غیر شرعی ناروا کار ذریعه ګرځي نوبیا هغه کار ناروا او د پریښودلو وړ دی،ترڅو د خرابی دروازی وروتړلی شي.

کچیری د کاندیدی په اساس د وټونو اچولو پرته د شوری جوړول روا هم وي نو بیا هم په اوسنی دور کې د دې لاری په اساس د آمریت او ظالمانه نظام د دروازی د پرانستلو ډیره خطره احساس کیږي، د حضرت ابو بکر ، حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم په څیر حکمرانانو لخوا نامزد کړل شوی خلک مسلمانان د خپل نماینده په توګه په آسانی سره منی خو په اوسنی دور کې د داسې حکمران پیدا کیدل هم سخت چې د هغوی په منتخب شوو خلکو قوم راضی او مطمئن اوسي، او دقوم د اطمینان او اعتماد نه پرته منتخب کړی شوی خلکو ته د حل وعقد مستحق نه شی ویل کیدای، او نه د هغوی پریکړی ولس په پوره اعتماد منلای شی، نو له دې امله دې ته اړتیا ده چې د دې خطراتو څخه د ځان ساتلو په خاطر د وټونو (انتخاباتو) په اساس پارلمان جوړ کړل شی، ځکه چې خلک دا درک کړی چې پارلمان د دوې د منتخبو و کیلانو څخه جوړه شوی دی، نو د هغوی په منځ کې د حکومت په چارو کې د ګډون احساس را ژوندی کیږي او ملی یووالی به نور هم غښتلی شي.[1]

د انتخاباتو د مشروعیت څخه وروسته مولانا ګوهر رحمن صیب په اوس وخت کې د انتخاباتو ځینو مشکلاتو ته هم ګوته نیسي ولی د هغې حل هم وړاندی کوي او وایې:

د ښوونې او روزنې د کم والې په اساس په دې وخت کې په انتخاباتو کې هم تر یوې اندازې پورې د خطر د راپیداکیدو امکان شته، خو که د کاندیدانو لپاره معیاري شرایط (کوم چې اسلامي شریعت ورته ټاکلی دی) وضعه شي ، نو دا خطره به تر ډیره حده پوری لږه شي،په اوسنیو شرایطو کې د انتخاباتو ګټه د هغه د نقصان څخه ډیره ده، نو په دې خاطر اثمهما اکبر من نفعهما ، او اختیار اهون البلیتین او دفع المضره مقدم علی جلب المنفعة، د مسلمه قاعدو په رڼا کې د انتخابانو لاره لږه خطرناکه لاره ده.[2]

---

[1]- مولانا ګوهر رحمن، ، اسلامي سیاست،د پاڼې ګڼه، ۳۰۸ او ۳۰۹ ، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، ژباړن، قریب الرحمن سعید،
[2]- مولانا ګوهر رحمن، ، اسلامي سیاست،د پاڼې ګڼه، ۳۰۸ او ۳۰۹ ، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، ژباړن، قریب الرحمن سعید،

په دې هکله د نورو معاصرو فقهاؤ لکه یوسف قرضاوی ، علامه مودودی او نوروفقهاؤ فتواګانی موجودی دي.

## دوهم مطلب- د نوماندیدوشرعي حیثیت:

دا چې دا خبره واضح شوه چې انتخابات د اوس وخت یو ضرورت دی نو اوس پدې باندې خبره کوو چې خپله ځان کاندید یا نوماند کول روا دی او که نه؟ د فقهې او نورو اسلامي کتابونو کې دا مسئله د دې عنوان لاندې ذکر شوی ده چې ایا یو شخص امارت، مُلک یا بل منصب او مسؤلیت په خپله غوښتلی شي او کنه؟ په اوس وخت کې یو منصب یا کرسی ته ځان نوماند (کاندید) کول او د امارت او منصب (مسؤلیت) غوښتل یو شی دی، فلهذا زمونږ موضوع او د فقهې په کتابونو کې چې کومه موضوع ذکر شوی ده، عینی موضوع ده، چې همدلته پری بحث کوو.

اګر چې دا موضوع په تیر فصل کې هم مونږ د بحث لاندې ونیوله او ډیر دلایل مو پری راوړل، ولی دلته هم پری لږ شان تم کیږو ، د دې موضوع په هکله استاد سید اکرم هاشمی په خپل کتاب ( د افرادو سیاسي حقوق ) کې درې نظرونه را اخستی دی چې هماغه دری نظره سره د دلایلو دلته ذکر کوو، هغه لیکي:

(لمړی نظر-- د دې نظر په اساس امارت غوښتل یا یو منصب ته ځان کاندیدول مطلق منعه دي، او په شریعت کې جواز نه لري، دوی د خپل نظر لپاره لاندې دلایل راوړی.

همدارنګه د عبدالرحمن بن سمرة حدیث چې په لاندې ډول دی:

عن عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال له:

**( لا تسئال الامارة ، فانک أن أعطیتها عن مسئالة وُکلت ألیها، و أن أُعطیتها من غیر مسئالة أعنت علیها).** [1]

ژباړه: د عبدالرحمن بن سمرة نه روایت دی چې نبی علیه السلام هغه ته وفرمایل: ای عبدالرحمن بن سمرة! د امارت غوښتنه مه کوه ځکه چې که هغه درته ستا د غوښتنې له مخې درکړل شي نو د الله تعالی له اړخه به ته همغې ته ورحواله کړل شي، خو که چیری هغه تاته ستا دغوښتنې پرته درکړل شي نو د الله تعالی له اړخه به له تاسره د دی د حق په اداء کولو کې مرسته وکړل شي.

[1]- صحیح البخاری، باب ، جلد ۹، صفحه ۶۳، حدیث شمیره: ۸۲۸۸، حدیث صحیح.

بل حديث کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو کس راغی او ورته ویې ویل چې په یو ځای کې مې د عامل او کارکوونکی په حیث مقرر کړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې مونږ هغه څوک نه مقرروو، چې په خپله یې وغواړي.

ابو ذر رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړچې ماته کومه دولتي دنده وسپاره نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**( عن ابی ذر قال: قلت یا رسول الله ألا تستعملنی قال فضرب بیده علی منکبی ثم قال: یا ابا ذر انک ضعیف و أنها أمانة ، و أنها یوم القیامة خزيٌ و ندامةٌ ، الا من أخذها بحقها ، و أدی الذی علیه فیها.)** [1]

ژباړه: ای ابوذره! ته ضعیف یې ( ته د تقوا او علمیت لرونکی یې خو نور کوم ځانګړي مهارتونه چې د یوې دولتي دندې سرته رسولو لپاره ضروري دي په تا کې نشته)، دغه دولتي دندې امانت دی د قیامت په ورځ د حکومتي دندو خاوندانو ته دا دندې د پښېمانتیا او خجالت سبب ګرځي ، مګر هغه چاته دا دندې د پښېمانتیا او خجالت سبب نه ګرځي، چې د دې دندو د سرته رسولو وړتیا ولري او د دې دندو حقوق په بشپړه توګه اداء کړي.

نو د پورته دلایلو څخه داسې معلومیږي چې ریاست جمهوري یا د ملی شوری او یا نورو شوراګانو ته ځان کاندیدول شرعاً روا نه دي.

دوهم نظر: د دې نظر په اساس هر څوک ځان یو منصب ته کاندیدولی شي ، یا هرڅوک کولای شي چې یو منصب وغواړي او په شریعت کې مطلق جایز دی او کوم ممانعت په کې نشته، دوې په لاندې دلایلو استدلال کوي:

الف- یوسف علیه السلام د مصر پاچا نه وغوښتل چې د ټولو تولیدي منابعو او مالي امورو مشر یې وټاکي او د مصر پاچا ورسره ومنله، نو د اصول الفقه مطابق د پخواني انبیاؤ شریعت او نظام زمونږ لپاره نظام او قانون ګڼل کیږي، ترڅو زمونږ له نظام سره په ټکر کې نه وي، نو دلته یو سف علیه السلام ځان دې منصب ته کاندید کړ او غوښتنه یې وکړه ، چې د ټولو خزانو مشراورئیس په توګه وګومارل شي، کچیرته ځان کاندیدول یا یو منصب غوښتل منعه وی نو یوسف علیه السلام به دا کار نه ؤ کړی.

[1]- صحیح مسلم، مسلم بن الحجاج ابوالحسن القشیری النیسابوری (المتوفی ۲۶۱هق) باب کراهیة الامارة بغیر ضرورة ، جلد ۳، صفحه ۱۴۵، حدیث شمیره ۳۸۵، حدیث صحیح.

ب- عثمان د ابی العاص زوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل، چې ماد خپل قوم امام او مشر وټاکه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، چې ته د هغوی امام شوي.

نو د پورته دلایلو په اساس د دویم نظر علماء وایې چې د منصب غوښتل جواز لري او څه مشکل پکې نشته دی.

دریم نظر- د دې نظر په اساس کچیرته یو کس ځان کې دا لیاقت او قدرت وینې ، چې دغه منصب په صحیح توګه سرته رسولی شي او په نظام کې اصلاح راوستلی شي نو بیا دا یوجایز کار دی او دغه کس کولای شي چې ځان دغه منصب ته کاندید کړی، اما که چیرته دغه لیاقت او قدرت ونه لري او اصلاح نه شی راوستلی بیا ځان کاندیدول جایز نه دی، ځکه یوسف علیه السلام چې کله د خزانو مشري وغوښته هغه پر دې پوهیده چې دا یې وړ او اهل سړی دی او کولای شي چې انصاف پلی او اصلاح راولي او همدانګه هر حقدار ته خپل حق ورکړي).[1]

د پورته دریو نظریو څخه لاندې نتایج په لاس راځي:

لمړی-

د هر څه نه ضروري خبره دا ده چې خپله مسؤلیتونه او منصبونه غوښتل یو مناسب کار نه دی، ځکه دا یو امانت دی او په ورځ د قیامت به د دې په هکله پوښتنه کیږي، او که څوک یې خپله غواړي نو د الله د پیغمبر دقول په اساس به دې شخص سره مرسته نه کیږي، او کله چې د یو شخص سره د الله مرسته نه وي نو کامیابی یې هم نا شونی ده، او که بغیر د غوښتلو ورکړل شي نود الله مرسته به ورسره مل وي.

دو هم-

د غټو منصبونو لکه ریاست جمهوري څوکی اویا د ملي شورا د غړیتوب لپاره ځان نوماند کول ، پداسې حال کې چې دا منصبونه د امتیازاتو په نسبت ډیری مشکلات لري،زما په نظر که د الله رضا او د ټولني خدمت هدف نه وي ، نو ډیر کم خلک به دې کارونو ته زړه ښه کړی، ځکه په دنیا کې به هم د غمونو نه نه خلاصیږي او آخرت کې به هم دالله د ګرفت لاندې یې، که هدفت پیسې او دولت وی نو د سیاست په ځای د پیسو او دولت ګټلو ډیری نوری لاری هم شته دی ،او کچیری هدف د ټولنی خدمت او د

---

[1]- هاشمی ، سید اکرم هاشمی، د افرادو سیاسي حقوق، د پاڼې ګڼه ، ۴۶، ۴۷ او ۴۸، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ه ش ، د چاپ ځای، یار خپرندویه ټولنه،

الله تعالی رضا وي نو بیا ښه خبره دا ده چې په هغه طریقه سره مخکې راشي کومه چې شریعت په ګوته کړې ده، دې لپاره بهتره دا ده چې یو شخص د خپل قوم یا د سیمي خلکو لخوا او یا هم یو سیاسي تنظیم یو کس د خپل تنظیم نه نوماند کړي ، نو بیا دا شخص خپله ځان نه نوماند کوي بلکې خپل قوم او تنظیم یې نوماند کوي نو بیا دا شخص په دې حکم کې نه راځي.

## دریم – عادي منصبونه او څوکۍ:

دا چې اوس وخت کې عامه عرف همدا دی چې یو منصب یا څوکۍ ته اسناد جمعه نه کړی او درخواست ورته ونه کړی ، څوک یې خپله نه درکوي، پداسې حال کې چې یاد مسؤلیت ته لازمه شرایط ذکر شوی وي، نو هر چا چې یاد صفات او شرایط پوره کړل او ځان کې د یاد کار د کولو توانایي ولیدله نو کولای شي چې خپل اسناد جمعه کړی ، چې د اسنادو د جمعه کولو څخه وروسته امتحان اخستل کیږي او بیا انټرویو کیږي ، نو هر شخص چې مربوطه اداری ته مطلوب وي هماغه شخص په کار باندې ګمارل کیږي ،اګر چې په دې برخه کې هم اداری فساد شتون لری، ولی د دې څخه بله چاره هم نشته، ځکه یو تعلیم یافته شخص مجبور دی چې د خپلی کورنۍ د نفقی لپاره او په همدې شکل د ټولنی دخدمت لپاره کار وکړی ، او اوس وخت کې همدا عرف عام دی، نو په دې اساس د یو شخص لخوا د یو منصب غوښتل به یو روا عمل وي او امید دی چې یاد شخص به ګناهګار نه وي. والله اعلم بالصواب.

## دریم مطلب- د ښځو د نوماندیدو شرعي حیثیت:

دا چې په مجلس شوری (پارلمان) او حکومت کې د ښځو ګډون او کار کول جواز لري او که نه او یادو پوستونو ته ځان نوماند کولای شي او کنه، په دی هکله د اسلامی امت دعلماؤ ترمنځ درې نظره وجود لري چی زه یې دلته په لنډ ډول ذکر کوم.

## لمړی جز- لمړی نظر- ښځه په پارلمان او حکومت کې کار نشي کولای:

د مولانا مودودي رحمة الله علیه نظر دا دی چې ښځې نشی کولای چې په اوسنیو حالاتو کې د پارلمان غړی شي او د هغی لپاره کاندیده شي ، په همدې شکل وایې چې سیاست او حکومتي کارونه ، د ژوند هغه برخه ده چې ښځې د دی مسؤلیت څخه بی غمه دی، او په دې هکله یې ګڼ شمیر دلایل د قرآن او سنتو څخه راوړی دی، هغه خپل کتاب اسلامی ریاست کې وایې:

حقیقت دا دی چې اوسنۍ زمانه کې مجلسونه او غونډې په دی نومونو نومول کيږي خو د هغوی کار یوازی د قانون جوړول نه دی، بلکې همغوی ټول ملکي سیاست کنترولوي، همغوی وزارتونه جوړوي او بیرته يې له منځه وړي، همغوی د نظم و نسق پالیسي جوړوي، همغوي د مالیاتو او اقتصاد مسایل مطرح کوی او د همغوی په لاسو کې د سولي او جنګ ټول امور پراته وي.

د دې اړخه د دې غونډو کار یوازي قانون جوړول او افتاء نه ده بلکې د ټول مملکت قوامیت دی.

اوس لږووینئ چې قرآن په ټولنیز ژوند کې دا مقام چاته ورکړی او چاته يې نه دی ورکړی.

**﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ﴾**[1]

ژباړه: نارینه په ښځو قیم ( مدبر او منتظم ) دي، د هغه فضلیت په وجه هم چې الله یوه ته په بل ورکړي او د خپلو مالونو د انفاق په وجه هم ، نو صالحې ښځې مطیع وي او په غیاب کې د هغه څه ساتونکې وي چې الله خوندي کړي).[2]

مولانا مودودي رحمة الله علیه د دغې ایت په شرحه کې بیا لیکي:

په دې آیت کې په څرګنده توګه الله تعالی د قوامیت مقام نارینه و ته ورکړی دی او د صالحو ښځو دوه ځانګړتیاوي یې په کې بیان کړی دی، لومړی دا چې هغوې مطیع وي، دویم دا چې د نارینه و په غیاب کې د هغه څه ساتونکی وي چې الله تعالی یې خوندي کول غواړي.

تاسو به وایې چې دا حکم خو د کورني ادابو په خاطر ورکړل شوي نه د ملکي سیاست په اړه ، خو دلته يې په مطلقه توګه (الرجال قوامون علی النساء) الفاظ بیان کړی دي، په دې کې د (فی البیوت) الفاظ نه شته او د دې الفاظو د زیادښت نه پرته دا حکم په کورنۍ ادابو پورې نه رامحدودیږي، خو بیا هم که ستاسو دا خبره ومنل شي نو مونږ پوښتنه کوو چې هغوې چې الله تعالی په خپلو کورونو کې (قوام) نه دی ګرځولی بلکه د قنوت( اطاعت) ترمقامه یې پرې ایښې دي، تاسو ولې هغوې د ټولو کورونو مجموعي

---

[1]- سورة النساء ۳۴ آیت.

[2]- سید ابو الاعلی مودودی، اسلامي ریاست، د پانې ګڼه ، ۵۹۹، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ش ، د چاپ ځای ، پیغام خپرندویه مرکز، ژباړن، قریب الرحمن سعید.

یعنې د ټول مملکت د قنوت د مقام څخه پورته کوئ او د قوامیت مقام ته یې رسوئ؟ د کور د قوامیت څخه خو د مملکت (هیواد) ډیر مهم او ارزښتناکه مسؤلیت دی.

ایا تاسو د الله تعالی په اړه داسې ګمان کوئ چې هغه په یوه کور کې ښځې ته قوامیت نه ورکوي خو دلکونو او میلیونو کورونو د مجموعي قوامه ګرځوي؟

ګورئ چې قران په څرګندو الفاظو د ښځې د کاردایره د دی وینا له مخې ټاکي چې فرمایې:

**﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمْ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً﴾[1]**

ژباړه: په خپلو کورونو کې د وقار او عزت سره اوسې او د پخواني جاهلیت په څیر د تبرج (زینت او ښایست د ښکاره کولو او د نازو نخرو سره بیرون قدم وهلو) لار مه خپلوئ، لمونځ قایم کړئ، زکات ورکړئ او دالله او دهغه درسول اطاعت وکړئ. الله خو دا غواړي چې له تاسې نبوي کورنی څخه چټلي ایسته کړي او تاسې په پوره ډول سُتره کړي.

بیا تاسو وایې چې دا حکم خو د نبي صلی الله علیه وسلم د کور ښځو ته کړل شوی ؤ، خو مونږ پوښتنه کوو چې ستاسې د مبارک اند له مخې ایا د نبي صلی الله علیه وسلم د کور په ښځو کې کوم زیان و چې د کور نه بیرون یې د مسؤلیتونو په اړه نا اهله ګرځولې وي؟ او ایا نورو ښځو ته په دی برخه کې پر هغوې کوم برتري ور په برخه شوی ده او بیا که چیری دغه ټول ایتونه د نبوت کورنی ته ځانګړی کړل شي نو ایا بیا د مسلمانانو نورو ښځو ته د جاهلیت د تبرج اجازه ورکول کیدای شي؟

ایا هغوی ته به د خپلو محارمو نه اخوا د پردیو نارینه و سره د همغسې خبرو کولو جازه ورکول کیږي چې د هغې څخه د مقابل لورې په زړه کې طمع او هیله راټوکیږي، او ایا الله تعالی د خپل نبي د کور نه اخوا د نورو مسلمانانو کورونه په رجس یا چټلی کې ککړ کتل غواړي.

همدارنګه حدیث کې راځي، نبی علیه السلام فرمایې:

[1]- سورة احزاب ۳۳ آیت.

**(عن ابی بکرة  قال قد نفعنی  الله بکلمة سمعتها من رسول الله صلی الله علیه وسلم بعد ما کدت ان الحق باصحاب الجمل فاقاتل معهم بلغ رسول الله صلی الله علیه وسلم ان اهل فارس ملکوا علیهم ابنة کسری فقال لن یفلح قوم ولوا امرهم  امرأة ..)**[1]

ژباړه: د ابوبکره څخه روایت دی چې کله نبی صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړل شو چې ایرانیانو د کسری لور خپله پادشاه ګرځولی ده ، نو ویې وفرمایل چې هغه قوم به هیڅکله هم بریا ترلاسه نه کړي چې خپل معاملات یې کومې ښځې ته سپارلی وي.

دغه دواړه حدیثونه د الله تعالی د دغه ارشاد (الرجال قوامون علی النساء) ډیر په ځای او درست تفسیر بیانوي او د هغې څخه په ښه توګه ډاګیزیږي، چې سیاست او ملکي معاملات د ښځو د کار د دایري څخه بیرون دي.

د دې څخه وروسته مولانا مودودي (رح) د ښځو د کار د دایري په هکله خبره کړی او وایې چې:

پاتی شوه دا پوښتنه چې د ښځو د کار دایره کومه ده؟

نو د ښځو د کار دایره د کور کار دي او د ماشومانو روزنه ده، همدا د (وقرن فی بیوتکن ) بهترین تفسیر دی او نور تفسیر یې په هغو احادیثو کې دی چې په کې یې ښځې د هیواد د سیاست او هیواد پالنې څخه هم په کمه درجه د کورنه د بیرون فرایضو او واجباتو څخه مستثنی کړی دي.

**(الجمعة حق واجب علی کل مسلم فی جماعة الا اربعة، عبد مملوک، او أمراة او صبي او مریض).**[2]

ژباړه: جمعه په هر مسلمان باندې د جماعت د اداء کولو سره یو ځای واجب ده ، پرته له څلورو ډولو خلکو څخه غلام، ښځه، کوچنی او ناروغه.

[1]-السنن الکبری للبهیقی ، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، الحافظ الجلیل ابی بکر احمد بن الحسین بن علی البهیقی ، جلد ۳، صفحه ۹۰، ناشر: دارالکتب العلمیة بیروت لبنان.طبعه ۱۴۲۴ ه.ق. حدیث صحیح.
[2]- سنن ابی داؤد، جلد اول، صفخع ۲۸۰، حدیث شمیره: ۵۷۸۷، حدیث صحیح.

## دوهم جز- دوهم  نظر- ښځه په پارلمان کې برخه اخستی شي:

مولانا گوهر رحمان صاحب خپله د دی طرفدار دي چی ښځی کولی شی په خپلو لازمو شرایطو پارلمان کی برخه ولري، او د دې لپاره یي ګڼ دلایل راوړی دي ،هغه  په خپل کتاب اسلامي سیاست کې وایي:

(څرنګه چی د غربی جمهوریت بنسټ د ( ملی حاکمیت) په اساس ایښودل شوی دی نو د دی لامله هلته د نارینوو  په څیر ښځی هم د دولت او حکومت مشری کولای شی ، او دلومړی وزیر ( صدراعظم) په حیث هم ټاکل کیدلی شی، خو په اسلامی نظام کی دښځو اوړی دعملی سیاست یعنی دحکومت د نظم و نسق د چلولو څخه خالی دی، څرنګه چی پارلمان ( مجلس شوری) یوه مشوره ورکوونکی انتخابی اداره ده چی د حکومت مشر ټاکی او هغه ته مشوری ورکوی ، قانون جوړه وي، نو آیا د دی اداری لپاره کومه ښځه د غړی په حیث انتخابیدای شی؟ ښه خو دا ده چی په دی هکله د عابدینو فقهاؤ کومه ګډه پریکړه منځ ته راشی، خو هغه رای چی ما د شریعت د اصولو په رڼا کی وړاندی کړی ده هغه دا ده چی ښځه د مشوری ورکولو د حق څخه په شرعی توګه نه ده منعه شوی، د قرآن او سنتو څخه خو د ا خبره په ډاګه ده ، چی ښځی په عمومی ډول د نارینوو په مقابل کی د ناقص عقل خاوندانی دی او همدا علت دی چی نارینه یي په ښځو باندی حاکمان ټاکلی دی، خو ماته د دی خبری کوم دلیل په لاس رانغی چی ګویا ښځه نه شی کولای چی مشوره ورکړی او یا دهغی په مشوره عمل کول ناروا دی، کله کله د ناقص العقل مشوره صایبه ( صحیح) هم وی او ځینی ښځی د نارینوو په نسبت ډیری ذهینی ، پوهه او فقیهی وی، خو په عمومی ډول د نارینه ذهانت په ښځی ډیر دی، همدا علت دی چی د دوه ښځو ګواهی یي د یو سړی د ګواهی سره برابره کړی ده، د امام ابو حنیفه رحمه الله د نظر په اساس ښځی د حدودو او قصاص نه پرته په نورو ټولو چارو کی قاضیه جوړیدای شی.

امام ابن جریر رحمه الله د نظریي په اساس د حدود او قصاص په شمول په ټولو چارو کی ښځه قاضیه ټاکل کیدای شی او د نورو څلورو امامانو له نظره ښځی فتوی ورکولای شی.

نو کله چی ښځه قاضی او مفتی ټاکل کیدای شی نو د مجلس شوري (پارلمان) غړی څنګه نه شی ټاکل کیدای ځکه چی د دی اداری کارونه هم مشوره او فتوی ورکول دی ، د پالیسی جوړولو او قانون جوړولو کارونه هم دفتوی یو برخه ده ، کله چی په محکمه کی د دواړه ګواهانو د ګواهی د اوریدلو وروسته پریکړه کولی شی او یا دګواه په ډول محکمی ته حاضریدلای شی، نو بیا خو هیڅ داسی معقوله

وجه نشته چی په شرعی پردی کې دی د شوری  په غونډه کی ګډون ونه کړی شی او یا دی مشوره ورنکړی شی ، د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کی د امورکم الی النساء کم څخه مقصد د ( مفوضة الی نساءکم) یعنی کله چی ستاسی چاری ښځو ته وروسپارلی شی او یوازی د هغوی په مشوره او پریکړی عمل وکولای شی، نارینوو  په مقابل کی د هغوی پریکړی پوره او کافی وګڼلی شی، نو په هغه وخت کی د ځمکی خیټه تاسی ته د هغه د مخ څخه غوره ده په دی حدیث کی د ښځو څخه مشوره اخستل او یا دهغوی په کوم صحیح نظر د عمل کولو څخه منع نه ده راغلی بلکه په ټولو پریکړو او تصامیمو کی دهغوی د آزادو پریښوولو څخه منع راغلی ده، په همدی ډول ( **الرجال قوامون علی النساء...**) سړی په ښځو حاکمان دی) یا (**لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة ...**) هغه ملت به هیڅکله کامیاب نه شی چی هغوی د خپلو چارو واګی د ښځو په  لاس کی ورکړی وی،  په دی آیت او حدیث کی یې ښځی د مشوری ورکولو فتوی او تحقیق کولو یا پیشنهاد ورکولو څخه نه دی منع کړی بلکه د حکومت نظام د ښځو په لاس کی د ورکولو څخه یې منع راوړی ده).[1]

## دریم جز-دریم نظر- ښځه په پارلمان او حکومت کې کار کولای شي.

په همدی ډول علامه  دوکتور یوسف قرضاوی په خپل کتاب دین او سیاست کی د ښځو د حقوق د عنوان لاندی دا موضوع ښه په تفصیل سره څیړلی ده او د خپلو خبرو لپاره یې د قرآن او سنتو څخه دلایل هم وړاندی کړی دی چی د هغی ځینی برخی ستاسو مخی ته ړدم:

هغه د ذکر شوی کتاب په ۲۶۲ او ۲۶۳ مخ کې لیکی چی:  څوک چی د اسلام په بنسټیزو مصادرو خبر دي، په دی ښه پوهیږي چی اسلام لومړنی دین دی چی ښځی ته یې آزادی ورکړی، انصاف یې ورکړی، او کرامت یې وربښلی ، ښځي ته یې د انسانیت په چوکاټ کی د لوړ میرمنی، او مور په سترګه کتلی او دټولنی یو فعاله غړی یې شمیرلی.

دا ټول هغه څه دی چی مونږ یې د قرآنی آیتونو په بهیر کی او دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په قولی او فعلی سنتو کی ښکاره ګورو، چی صحابه وو کرامو هم د قرآن او سنتو په رڼاکی ښځی ته همدغه مقام ورکړی دی.

قرآن په برابره او مساوی توګه نارینه و او ښځینه و ته اجتماعی اوسیاسی دندې سپارلی ، چی وایي:

[1]- مولانا ګوهر رحمن ،اسلامي سیاست،د پاڼي ګڼه، ۳۱۰ او ۳۱۲، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، د چاپ ځای ،  پیغام نشراتي مرکز،ژباړن، قریب الرحمن سعید،

﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ سَيَرْحَمُهُمْ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾.[1]

ژباړه: مؤمنان نارینه او مؤمنانې ښځې، داټول د يو بل دوستان دي، په ښو چارو امر او له بدیو نه منع کوي، لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي دا هغه کسان دي چې پر هغو به د الله رحمت نازلېږي، بېشكه الله پر ټولو بر لاس اوحكيم دی .

ښكاره ده چی امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اسلام له مخی لکه څرنګه چې یوه ټولنیزه دنده ده ، همداسی سیاسی دنده هم ده.[2]

د همدی کتاب په ۲۶۴ او ۲۶۵ مخ کی لیکي :ښځه د اسلام په تاریخ کی د نارینه وو سره په هر څه کی شریکه وه، په جومات کی د نارینه وو سره لمانځه ته حاضریده، صفونه به يي ترنارینه وو وروسته ودريدل، د علم اوتعليم په ناستو کی به يي د نارینه وو سره اشتراک کولو، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه به یي په ځانګړی توګه د علم زده کړه کوله، په حج او عمره کی به يي برخه اخیسته، د جهاد په ډګر کی به يي په غزواتو کی برخه اخیسته، د لښکر د خدمت لپاره به یي د زخمیانو درملنه کوله، د اړتیا په صورت کی به یي توری ته هم لاس غځولو، ښځی به د مسلمانانو مشرته په سختیو کی مشوره ورکوله لکه څرنګه چی ام سلمی رضی الله عنها د حدیبی په پیښه کی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته مشوره ورکړه، کله نا کله به چی د مسلمانانو د مشر خبره ښځو ته خطا څرګنده شوه ، په زغرده به يي ردوله اګر که د مسلمانانو مشر به په منبر هم ناست ؤ، لکه څرنګه چی د عمر فاروق په زمانه کی همداسی وشول.

د عمر رضی الله عنه په زمانه کی ښځه د بازار کنترولوونکی او محتسبه وه، شفاء بنت عبدالله العدویه هغه ښځه وه چی دا دنده يي ترسره کوله، ترڅو خلک د خرڅلاو پروخت د الله شریعت ته متوجه کړی ، دا داسی دنده وه چی تنبیهی او تادیبی حالت يي درلود او د اجرایوی صلاحیت څخه برخمنه وه.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه جواز ورکوی چی ښځه پرته له جنایاتو څخه په نورو مسایلو کی قاضی وګمارل شی، امام طبری او ظاهریان په ټولو شیانو کی د ښځو قضا مني .

---

[1]- سورة التوبة ۷۱ آیت.

[2]-یوسف قرضاوي، دین او سیاست، د پانې ګڼه، ۲۶۲ او ۲۶۳، د چاپ کال ۱۳۹۱ ه ش ، د چاپ ځای ، انتشارات اصلاح افکار، ژباړه، خلیل الرحمن حنیف.

همدارنګه زمونږ فتوا د دی اجازه هم ورکړی چی ښځه د پارلمان لپاره ځان ونوموي، په دې شرط چی اهلیت یي ولري، په اړه یي ماد متشددينو ټولی را ولاړی شوی دعواوي ردکړی.

دا چی قرآن د کورنی د مدیریت لپاره نارینه ټاکلی څرنګه چی وایی:

**(الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ)**[1]

(ژباړه يې مخکې ذکر شوی ده).

نارینه پرښځو مسلط اداره چیان دی ، د دی مانا دا نه ده چی ګواکی نارینه تر ښځو غوره دی ، په دی اړه په قرآن او سنتو کی صریح څه نه لیدل کیږی، بلکه دا ددی لپاره چی واده یو شریک عقد او قرارداد دی ، ضرور باید یو مدیر ولری، او نارینه تر ښخو په مدیرت ښه پوهیږي، ځکه لکه مخکی مو چی وویل د پایلو ارزول تر ښځو نارینه ښه ښودلی دی، بل دا چی نارینه د کورنۍ نفقه په غاړه لری، د کورنۍ د تاسیس او دوام لپاره خرچه کوي، نو ځکه د دی تاسیس مشر هم نارینه ټاکلی شوی، کچیری دا تاسیس لمنځه ځی نو زیان یي نارینه ته رسيږي، په هر صورت نارینه زینمن کیږی، خو د دی مدیریت مانا دانشی کیدای چی نارینه دی په هر څه کی د استبداد او زور ځخه کار اخلی ، دا کار په دی مانا نه دی چی نارینه دی په هیڅ کار کی د ښځی سره مشوره نه کوی، دا د مؤمنانو کړنه نشی کیدای، ځکه چی مؤمنان یو دبل سره په مشوره مامور شوی دی ، قرآن وایي ( و أمرهم شوری بینهم- ۳۸ ) خپلی چاری په خپل منځ کی په مشورې سره سرته رسوی ، وایي څوک چی استخاره کوی پس به پاتی نشی، څوک چی مشوره کوی پیښیمانه به نشی.[2]

دا ؤ د دری سترو معاصرو علماؤ نظریات چی په دی هکله یي وړاندی کړی دی، خو که په دی هکله د هر هیواد د ظروفو او شرایطو په نظر کی نیولو سره د هماغه هیواد دینداره فقهاء یوه داسې پریکړه وکړي چې د ټولنې مصالح پکې نغښتي وي دا به بهتره وي، والله اعلم بالصواب.

---

[1]- سورة النساء ۳۴ آیت.

[2]- یوسف قرضاوي، دین او سیاست، د پاڼي ګنه، ۲۶۲ او ۲۶۳، د چاپ کال ۱۳۹۱ ه ش ، د چاپ ځای ، انتشارات اصلاح افکار، ژباړه، خلیل الرحمن حنیف.

## څلورم مطلب- د غیر مسلمو د نوماند کیدو موضوع:

اوس خبره په دې کوو چې ایا یو غیر مسلمه شخص په یو اسلامي هیواد کې ریاست جمهوري او یا بل منصب ته ځان نوماند کولای شي او که نه، په دې هکله یوسف قرضاوي صیب په خپل کتاب دین او سیات کې بحث کړی دی چې دلته یې په خلص دول را اخلو، هغه لیکي:

(راځو د دولت د ریاست قضیې ته، آیا اقلیت (په اسلامي ټولنه کې په دیني لحاظ لږکي) ترې محروم دي؟

واقعیت دا دي چې اسلامي دولت ، یو عقیدوي دولت دی، د فکر او رسالت دولت، چې د دین سره مستقیم تړاو لري، هیڅ وخت د دین نه جلا کیدای نه شي، د لومړنیو مسؤلیتونو څخه یې دا دی چې د الله دین په ځمکه کې اقامه کړی، او دفاع ترې وکړي، نو د اسلامي دولت ریاست داسې ځانګړني لري چې د دین سره یې علاقه زیاته ښکاري، د اسلامي دولت رئیس ځیني داسې دندې لري چې پرته له مسلمان څخه یې بل څوک نشي اداء کولای لکه د خلکو د لمانځه امامت، د مسلمانانو پاچا د دوی د لمانځه امام دی، د مسلمانانو سرلښکر او قومندان دی، د خلکو د شخړو ترمنځ قاضی دی، د دین په ساتنه اود دنیا په سیاست کې د رسول الله نایب دی، لکه څرنګه چې علماء وایي، د اسلامي دولت رئیس د اسلام په عملي کولو کې لومړنی مسؤول دی، هغه که عقیده ده که شریعت، عبادت دی که معاملی ، دعوت دی که دولت ، قرآن دی که سلطان، دین دی که دنیا لکه څرنګه چې الله تعالی وایي:

**( اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَ اَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَ نَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَ لِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ)** [1]

ژباړه: داهغه کسان دي چې که مونږ دوېته په زمکه کښې قدرت ورکړو نو لمونځ به قایم کړی. زکات به ورکړی، په ښوچاروبه امر وکړي اوله بدیونه به منع وکړي، او دټولو چاروپای دالله په لاس کښې دی.

ګورو چې د قدرت پروخت لومړنی عمل د لمانځه اداء کول او د زکات ورکول دی، او دا د مسلمانانو حالت دی ، چې غیر مسلمان وګړي یې نشي کولی.

[1]-سورة الحج ۴۱ آیت.

کیدای شي، د رئیس دولت یو معاون د غیر مسلمانانو څخه وي، په دې هکله کوم مانع نشته، په ځانګړي توګه هغه وخت چې غیر مسلمان اقلیت لوی وي ، لکه نن ورځ په سودان [1]کې همداسې دي.

پرته له دې مهم منصب څخه چې ریاست دولت دی، نور ډګر (میدان) غیر مسلمانانو ته آزاد دی، کولی شی د شرایطو په درلودلو سره او د اهلیت په لرلو سره هر منصب د ځان کړي، کیدای شی غیر مسلمان د اهلیت په لرلو سره وزیر شي، لکه څرنګه چې امام ابوالحسن الماوردي ، او امام ابو یعلی الفراء په احکام السلطانیة کې همداسې وایې ، چې اهل ذمه کولی شی د وزارت تنفیذ دنده په غاړه واخلي.

ځیني وزارتونه هم ډیر مهم او حساس دي، لکه وزارت دفاع او وزارت داخله ، مهمه دا ده چې په ټولنه کې محبوبیت او اعتماد تر کومې اندازې دی، کچیری د اعتماد او وروروله کچه د ټولنې د وګړیو ترمنځ لوړه شي نو بیا ټولې ستونزې حل کیدای شي.[2]

البته په دې هکله مولانا ګوهر رحمن صیب په خپل کتاب اسلامي سیاست کې لیکي چې یو غیر مسلمه شخص کولی شي چې په اسلامي حکومت کې د پارلمان غړی شی ولي لوړ منصب نه شي ترلاسه کولای ، هغه لیکي:

(په اسلامی نظام کی د نا مسلمانو دحقوقو د ساتنی سخت ډیر تاکید شوی دی او اسلامی ریاست د مسلمانانو په څیر د هغوی د مال ، ځان ، او ابرو د ساتنی مسؤل دی، حکومت مکلف دی چی د مسلمانانو په څیر د نا مسلمانو بنیادی ضرورتونه رفع کړی، هغوی ته د خپل دین په اساس د تلنی پوره اجازه وکړی شی، خو په دی شرط چی د اسلام او اسلامی شعایرو توهین به نه کوي، او نه به د هغی په خلاف پروپاګند کوي، هیڅ یو مسلمان ته بر د مرتد کیدو جازه ورنه کړی شی، همدا راز د حکومت په لوړو او مهمو پوستونو باندی د نا مسلمانو خلکو ګمارل هم منع دی، دا په دی خاطر چی هغه د ریاست په نظریي یعنی د اسلام په سپیڅلی دین باندی یقین نلری، او په هیڅ ریاست کی د هغه ریاست په نظریي باندی یقین نه کونکو ته د غټ مسؤلیت منصب نه شی ورسپارل کیدای، اسلام د سیکولر جمهوریت (دیموکراسی) قایل نه بلکی د اسلامی سیاسی نظام قایل دی، خو اقلیتونه په خپلو خاصو مسایلو او عامو انتظامی امورو کی دخپلی رای د ورکولو لپاره د ځانګړی انتخاباتو له لاری څه نمایندګان پارلمان یعنی اولسی جرګی ته استولی شی، چی هغوی به دمالی امورو په بحث کی برخه اخلی او دعامو انتظامی

[1]- د دین او سیاست د کتاب د لیکولو پر مهال سودان لا نه ؤ تجزیه شوی، اوس سودان پر دوو برخو شمالی سودان او جنوبی سودان تجزیه شوی دی، د سوډان جنوبی برخه اکثره مسیحان ؤ چې د خارجی مداخلو په نتیجه کې یې د سوډان څخه ازادي واخسته.
[2]- یوسف قرضاوي، دین اوسیاست، د پانې ګڼه، ۲۴۷ نه تر ۲۴۹، د چاپ کال ۱۳۹۱ه ش ، د چاپ ځای انتشارات اصلاح افکار، ژباړن، خلیل الرحمن حنییف،

امورو په اړوند د خپلی رای اظهار کولی شی، خو د شرعی امورو په پریکړو او یا دحکومت دمشر په انتخاب کی هغوی ته د رای د اظهاراو ووټ ورکولو حق ندی حاصل).[1]

دا چې د دولت د ریس په هکله د علماؤ ترمنځ اختلاف نشته ولی د نورو لوړو منصبونو په اړه اختلاف نظر لیدل کیږي، نو بهتره به همدا وي چې د هر هیواد حالتو ته په کتو سره د هماغه هیواد دینداره فقهاء په دې هکله فیصله وکړی ، دا به بهتره وي، والله اعلم بالصواب.

[1]-مولانا گوهر رحمن، اسلامي سیاست،د پاڼې ګڼه ، ۳۲۶ او ۳۲۷، د چاپ کال ۱۳۸۳ ه ش ، د چاپ ځای ، پیغام نشراتی مرکز، ژباړن، قریت الرحمن سعید،

# شپږم فصل

# د انتخاب یا ټاکلو حق

په دې فصل کې په دې باندې بحث کوو چې د انتخاب یا ټاکلو حق څخه هدف څه دی، د افغانستان قوانین په دې هکله څه وایي او داسلامی شریعت نظر په دې هکله څه دی، چې هر یوه موضوع جدا جدا د بحث لاندې نیسو.

## لمړی مبحث- د انتخاب یا ټاکلود حق پیژندنه:

د انتخاب ( ټاکلو) د حق څخه هدف او مقصد دا دی چې د یو هیواد ټول اوسیدونکی چې د رایه ورکولو شرایط یې پوره کړی وي، د دې حق لري چې د خپل نماینده او یا د ولسمشر په ټاکلو کې برخه واخلي، چې دې ته د انتخاب یا ټاکلو حق وایي.

دا هغه حق دی چې قانون ټولو وطنوالوته ورکړی دی، چا چې د رایي ورکولو ټول قانوني شرایط پوره کړی وي د کوم پر اساس چې دوی خپل ریس جمهور یا خپل استازي پارلمان ته غوره کوي.[1]

## دوهم مبحث- د انتخاب یا ټاکلو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون هم د بشر دحقوقو د نړیوالی اعلامیي د یوویشتمي مادې په څیر دا حق خپلو افرادو ته ورکړی دی چې د خپل هیواد په اداره ، نظم او هر اړخیز پرمختګ کې د فعال ګډون په منظور ملي شورا (پارلمان ) ته خپل استازي انتخاب کړي او یا هم ولسمشر وټاکي ، چې دې موضوع ته د افغانستان د اساسي قانون په دري دیرشمه ماده کې په لاندې ډول اشاره شوی ده.

**دری دیرشمه ماده:**

(د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابیدلو حق لري، له دې حق څخه د ګټي اخستو شرایط او لارې د قانون له لیارې تنظیمیږي).[2]

---

[1]- سید اکرم هاشمي، د افرادو سیاسي حقوق،د پاڼي ګڼه، ۳۰، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ه ش ، د چاپ ځای، یارخپرندویه ټولنه.
[2]- د ۱۳۸۲ ه ل کال د افغانستان اساسی قانون ۳۳ ماده.

د افغانستان د اساسي قانون د دې مادې په اساس د افغانستان ټول اتباع کولای شي چې ملي شورا ته خپل استازي ولیږي، او په همدې شکل خپل ولسمشر ټاکلی شي.

په همدې شکل د افغانستان د ټاکنو قانون په پنځمه ماده کې دې خبري ته په لاندې شکل اشاره کړی ده.

د افغانستان د ټاکنو قانون پنځمه ماده:

(د رأیې ورکوني د شرایطو لرونکي ښځه او نارینه تبعه حق لري، د رأیې ورکوونکي یا نوماند په توګه نوم ثبت کړی او په ټاکنو کې برخه واخلي (ګډون وکړی).[1]

د دې ترڅنګ د افغانستان د ټاکنو قانون اووه دیرشمه ماده د رایه ورکوونکو لپاره یو سلسله شرایط هم وضعه کړی دی چې هغه عبارت دی له:

(د هغه شخص نوم د رایې ورکوونکي په توګه ثبتیږي چې د لاندې شرایطو لرونکي وي.

۱-- د افغانستان تابعیت ولري.

۲-- د ټاکنو په ورځ یې اتلس کلنی سن بشپړ کړی وي.

۳-- د قانون یا محکمې په حکم له مدني حقوقو څخه محروم شوی نه وي.

۴-- د هغه نوم د رأیه ورکوونکو په فهرست کې درج شوی وي.

نو د پورته توضیحاتو په اساس ویلی شو چې د بشرد حقوقو د نړیوالی اعلامې په نظر کې نیولو سره د افغانستان قوانینو خپلو اتباعو ته د دې حق ورکړی دی چې د انتخاباتو په پروسه کې برخه واخلی او د خپل خوښې وړ نماینده او یا د ریاست جمهورې نوماند ته رایه ورکړی .

[1]- د افغانستان د ټاکنو قانون ۵ ماده.

## دریم مبحث- د انتخابولو یا ټاکلوحق د اسلامي شریعت له نظره:

دا چې په اسلامي ټولنو کې به ولسمشر او یا امیرالمؤمنین څرنګه ټاکل کیږي نو د دې لپاره په عمومي لحاظ دوه طریقي دي چې هره یوه یې جدا جدا د بحث لاندې نیسو.

### لمړی مطلب- د ټاکل شوي شورا (اهل الحل و العقد) په اساس:

په دې هکله مولانا ګوهر رحمن صیب په خپل کتاب ( اسلامي سیاست ) کې دا رنګه وایي:

د خلفاؤ راشدینو رضی الله عنهم د بیعت په هکله د دې مستندو حوالو څخه دا ثابتیږي چې د هغوې انتخاب خو د عمومی انتخاباتو له لاری نه وه شوی خو د مسلمانانو د اهل الحل و العقد یعني د ملت د نمانیدګانو لخوا په اصولی توګه شوی وه ، او همدا لاره ډیره غوره ده، چې د حکومت مشر د ملت د نمایندګانو لخوا انتخاب شي، خو د ملت نماینده ګان باید د ملت معتمد او باوري وګړی وي، تر څو د هغوی پریکړه د ملت پریکړه وبلل شي. [1]

### دوهم مطلب- د ولي عهدئ په طریقه:

دوهمه طریقه د ولي عهدئ طریقه ده چې اسلامي علماؤ په دې هکله خپل نظریات ښکاره کړی دي، چې دلته یې مونږ ذکر کوو:

فقهاؤ او سیاست پوهانو د خلیفه د ټاکلو یوه لاره دا هم ښوولی ده چې مخکیني خلیفه څوک خپل ولی عهد او خلیفه وټاکي، ابن خلدون، ماوردی رحمة الله علیهمااو ځیني نورو پوهانو همدا ټاکل کافی ګڼلی دی ، البته د ماوردي رحمه الله په نظر خلیفه خپل پلار یا زوی ولی عهد نه شی ټاکلی.

قاضی ابو یعلی رحمة الله علیه یواځي ولی عهدی او ټاکل کافی نه ګڼي بلکي د اهل الحل والعقد بیعت کول ورسره ضروري ګڼي، شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله علیه هم ویلی دی چې د بیعت پرته یواځې ولی عهدې کافی نه ده.

په قرانکریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې د شوراییت اصول ذکر شوی دی، چې په هغې کې د ولی عهد او نامزد کولو طریقه نه ده ښوول شوي، که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوبکر صدیق رضی الله عنه لپاره د وصیت لیک لیکلو اراده کړی وه خو بیا یې دا اراده پریښوده تر څو د شوری په واسطه د خلیفه د ټاکلو اصل پاتی شی، ابوبکر رضی الله عنه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په هکله کوم وصیت کړی ؤ نو هغه یواځې پیشنهادي شکل درلود، خو کله چې د مدینې

---

[1]- اسلامی سیاست ، پخوانی ماخذ ۳۴۹ او ۳۵۰ مخونه.

خلکو هغه قبول کړ او د هغه په لاس یې بیعت وکړ نو وروسته له هغې د حضرت عمر رضی الله عنه خلافت جوړ شو.[1]

## دریم مطلب - د تغلب یا په زور حکومت نیول:

اسلامي فقهاؤ د حکومت د جوړیدو یو ډول دا هم بیان کړی دی چې که څوک د زور له لارې په حکومت قبضه وکړی او خپل حکومت جوړ کړی، دهغې احکام نافذیدای شي په دې شرط چې د شریعت مطابق وي، ځیني خلکو د دې فقهي مسلې څخه غلط مقصد اخستی دی، حال دا چې د فقهاؤ مقصد دا دی چې که څه هم د قبضه کوونکی دا قبضه شرعاً ناروا کار دی، خو کله چې هغه عملاً خپله پنجه کلکه کړی نو په هغه وخت کی که د هغه حکومت په رسمیت و نه پیژندل شی ، نو کورنی شخړی، فتنه او فساد به جوړ شی او په ملت کې به ګډوډی راپیدا شی او دا کارونه د قبضی په مقابل کی ډیره خرابی منځ ته راوړی، د دی فقهي قاعدې په اساس چې وایي ( الضرورات تبیح المحظورات) د مجبوری په وخت کی ځینی ممنوع شیان د ضرورت په اندازه روا کیږي، او همدارنګه بله فقهي قاعده چې وایي (اختیار اهون البلتین) د دوه بلاګانو څخه کوچنی بلا اختیار کیدای شی، د دی شرعی قواعدو په اساس د ضرورت د قانون لاندې د متغلب او غاصب حکومت به د مجبوریت په اساس منل کیږي، د فقهاؤ هیڅکله دا مقصد نه دی چې ګویا د متغلب حکومت روا او په حقه جوړ شوی حکومت دی، د هغوی په نظر دا یو بالفعل او عملی حکومت خو دی مګر په حق نه دی، همدا علت دی چې هر چیرته چې د فقهاؤ په کتابونو کی دا موضوع یاده شوی ده نو ورسره د ( للضروره) یا د ( خوفامن قهره و جبروته) .. کلمات ذکر شوی دی د هغوی څخه په ډاګه دا څرګندیږي چې د زور او غلبی حکومت کوم نیک کار نه دی خو یواځې د ضرورت او مجبوری په اساس منل کیږي.[2]

په همدې شکل حنفی فقهاؤ رحمهم الله په دې نظر دی چې که چیری دا متغلب ظالم او فاسق وی نو د توان په اندازه د هغه څخه سرکشی کول او د قوت په زور د هغه حکومت ړنګول روا دی، او مسلمانانو ته د داسی حکومت په خلاف د مسلح مقاومت په وړاندی ودریدل او د ظالم حاکم مرسته کول روا نه دی.[3]

---

[1]- اسلامی سیاست ، پخوانی ماخذ، ۳۵۰ او ۳۵۱ مخونه.
[2]-اسلامی سیاست ، پخوانی ماخذ، ۳۵۱ او ۳۵۲ مخونه.
[3]- حکام القران للجصاص ، لومړی ټوک، ۷۰ مخ، بیروت.

# اوم فصل

# د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق

دا چې انسان یو اجتماعي مخلوق دی او په ټولنه کې ژوند کوي، نو مجبور او مکلف دی چې د ټولنې په پرمختګ او اصلاح کې خپل مسؤلیت آداء کړي، او که په دې برخه کې بې غوري او غفلت کوي نو د ګناه مرتکب کیږي، ولې دا خبره هم واضح ده چې په اوسني وختونو کې د خیر او اصلاح پر وړاندې ډیری خنډونه موجود دي، او یو شخص نشي کولای چې دا خنډونه په یوائې ځان د مخه لرې کړي، په همدې اساس ضرور ده چې دا کار د ټولنې د نورو هم فکره افرادو په همکاري ترسره کړي، همدې ته جماعتي کار وایې، چې د دې کارونو له جملې څخه یو کار هغه په ټولنه کې سیاسي اصلاحات راوستل دي، او ټولني ته اهل قیادت وړاندی کول دي، چې دا کار هم یوشخص په یوائې ځان نشي کولای ، دې ته هم دیو جماعت او تنظیم ضرورت دي ترڅو په سیاسي برخه کې لازم اصلاحات راولي.

په معاصر وخت کې د سیاسي جماعتونو یا سیاسي ګوندونو جوړول د افرادو د اساسي حقوقو څخه ګڼل کیږي، د سیاسي ګوندونو د رامنځ ته کیدو اصلي لامل دا دی چې د افرادو یوه منظمه مجموعه څرنګه وکولای شي په حکومتي سیستم کې د خپلې ایډیالوژی[1] او مفکوري په اساس په حکومت کې لازم تغیرات راوستلی شي ، په همدې خاطر مختلف قسمه ګوندونه رامنځ ته کیږي، کله کله دا ګوندونه غواړي چې په حکومتونو خپلې غوښتني ومني ، نو د فشار د یوې آلې په حیث تری استفاده کوی، او کله بیا د یو قوي اپوزیسون حیثیت غوره کوي چې د حکومت په غلطو پالیسو باندی انتقادات کوي او حکومت خپل سري ته نه پریږدي.

نو په لاندې مباحثو کې به د ګوندونو په پیژندنه، د هغې په ګټو او زیانونو او په همدې شکل د افغانستان د قوانینو له نظره د ګوندونو جوړښت، تشکیلات او انحلال تربحث لاندی ونیسو او په آخر کې به پر دې باندی بحث وکړو چې د ګوندونو د جوړولو په هکله د اسلامي شریعت دریځ څه دی.

[1]- ایډیالوژی د نظریاتو ، افکارو او بارونو ټولګی ته ویل کیږي، یا ایډیالوژي د دولت او نړي په اړه د غبرګونونو او اندونو څخه عبارت ده، چې د بېلا بیلو شعارونو لکه مذهبی ، سیاسي ، اقتصادي ، فرهنګي او داسی نورو... څخه سرچینه اخلي او ټولنې ته د حقایقو او باورونو په ډول وړاندې ګیږي.(ویکي پیډیا، دانشنامه ازاد، ۱۲، ۱۵، ۲۰).

## لمړی مبحث- د سیاسي ګوندونو د جوړولو د حق پیژندنه:

په دې مبحث کې د سیاسي ګوندونو په پیژندنه باندې رڼا اچوو، چې سیاسي ګوندونه څه ته وایي، د کومو موخو لپاره جوړیږي.

## لمړی مطلب- د سیاسي ګوندونو پیژندنه:

سیاسي ګوندونه ، هغه نهادونه دي، چې د خلکو له خوا د ګډې ایډیالوژۍ او ګټو پر بنسټ جوړیږي، چې غړي یې په ګډه له خپلو مادې او معنوي حقوقو څخه دفاع کوي.[1]

یا هم په بل عبارت:

یو سیاسي ګوند له هغه سیاسي ټولګي یا جماعت څخه عبارت دی ، چې د یوې خاصې مفکورې او اهدافو پر اساس مینځ ته راغلی وي او دمختلفو ډیموکراتیکو وسایلو له لارې غواړي چې واک او قدرت ته ورسیږي.[2]

د افغانستان د سیاسي ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو قانون چې په ۱۳۸۲ ه ل کال کې رامنځ ته شوي دی ،په خپله دوهمه ماده کې سیاسي ګوند په لاندې ډول تعریفوي:

(د دې قانون په مفهوم سیاسي ګوند، د حقیقي اشخاصو سازمان شوې ټولنه ده، چې له دې قانون او مربوطې اساسنامې سره سم، سیاسي موخو ته د رسیدو لپاره په ملي یا سیمه ییزه سطحه فعالیت کوي).[3]

د سیاسي ګوندونو لپاره مختلف قسمه تعریفات کیدای شي، ځکه دا یوه ټولنیزه پدیده ده، او په ټولنیزو مسایلو کې واحد نظر نه وي موجود، او هر مفکر د خپل فکر په اساس ټولنیزو مسایلو ته تعریف وړاندې کوي.

که لمړي تعریف ته ځیر شو نو ښه تعریف دی ځکه له یوه طرفه سیاسي ګوندونه د خلکو لخوا د ګډې او مشترکې ایډیالوژۍ  او ګټو په اساس رامنځته کیږي اوله بل طرفه د خپلو ټولو ګډو معنوي او مادي حقوقو څخه دفاع کوي او په دې لاره کې مبارزه او کوشش کوي تر څو خپلو اهدافو ته ورسیږي.

---

[1]- تاریخچه حقوق بشر، کمیسون مستقل حقوق بشر افغانستان، ۷۸ مخ، د بشري حقوقو خپلواک کمیسون، ۱۳۸۶ ه ل کال.
[2]- سلیمان الطماوي، النظم السیاسیة والقانون الدستوري،د پاڼې ګڼه ، ۲۲، لمړی چاپ، د چاپ ځای، دارالفکر العربی،
[3]- د عدلي وزارت ، ۱۳۸۲ ه ل کال، د افغانستان د سیاسي ګوندونو قانون.

په دوهم تعریف کې چې ماته د لمړی او دریم په نسبت ډیر غوره ښکاري، او هغه ځکه چې، له یوه طرفه یې سیاسي ګوند تعریف کړی دی او له بل طرفه یې سیاسي ګوند ته هدف ته د رسیدو لاره هم په ګوته کړی ده او هغه د مختلفو ډیموکراتیکو وسایلو له لارې (د لته د دیموکراتیکو وسایلو څخه هدف ولسواکی ده یا په بله معنی جمهوریت دی او که نور یې هم واضح کړو نو هدف تري دا دی چې یو سیاسي ګوند به قدرت ته د رسیدو لپاره ملت او ولس ته مراجعه کوي، که هغوي انتخاب کړو نو حکومت به کوي او که هغوي رد کړو نو بیا دی د نورو نامشروع لارو څخه کار نه اخلي، بلکې بیا دي په ټولنه کې کار وکړی ، ټولنه او ولس ته دې خدمت وکړي د هغوي قناعتونه او باورونه دې اصلاح کړی او بیا دې میدان ته شي ترڅو یا خو په همدې طریقه واک ته ورسیږي او یا دې خپلې مبارزي ته دوام ورکړي) ، یعنې په سیاسي ګوند کې لمړي ضروري خبره دا ده چې دا ګوند به د ټولنې د خلکو لخوا د یوې خاصې مفکوري په اساس رامنځ ته شوي وي او یوه خاصه موخه او هدف به تعقیبوي، او له بل طرفه به دا سیاسي ګوند هدف ته د رسیدو لاره دیموکراتیکه وي نه د زور او قوت په ذریعه ، که یوه ډله چې خاصه مفکوره او اهداف ولري، ولې په زور او قوت سره په خلکو خپل فکر او نظر منل وغواړي دې ډلې ته سیاسي ډله یا ګوند نشي ویل کیدای، او دا ځکه چې دوی د د یموکراتیکو وسایلو له لارې نه دې حاکم شوي ، بلکې د زور او قوت په ذریعه حاکم شوي ، نو په دې اساس یو سیاسي ګوند مکلف دي چې خپلو اهدافو ته درسیدو لپاره دیموکراتیکه لاره انتخاب کړی، او که د دې خلاف حرکت وکړي نو بیا دې جماعت او ډلي ته څوک سیاسي ګوند یا تنظیم نشي ویلی.

## دوهم مطلب- د سیاسي ګوندونو ګټې:

دا چې په اوسنیو حالاتو کې سیاسي ګوندونه په اسلامي نړی شتون لري نو د اضرارو ترڅنګ یو څه ګټې هم لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

۱-- د ټاکنوبهیر اسانه کوي: د سیاسي ګوندونو لومړی ګټه دا ده ، چې د ټاکنو بهیر ته اسانتیا وربخښي، د سیاسي ګوندونو په مرسته وګړي کولای شي، چې په ښه توګه د خپلې خوښې کاندید په ښه کړي، همدارنګه کاندیدان هم د سیاسي ګوندونو په مرسته په ښه توګه د خلکو ملاتړ ترلاسه کولای شي او ځان واک او قدرت ته رسولای شي.

۲-- د وګړو د سیاسي شعور او سیاسي پوهاوي په لوړولو کې هم اغیزناک رول لري، په سیاسي ګوندونو کې معمول دا دی، چې خپلو ګوندې غړیو ته فکري او سیاسي روزنه ورکوي ، یعنې سیاسي ګوندونه خپلو غړیو ته د خپل هیواد او د نړی د سیاست په هکله معلومات ورکوي، او له دې طریقه د

دوې سیاسي پوهاوي لوړېږي، خو ځینی داسي ګوندونه هم شته ، چې په خلکو کې ناسمې مفکورې رواجوي، دوی د تعصب او تبعیض پر بنسټ یوازې په یوې ډله خلکو کې خپل ځان ته ځای پیدا کوي او په حقیقت کې خلک له نورو نه رابیلوي، دا ډول ګونددونه د ګټي پر ځای ولس او خلکو ته ډېر زیان لري.

۳-- د اجرائیه قوي استبداد مهاروی:

په پارلماني رژیمونو کې د نورو رژیمونو په پرتله سیاسي ګوندونه په دغه برخه کې اغیزناک رول لري، یعني مخالف سیاسي ګوندونه د پارلمان د ننه قرار لري، او همدغه مخالف سیاسي ګوندونه دي، چې حکومت حساب ته اړباسي او په چارو کې ورنه وضاحت غواړي.

۴-- د هم فکره وګړو د اشتراک ښه وسیله ده: یعني وګړي په سیاسي ګوندونو کې د ګډون له طریقه کولای شي، چې د خپلو مادي او معنوي حقوقو څخه په ښه ډول دفاع وکړي او خپلو ټاکلو موخو ته ورسیږي.[1]

۵-- ګوندونه هیواد له ناورین او کړکیچ څخه ژغوري، سیاسي ګوندونه دي ، چې خلکو ته هیواد پالنه ورزده کوي، خلک له سیاسي مسایلو څخه اګاه کوي، او د هیواد د ناسمو حالاتو پر مهال خلک د هیواد د لوړو ګټو پر بنسټ تصمیم نیسي، او نه پرېږدي، چې برحاله حکومت هیواد او ملت ناورین او کړکیچ سره مخ کړي.

۶-- سیاسي ګوندونه د حکومتي ادارو ترمنځ همغږي رامنځته کوي: کله چې یو سیاسي ګوند واک ته رسیږي، نو طبعاً چې په ادارتو کې د خپل ګوند غړی پر کار او دندو ګوماري، نو نتیجه یې دا شي، چې د ټولو ادارو ترمنځ یوه ښه همغږي رامنځته کیږي، د بیلګي په توګه که د پوهنتون رئیس او ښاروال د یو ګوند غړي وي، نو ښاروال ممکن د پوهنتون د پاکې لپاره له رئیس سره ښه همکاري وکړي، نسبت دې ته چې دواړه د بېلابیلو ګوندونو غړي اوسي.[2]

۷-- د ګوندونو زیاتوالی د ځینو ګوندونو د ناوړه عملونو مخنیوي کوي.

۸-- د سیاسي کدرونو په روزنه کې فعال او اغیزمن رول لري.

---

[1]- پیټرجایس، په لودیځ کې سیاسي چارې،د پاڼې ګڼه ، ۷۹، د چاپ کال ۱۳۸۶ ه ش ، د چاپ ځای، د افغانستان د کلتوری ودی ټولنه، ژباړن، احمد زبیر ژمن

[2]-سمون، محمد نظیم سمون، سیاسي ګوندونه او ګوندي نظامونه،د پاڼي ګڼه : ۵۳ ، د چاپ کال ۱۳۹۴ ه ش ، د چاپ ځای، مومند خپرندویه ټولنه .

۹-- د ټولنې ېږلابیلو برخو ته ځان رسولای شي.[1]

کیدای شي ځیني نوري ګټی هم ولري ، خو مونږ پر همدې باندې اکتفاء کوو.

## دریم مطلب- د سیاسي ګوندونوزیانونه.

سیاسي ګوندونه که له یوه طرفه ګټې لري ، نو له بل طرفه ځیني زیانونه هم لري، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

فرانسوي لیکوال او سیاستوال ژان ژاک روسو[2] وایې:

۱-- په هغه ټولنه کې چې سیاسي ګوندونه وي عامه افکار وده نه شي کولای.

۲-- سیاسي ګوندونه ځیني مهال د ګوند ګټې تر ملي ګټو لوړې ګڼي.

۳-- سیاسي ګوندونه ملي وحدت ته صدمه رسوي او نفاق ته لاره هواروي.

۴-- سیاسي ګوندونه ځیني وخت د ګوند د مخالفو وګړو استعداد ته درناوي نه کوي.

۵-- ځیني مهال د سیاسي ګوندنو غړي تنګ نظري کوي.

۶-- د ټاکنو پر مهال که چیرته د سیاسي ګوند له خوا هر ډول یو بد اخلاقه ، مضر، او نا اهله وګړی نوماند شي، د سیاسي ګوند غړي مجبوره دي چې نوموړي ته رایه ورکړي، ځکه هلته یواځې او یواځې ګوندې دریځ د حق معیار دی او بس.[3]

په همدې ډول استاد شیر علم امله وال په خپل کتاب (ګوندونه او زیانونه )کې د سیاسي ګوندونو زیانونو ته په لاندې ډول اشاره کوي، هغه لیکي چې، سیاسي ګوندونه لاندې زیانونه لري:

۱-- ولس یا ملت په فکري لحاظ سره ویشل کیږي.

۲-- د قدرت د ویش پر سر اختلافات پیداکیږي.

۳-- په ټولنه کې نا مشروع رقابتونه منځته راځي.

۴-- د ګوندونو مالي منابع په نامشروع ډول رامنځته کیږي.

---

[1]- شیر علم امله وال ، ګوندونه او زیانونه، د پاڼې ګڼه، ۳۴، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ش ، د چاپ ځای ، مومند خپرندویه ټولنه ، جلال آباد.
[2]- ژان ژاک روسو په ۱۷۱۲ م کې د فرانسي د ژنیو په ښار کې زیږیدلی دی او ۱۷۷۸ کال کې مړ شوی د ی، مشهور کتابونه یې اجتماعي قرارداد او امیل په نوم د ماشومانو د تربیې په اړه دی .ویکي پیډیا.
[3]- پیټر جایس، پخوانی ماخذ، ۶۶ نه ۶۸ مخ پوری.

۵-- د انتخاباتي کمپاین په بهیر کې ناوړه سیالي رامنځته کیږي.[1]

ممکن چې نور زیانونه هم ولري ولې د ټولونه ضروري خبره دا ده چې د سیاسي ګوندونو مشران او رهبران هڅه وکړی چې د سیاسي ګوندونو څخه د هیواد او ولس لپاره مثبته استفاده وکړی او پرېنږدي چې د سیاسي ګوندونو له اړخه هیواد او ولس ته نقصان ورسیږي ، ځکه چې په اوس معاصر وخت کې د سیاسي ګوندونو څخه بغیر هم چاره نشته دی، نو دا چې له یوه طرفه تری چاره نشته دی او له بل طرفه د ګټو ترڅنګ زیانونه هم لري، نو باید د سیاسي ګوندونو په رهبري کې د پوره دقت څخه کار واخیستل شی، په همدې شکل دولت هم مکلف دی چې سیاسي ګوندونه د وضعه شوي قانون په حدود کې خپل کار ته پریږدي او که چیری کوم ګوند دا حدود نقضوي باید د قانون مطابق عمل ورسره وشي.

[1]- شیر علم امله وال ، ګوندونه او زیانونه، د پاڼې ګڼه، ۳۴، د چاپ کال ۱۳۹۳ ه ش ، د چاپ ځای ، مومند خپرندویه ټولنه ، جلال آباد.

## دوهم مبحث- د سیاسي ګوندونو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

په دې مبحث کې د افغانستان د قوانینو له نظره  د سیاسي ګوندونو د تأسیس او ثبتولو شکل او طرزالعمل، د سیاسي ګوندونو تمویل او دسیاسي ګوندونو انحلال د بحث لاندې نیسو.

### لمړی مطلب- د سیاسي ګوندونو تأسیس:

دا چې په معاصر وخت کې د سیاسي ګوندونو جوړول د دیموکراتیکو نظامونو یوه نښه ګڼل کیږي، نو له همدې امله په ګڼو دیموکراتیکو هیوادونو کې سیاسي ګوندونه رامنځته شوي دي، او د یادو هیودونو ټول اتباع حق لري چې د وضعه شوو شرایطو په نظر کې نیولو سره سیاسي ګوندونه تأسیس کړی، په همدې شکل ټول اتباع حق لري چې په یادو ګوندونو کې عضویت یا غړیتوب ترلاسه کړی، چې د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون د خپلو اتباعو یاد حق منلی دی چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

(د افغانستان اتباع حق لري ، د قانون له حکمونو سره سم، سیاسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:

۱-- د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپیڅلي دین د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي.

۲-- د ګوند تشکیلات او مالي منابع څرګند وي.

۳ -- نظامي او نظامي ډوله تشکېلات او هدفونه ونه لري.

۴-- له بهرنیو سیاسي ګوندونو یا نورو بهرنیو منابعو سره تړلي نه وي.

د قوم ، سیمې ، ژبې، او فقهې مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعالیت کول جواز نلري.

(هغه جمعیت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړیږي، د قانوني موجباتو او باصلاحیتې محکمې له حکمه پرته نه منحل کیږی).[1]

همدارنګه د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسي ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو قانون د شپږمې مادې د حکم له مخې سیاسي ګوندونه لاندې فعالیتونه نه شي ترسره کولای:

۱ــــد اسلام د سپیڅلي دین د اساساتو د مناقضو هدفونو تعقیبول.

[1]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون ۳۵ ماده.

۲ -- له قوې یا خشونت یا ګواښ څخه کټه اخیستل ، یا له قوې څخه د ګټې اخیستلو تبلیغ کول.

۳ -- د قومي یا توکمیز یا مذهبې یا سمتي تعصب لمسول.

۴ -- د افرادو د حقوقو او آزادیو پر وړاندې د مشهود خطر پیداکول او د عامه نظم او امنیت عمدي ګډوډول.

۵ -- د نظامي تشکېلاتو لرل، یا د وسله والو ځواکونو له قوتونو سره جوړجاړی (تباني).

۶ -- له بهرنیو سرچېنو څخه تمویلېدل.

د افغانستان ټول اتباع چې د رایې ورکولو سن یې پوره کړی وي، بې له کوم تبعیض څخه کولای شي چې سیاسي ګوندونه جوړ کړی، د سیاسي ګوند مرکزي دفتر او نمایندګی باید د هیواد په داخل کې وي، دولت د سیاسي ګوندونو د امنیت او خوندیتوب د ساتلو دنده پر غاړه لري ، سیاسي ګوندونه د عدلیې وزارت له خوا ثبتیږي، خو یو سیاسي ګوند د ثبت په وخت باید د سیاسي ګوندونو د ۱۳۸۲ ه ل کال قانون شپږمې مادې اړوند شرایط پوره کړي وي، همدارنګه د ثبت پر وخت یې باید د غړو شمیر د لس زرو (۱۰۰۰۰) تنو څخه لږ نه وي، کچیری د سیاسي ګوند ثبتول د عدلیې وزارت لخوا رد شي، غوښتنلیک ورکوونکي اشخاص حق لري ، واکمنی محکمې ته مراجعه وکړی، سیاسي ګوند له ثبت څخه وروسته کولای شي چې رسماً خپل فعالیت پیل کړي .

ثبت شوي سیاسي ګوند د ثبت څخه وروسته له لاندې حقوقو څخه برخمن کیږي، خپلواک سیاسي فعالیت، له نورو سیاسي ګوندونو سره مؤقت یا دایمي سیاسی یووالی یا ائیتلاف ، په سیاسي ، ټولنیزو ، اقتصادي او فرهنګي مسئلو کې په شفاهي یا لیکلي توګه د آزاد او څرګند دریځ ښکاره کول، او سوله ییز راټولیدل، د خپلواک خپرندویه ارګان تأسیسول، د سیاسي ګوند په لګښت ډلیېزو رسنیو ته لاسرسی، په ټولټاکنو کې د کاندید معرفي کول او په اساسنامه کې د درج شویو موخو او دندو مطابق له نورو حقوقو څخه ګټه اخیستل.

د هیواد ټول هغه اتباع چې قانوني عمر ( اتلس کلني) یې بشپړه کړی وي د سیاسي ګوندونو غړیتوب ترلاسه کولای شي، یو شخص نشي کولای چې په عینی وخت کې له یوڅخه د زیاتو سیاسي ګوندونو غړیتوب ترلاسه کي، قاضیان، څارنوالان، د وسله وال پوځ لاربنود کادر، افسران، خورد

ظابطان او نظامي افراد، پولیس اود ملي امنیت منسوبین ، دخپلو دندو د تصدئ او ترسره کولو په دوره کې د سیاسي ګوند غړیتوب نه شی ترلاسه کولای.[1]

## دوهم مطلب- دسیاسي ګوندونو تمویل:

دا چې د دنیا ژوند ټول په وسایلو باندی روان دی نو سیاسي ګوندونه هم مجبور دی چې د خپل سیاسي کار د پرمخ بیولو لپاره پیسي پیدا کړي، دا چې دا پیسې به له کوم ځای او چا څخه تر لاسه کوي ، د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسي ګوندونو د قانون په اساس سیاسي ګوند د لاندې لارو څخه تمویلیدای شي:

۱-- د غړیتوب د حق ورکړه.

۲-- د کورني حقیقي شخص په واسطه په کال کې تر دوه میلونو افغانیو پورې د بې عوضي مرستي ورکول.

۳-- د ګوند د منقولو او غیری منقولو مالونو د عوایدو له درکه.

۴-- د ټاکنو د کېدو په وخت کې د دولت مرسته.

۵-- د غړو له خوا نورې مرستې.[2]

اوس مهال په افغانستان کې ډیر زیات سیاسي ګوندونه رامنځته شوی دی، چې اکثره یې ملي ملاتړ هم نلري، او معلومي مالي سرچیني هم نلری، ولی بیا هم خپل فعالیت یې جاري ساتلی دی، نو داسې امکان برېښي چې یادو سیاسي ګوندونو سره بهرني هیوادونه مالی مرستي کوي او د هغوي په همکاری خپل فعالیت یې جاري ساتلی دی، که دا خبره همداسي وي ، نو بیا دا ډول سیاسي ګوندونه په ځای د دي چې خپل هیواد ته او ولس ته خدمت وکړی، دوی به د بل هیواد لپاره کار کوي او د هغوي ګټی به پالي ، کوم چې د ګران هیواد په تاوان ده، باید حکومت دا ډول ګوندونه مشخص کړی او قانونی چلند ورسره وکړي.

## دریم مطلب- د سیاسي ګوندونو انحلال:

په دې مطلب کې په دې باندې بحث کوو چې په کومو حالاتو کې یو سیاسي ګوند منحل اعلانیږي، چې دا حالات د ۱۳۸۲ه ل کال د ګوندونو د قانون په لاندې ډول ذکر کوي.

---

[1]-د عدلی وزارت، ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسی ګوندونو قانون، پخوانی ماخذ.
[2]- عدلي وزارت ، ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسي ګوندونو قانون، پخوانی مأخذ.

سیاسي ګوندونه په لاندې حالاتو کې منحل کیږي:

۱-- په هغه صورت کې چې سیاسي ګوند قوې ته لاس واچوي یا له قوې څخه د ګټې اخیستلو ګواښ وکړي، یا د قانوني نظم د له منځه وړلو لپاره له قوې څخه ګټه واخلي، یا د وسله والو ځواکونو لرونکي وي ، یا له وسله والو ځواکونو سره په جوړ جاړي کې وي.

۲-- په هغه صورت کې چې د دې مادې په اول جز کې د درج شوو حالاتو د مخنیوي لپاره قانوني تدبیرونه اغیزناک ثابت نه شي.

۳-- په هغه صورت کې چې د اساسي قانون او د دې قانون د حکمونو مخالف عمل وکړي.[1]

ستره محکمه د عدلي د وزیر په غوښتنه د دې قانون د حکمونو مطابق، د سیاسي ګوند د انحلال حکم صادروي، د سیاسي ګوند د انحلال د غوښتنلیک څیړنه د عاجلې اجنډا تابع ده، د سیاسي ګوند د انحلال د غوښتنلیک په څیړنه کې د محکمې غونډې علني وي، د سیاسي ګوند لاربښوونکي او واکمن استازي حق لري، په محکمه کې د سیاسي ګوند د انحلال د څیړنې په وخت کې د مربوطه رئیس یا قاضیانو رد، د سترې محکمې له عالي شورى څخه وغواړي، کچیرې د رئیس یا د قاضیانو د رد دلایل د سترې محکمې لخوا موجه وګڼل شي ، سترې محکمې عالي شورى بل رئیس یا نور قاضیان ټاکي ، د سیاسي ګوند لاربښوونکي یا واکمن استازي حق لري، په محکمه کې د سیاسي ګوند د موضوع د څیړنې په وخت کې په مربوطه غونډه کې ګډون وکړي او خپل دلایل وړاندې کړي، محکمه مکلفه ده د سیاسي ګوند د انحلال په اړه دلایل په خپله پریکړه کې ذکر کړي ، د سیاسي ګوند انحلال په هکله د واکمنې محکمې حکم قطعي او وروستى دى او د ډله ییزو رسنیو له لارې خپریږي.[2]

په پورته حالاتو کې یو سیاسي ګوند منحل کیږي، او د هغې څخه وروسته قانوناً دکار کولو جواز نلري.

---

[1]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسي ګوندونو قانون، اولسمه ماده.
[2]- د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسي ګوندونو قانون، عدلي وزارت.

## دریم مبحث- د سیاسي ګوندونو حق د اسلامي شریعت له نظره:

د سیاسي ګوندونو جوړول په اوس وخت کې یوه معاصره او نوی قضیه ده، چې په دې هکله کوم خاص قرآني آیت او یا کوم نبوي حدیث او یا د پخوانیو فقهاؤ نظریات نه تر سترګو کیږي، په همدې اساس اوسنیو فقهاؤ په دې هکله خپل خپل نظریات لري چې دا ټول نظریات په درې برخو باندې ویشل شوی دي چې مونږ یې په مختصر ډول دلته ذکر کوو:

لمړی نظر: د دې نظر په اساس د سیاسي ګوندونو جوړول ناروا او حرام دی، او دوی د خپل نظر د تایید لپاره لاندې دلایل راوړی:[1]

١-- ټول هغه قراني نصوص چې د مسلمانان یې د تفرقې او اختلاف نه منع کړې دی او په وحدت او یووالی یې امر کړی دی لکه الله تعالی چې فرمایې:

(وَلا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمْ الْبَيِّنَاتُ وَأُوْلَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ )[2]

ژباړه: پام کوئ تاسې هغو خلکو غوندې نشئ چې په ډلو وویشل شول او له روښانه څرګندو لارښودنو میندلو نه وروسته بېرته په شخړو کښې اخته شول، چا چې دا چلن غوره کړیدی هغوی به سخته سزا ومومي.

بل آیت کې الله تعالی فرمایې:

(وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا)[3]

ژباړه: ټول یو ځای شئ د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تیت پرك کیږئ مه.

بل آیت کې الله تعالی فرمایې:

( وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ)[4]

---

[1]- صلاح الصاوی، التعدديه السياسية فی الدولة الاسلامية، د پاڼې ګڼه ، ۴۱، لمړی چاپ ، د چاپ کال ۱۹۹۲م ، د چاپ ځای، دارالاعلام الدولی.
[2]- سورة العمران، ۱۰۵ آیت.
[3]-سورت العمران ۱۰۳ آیت.
[4]- سورة انفال ۴۶ آیت.

ژباړه: او د الله او د هغه د پیغمبرامر منونکي اوسئ او په خپلو مینځو کښې شخړه مه کوئ که نه نو په تاسې کښې به کمزوري پیدا شي برم به مو لاړ شي. له زغم نه کار واخلئ، په یقیني توگه الله د صابرانو ملګری دی.

د دې ټولو ایاتونو څخه دا څرګندیږي ، چې الله تعالی د تفرق او اختلاف نه منع کړی ده، او په یووالی او وحدت یې امر کړی دی، او سیاسي ګوندونه د دې سبب ګرځی چې د مسلمانانو ترمنځ وحدت په تفرق او اختلاف بدل کړی نو په دې اساس د سیاسي ګوندونو جوړول یو ناروا عمل دی.

ب -- هغه نبوي احادیث چې په وحدت او یووالی دلالت کوي او د تفرقي او اختلاف نه یې نهی کړی ده لکه لاندې احادیث:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**( ان الله یرضی لکم ثلاثاً ، ویکره لکم ثلاثاً، فیرضی لکم ان تعبدوه ولاتشرکوا به شیاءً، و ان تعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا، ویکره لکم قیل وقال).**[1]

ژباړه: بې شکه الله تعالی ستاسو لپاره درې شیان خوښه وي او درې شیان درله بد ګڼي، هغه دا دی چې چې تاسو یواځې د الله تعالی عبادت وکړی او د الله سره شریک مه ګرځوی، بل دا چې د الله په رسۍ (قرآن) منګولی ولږوی او تفرق مه کوی، او دا چې د ډیرو قیل وقال نه ځان وساتی.

بل حدیث کې راځي چې نبی علیه السلام فرمایي: **(الجماعة رحمة و الفرقة عذاب).**[2]

ژباړه یعنې جماعت رحمت دی او تفرقه او جدایي عذاب دی.

ج- واقعیت ته په کتو سره دی نتیجې ته رسیږو ، چې مختلف سیاسي احزاب او ګوندونو جوړول د مسلمانانو ترمنځ اختلاف پیداکوي، او د دوي ترمنځ مینه او محبت له مینځه وړي، په دې مانا چې سیاسي ګوندونه د خلکو ترمنځ د قدرت لپاره مبارزه کوي او همدا د قدرت مبارزه د سیاسي ګوندونو پیروان اړ کوي، چې یو پربل نیوکې وکړي، یو د بل نیمګړتیاوې بیان کړي ، چې دا خپله د خلکو ترمنځ نفرت او کرکه پیداکوي او چې د مسلمانانو ترمنځ کرکه او نفرت پیدا شو، نو مینه اومحبت ته ځای نه پاتي کیږي

دویم نظر:

---

[1]- صحیح مسلم، ، ج ۳ ، صفحه : ۱۳۴، حدیث شمیره : ۲۶۷۸، حدیث صحیح .
[2]- مسند الامام احمد بن حنبل ، جلد ۳۰ صفحه ۳۹۰، حدیث شمیره ۱۸۴۴۹، حدیث حسن.

د دې نظر په اساس د سیاسي ګوندونو جوړول بغیر د کوم قید او شرط نه مطلق جایز کار دی او دا ډله علماء د خپل نظر د تقویې لپاره په لاندې دلایلو باندی استدلال کوي.[1]

۱-- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې:

**( اذا حکم الحاکم فاجتهد ثم أصاب فله اجران، واذا حکم فاجتهد ثم أخطأ فله اجر).**[2]

ژباړه: کله چې یو حاکم په یوه قضیه کې اجتهاد[3] وکړي او اجتهاد صحیح ثابت شي ، نو د ده لپاره دوه اجره دی او که چیرته خطا وخیژي نو د ده لپاره یو اجر دی.

دا ډله پوهان وایي چې حاکم ته د هغه د اجتهاد له کبله یو اجر رسیږي او که اجتهاد یې درست ؤ نو بیا ورته دوه اجره دی، او که اجتهاد یې درست هم نه ؤ نو یو اجر خو ورته شته دی، نو پدې اساس د سیاسي ګوندونو جوړول د اوس وخت یو ضرورت دی او دا یوه هڅه او کوشش دی د ټولنی او نظام د اصلاح لپاره نو په دې اساس دا یو مشروع عمل دی.

ولی که مونږ پورته حدیث ته وګورو نو د پورته حدیث څخه په فقهې مسایلو کې اجتهاد ته اشاره شوی ده او دسیاسي ګوند جوړولو جواز له دی حدیث څخه نه ثابتیږي.

ب- که واقعیت ته وګورو نو د خلکو نظرونه او اراء سره مختلفی دي او د دې مختلفو نظرونو د اظهار لپاره واحده لاره یو سیاسي جماعت او ګوند کیدلای شی، ترڅو هر ډله د خپل نظر اظهار په کامله توګه سره وکړای شی ، که چیرته مونږ د سیاسي ګوندونو جوړولو ته اجازه ورنه کړو دا به یو قسم د خپلې رأیې په ښکاره کولوبندیز وي کوم چې ظلم او استبداد ته لاره هواروي او شریعت د ظلم او استبداد نه پاک دی.[4]

دریم نظر:

---

[1]- حکم انشاء الأحزاب السیاسیة فی الدولة اسلامیة، ورقة مقدمة لمؤتمر رابطة علماء المسلمین، المنعقد فی الدوحة ، قطر، تاریخ، ۲۳-۲۰۱۲/۵/۲۴ م ، بقلم عبدالحی یوسف.

[2]- صحیح بخاری ، جلد ۹، صفحه ۱۰۸، حدیث شمیره ۷۳۵۲، حدیث صحیح.

[3]- اجتهاد په لغت کې دجهد او کوشش کولو په معنی دی او په اصطلاح کې د اسلامي شریعت د سرچینو څخه د شرعي فرعي احکامو استنباط او راویستلو د پاره هڅې او کوشش ته ویل کیږي. (ویکي فقه).

[4]- حکم انشاء الاحزاب السیاسیة ، مخکینی مأخذ، ۱۱ مخ.

د دې نظر په اساس د سیاسي ګوندونو جوړول یو جایز کار دی، په دې شرط چې د اسلامي شریعت عام اصول او اساسات په نظر کې ونیول شي، او همدارنګه د شریعت په سیادت او لوړوالی اعتراف وشي او د ثابتو اصولو څخه یې سرغړونه ونه شي او دوی د خپل نظر د تقویې لپاره په لاندې دلایلو استدلال کوي.

أ-- ټول هغه قرآني آیتونه چې دلالت په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی ، لکه الله تعالی چې فرمایي:

**(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَهُمْ مِنْهُمْ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمْ الْفَاسِقُونَ)[1]**

ژباړه: اوس په نړۍ کښې هغه غوره ډله تاسي یاست چې د انسانانو د لارښودنې او اصلاح له پاره مېنځ ته راوړل شوېده تاسي د نیکی امر کوئ او له بدیو منعه، او پر الله ایمان لرئ که دغو کتابیانو ایمان راوړی وای؛ نو دهمدوی له پاره ښه وه که څه هم په هغو کښې ځینې د ایمان خاوندان شته؛ خو ددوی زیاتره کسان له فرمان څخه سرغړوونکي دي.

دوې وایې چې آیت په امر بالمعروف او نهی عن المنکر باندې دلالت کوي او په اوسنۍ زمانه کې د دې فریضې اداء کول په ښې او اکملې طریقې سره تر هغې ممکن نه دي ، ترڅو منظم اسلامي سیاسي ګوندونه وجود ونه لري.

ب- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې:

**( من رأی منکم منکراً فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه و ذلک أضعف الایمان).[2]**

ژباړه: کله چې یو ستاسو نه یو ناروا کار ووینې، نو په لاس سره دې هغې ته تغیر ورکړي، او که چیرته په لاس د تغیر او منعی قدرت ونه لري، نو په ژبه دې منع کړی او که په ژبه د منعه کولو توان هم نه لري، نو باید په زړه کې ورسره بغض او کېنه وکړي او دا ضعیف ایمان دی.

---

[1]- سورة العمران ۱۱۰ آیت.
[2]- صحیح مسلم، اول جلد ، ۶۹ مخ، حدیث شمیره : ۱۸۱۹، حدیث صحیح.

مسلمانان د منکر او ناروا کار په منعه کولو مأمور دی ، کچیرته خلک په دولت یا په بل اداره کې منکر ویني باید مخه یې ونیسي، خو په انفرادي توګه سره دا عمل په ښه طریقه نه شي ترسره کیدای، ترڅو خلک په یو منظم ټولګی او جماعت کې نه وي، نو د دې لپاره لازمه ده ، چې خلک اسلامي سیاسي ګوندونه جوړ کړي ترڅو دغه وجیبه په ښه توګه سرته ورسوي.

ج- د لومړی خلیفه د ټاکلو په وخت کې د اسلامي امت یوې ډلې یعنې د مهاجرینو له طرفه د ابوبکر صدیق [1]رضی الله عنه، عمر فاروق[2] رضی الله عنه، او ابوعبیده بن جراح[3] رضی الله عنه نومونه وړاندی کړی ؤ، او دبلې ډلې یعنې انصارو له خوا د سعد بن عباده[4] رضی الله عنه نوم راوړاندی شوی ؤ خو اخر دواړه ډلی د ابوبکرصدیق رضی الله عنه په خلافت متفق شوي، نو د دې نه دا معلومیږي چې مختلفې ډلې مختلف کسان د کاندید په توګه د قوم او ملت مخې ته وړاندې کولای شي.[5]

همدارنګه دوکتور یوسف قرضاوي صیب – چې د ګوندونو د ازادئ طرفدار دی - په خپل کتاب سیاسي فقه کې دا موضوع ځیرلی ده هغه په دې هکله لیکي:

(د ګوندونو جوړښت او د اسلامي حکومت په داخل کې د ډیروالي مفکوره هیڅ کوم شرعي او یا فقهي مانع نلري، ځکه له ډیربښت سره هر ډول مخالفت چې وي هغه له قرآن کریم او یا له محکم، ثابت او څرګنده حدیث څخه دلیل ته اړتیا لري، او زه باوري یم چې دا ډول دلیل په اصل کې هیڅ شتون لري).

دوکتور یوسف قرضاوي صیب په دې نظر دی چې که په اوسنیو حالاتو کې قوي سیاسي ګوندونه نه وي چې د واکمنو نادرسته او غلطو پالیسو ته (نه ) ووایي ، نو دا حالت خپله یو ډول استبدادي حکومت ته زمینه برابروي، هغه په دې هکله وایي:

---

[1]- حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه قریشی نسب وه، نوم عبدالله او ابوبکر یې اسم کنیه ؤ، صدیق ځکه ورته ورته ویل کیږی، چې رښتیا ویولو کې مشهور ؤ، د پلار نم یې عثمان ؤ ، د مور نوم یې سلمی چې په امر الخیر مشهوره وه. ویکی پیډیا.

[2]- عمر رضی الله عنه د خطاب ځوی چې ابو حفص یې اسم کنیه ؤ او فاروق یې لقب ؤ ، د عام الفیل نه درې کاله وروسته په مکه کې پیداشوی او د ۶۳ کالو په عمر د لس نیم کاله خلافت نه وروسته په شهادت رسیدلی دی. (عمر فاروق رض بر رسی و تحلیل زندگاني خلیفه دوم، علی محمد الصلابي).

[3]- ابو عبیده بن جراح بن عامر بن عبدالله بن الجراح دی، اوب عبیده یو د هغو صحابوو څخه ؤ چې زر یې اسلام قبول کړی او یو د لسو کانو څخه وه چې په دنیا کې ورته د جنت زیری شوی ؤ.ویکی پیډیا.

[4]- سعد بن عباده الانصاری الساعدی الخزرجی ابو ثابت، ابو قیس یې هم ورته ویلی، د اسلام دمخه په مدینه منوره کې د خزرج قبیلی مشر او زعیم ؤ، د مدینی له لومړنیو کسانو څخه ؤ چې اسلام یې قبول کړ. ویکی پیډیا.

[5]- ګوهر رحمن ، اسلامی سیاست ، ۳۲۸ مخ.

(د مخالفو قوي ګوندونو نشتون چې په غيرت او مېړانه وکولی شي د حکومتونو د ناسمو سياستونو په مقابل کې ((نه)) ووايي او په مخ کې يې ودرېږي، نو د پخوانيو او اوسنيو تاريخي واقعيتونو له مخې د استبدادي حکومت لپاره يوه ډول زمينه چمتو کول دي.[1]

ښاغلی دوکتورصيب په خپل پورته ياد کتاب کې دې خبری ته هم اشاره کړی ده چې ، بايد سياسي ګوندونه د شخصي اهدافو او همدارنګه د قومي، نژادي، سمتي او نورو تعصبي انګيزو په اساس رامنځته نشي ، هغه ليکي:

(کله چې په اسلامي حکومت کې د ګوندونو ډيروالی روا ګڼو، دا موضوع پدې معنا نه ده چې د اشخاصو او ټاکلو کسانو د شمير په کچه، چې په شخصي ګټو، سياسي او قومي مصلحتونو کې يو له بله سره اختلاف لري، خپلو کې د يوې ډلي په جوړولو سره يو شي، او زيد او عمر او فلانی او پدې ډول هر يو دي جلا جلا ګوند جوړ کړي او خپلو شخصي او قومي موخو ته د لاس رسي لپاره دي د خلکو يوه ډله تر ځانه را چاپيره کړي، دبيلګي په ډول، هغه ګوندونه چې د نژاد، لوري، طبقه پالنې پر بنسټ او د تعصب د انګيزې له مخې – چې اسلام ترې خپل برائت اعلانوي- جوړ شوي وي نشي کولای چې يو ګټور ګوند او د ټولنې د مادي او معنوي پرمختګ او لوړتيا د خدمت جوګه دي واوسي.

روا او مطلوب ډيروالی هغه دی چې د افکارو ، تګلارو، کړنلارو او سياستونو پر بنسټ ولاړ وي، چې هر يو ګوند يې عملي او آزمويل شويو دلايلو ته په کتو د ټولنې د خدمت او د چارو د سمون په اړه وړاندي کوي، او له خپلو رايو ملا تړ کوي او خير او ښيګڼه د هغو په عملي کولو او پلی کولو کې ګڼي).[2]

دوکتور صيب سياسي ګوندونه د فقهي مذاهبو سره ورته ګڼي، هغه په ياد کتاب کې ليکي:

(په واقعيت کې د سياست په ميدان کې د ګوندونو ډيروالی د فقهي په ډګر کې د مذاهبو ډيروالی ته ورته دی، فقهي مذهب يو داسي علمي جوړښت دی چې د شريعت پيژندنې او له تفصيلي او جزيي دلايلود احکامود راويسلو لپاره د ځانګړيو اصولو او اررښتونو پر بنسټ ولاړ وي، او د هغه مذهب منونکي په واقعيت کې د هغه مذهب غړي، زده کوونکي او پلويان وي، او پر دې باوري وي چې د

[1]- قرضاوی يوسف عبدالله ، ،سياسي فقه،د پاڼې ګڼه: ۱۶۷، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ ه ش ، د چاپ ځای مستقبل خپرندويه ټولنه ، کابل، ژباړن، شيرآغاکريمي،
[2]- قرضاوی يوسف عبدالله، ،سياسي فقه،د پاڼې ګڼه: ۱۷۳، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ ه ش ، د چاپ ځای مستقبل خپرندويه ټولنه ، کابل، ژباړن، شيرآغاکريمي،

هغوي منل شوی مذهب د نورو مذاهبو په پرتله سمون او کره توب ته ډیر نیږدې دی، هغوی له فکري بهیر سره چط منونکي یې د هغو اصولو پر بنسټ رایو ځای شوي او دهغې ګروهي او بارو له امله چې دهغه مذهب د لوړتیا په اړه یې لري، خپلو کې یو بل ته د مرستې اوهمکارۍ لاسونه ورکوي، یوداسې وضعیت ، حالت او څه وي چې هیڅکله هم د نورو مذاهبو او افکارو د باطلېدو په معنا نه وي.

ه مدارنګه ګوندونه هم د فقهي مذاهبو په څېر سیاسي مذاهب دي، چې د داسې فلسفي ، اصولو او تګلارو درلودونکي وي چې په بنسټیز ډول له پراخ او هر اړخیز اسلام څخه سرچینه اخلي او هم د هغه ګوند منونکي د مذاهبو د پیروانو په شان وي او هر هغه څه چې حزب یې سم او لوړ ګڼي، دوی هم د هغه تائید او تصدیق کوي). [1]

په همدې ډول دسیاسي ګوندونو د ځینو پیروانو غلطیو ته هم اشاره کوي او لیکي:

(خو هغه څه چې د سیاست په ډګر کې یې ناوړه ګڼم، هماغه دی چې د فقهې په میدان کې یې هم ناروا ګڼم، او هغه په ناپوهۍ تقلید، ړوند تعصب او لاربنودونکو ته د پیغبمرانو په شان د عصمت او سپېڅلتیا جامې پر تن کول دي، زه معتقد یم چې هم د سیاست په ډګر کې او هم د فقهې او مذاهبو په ډګر کې دا پدیده ډېره بده، زیان راوړونکي او له منځه وړونکي ده، په یو شمیر ویناؤ او فکري غونډو کې مې د دې موضوع په اړه ویلي چې: ګوندونه هماغسې – سیاسي مذاهب دي، لکه چې مذاهب فقهي ګوندونه دي). [2]

په اخر کې دوکتور صیب د سیاسي ګوندونو لپاره دوه اهم شرایط وړاندي کوي ، چې باید سیاسي ګوندونه په دې شرطونو رامنځته شي، هغه لیکي:

(۱-- د اسلامي شریعت اساسات ، عقېدوي اصولو او ارزښتونو ته به درناوی لري او دا چې د دې (ارزښتونو) سره په دښمنۍ، جنګ او انکار کولو له دروازې به نه راوزي، البته که د اجتهاد لپاره د ټاکلیو علمي اصولو په رڼا کې وي، نو بیا د هغوی لخوا د کوم ځانګړي معرفت او مفهوم په باب کوم ډول ممانعت شتون نلري.

---

[1] - قرضاوی یوسف عبدالله، ،سیاسي فقه،د پاڼې ګڼه: ۱۷۳او ۱۷۴ ، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ ه ش ، د چاپ ځای مستقبل خپرندویه ټولنه ، کابل، ژباړن، شیرآغاکریمي،

[2] - قرضاوی یوسف عبدالله، ،سیاسي فقه،د پاڼې ګڼه: ۱۷۵، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ ه ش ، د چاپ ځای مستقبل خپرندویه ټولنه ، کابل، ژباړن، شیرآغاکریمي،

۲-- د اسلام او اسلامي امت د دښمنانو د موخو د ترسره کېدو په لاره کې به – په هر نوم او نښان چې وي- کار نکوي، او نه به هم د دښمنانو د لاس آله ګرځي.

پدې اړوند به هغو ګوندونو ته چې خلک الحاد، بې بندوباری، بې ديني، په عمومي توګه د ټولو آسماني دينونو او ځانګړي ډول د اسلام مقابلې ، او د قرآن او سنتو ، عقيدې او شريعت اساساتو او مقدساتو سپکاوی او مسخره کولو ته رابولي، د فعاليت اجازه نه ورکول کيږي).[1]

محترم دوکتورصيب چې کوم شرايط وړاندي کړی دی، که دا شرايط د سياسي ګوندونو په جوړولو کې په نظر کې ونيول شي ، فکر کوم چې د سياسي ګوندونو ګټه به د تاوان نه زياته وي.

## راجح او غوره نظر:

دا وروستۍ نظر راجح او غوره نظر دی، ځکه په اسلام کې د ګوند يا تنظيم جوړول منع نه دی او د اکثره فقهاؤ په نزد دا د مصالح مرسله و څخه شميرل کيږي، او اوس وخت کې له يو طرفه ، دا چې کفري نړی ټول په منظم ډول کار کوي، نو د خپل دين، هيواد او ولس د خدمت لپاره مؤثره وسيله سياسی کار دی، هغه هم د يوسياسي ګوند له طريقه ، او له بل طرفه د سياسي استبداد د مخينوي لپاره ښه وسيله سياسي ګوندونه دي، خو په دې شرط چې د اسلام د ټاکل شوو اصولو او شرايطو په نظر کې نيولو سره خپل کار ته دوام ورکړي.

[1]- قرضاوی يوسف عبدالله، ،سياسي فقه،د پاڼي ګڼه: ۱۶۷ او ۱۶۸ ، د چاپ کال ، ۱۳۹۵ ه ش ، د چاپ ځای مستقبل خپرندويه ټولنه ، کابل، ژباړن، شيرآغاکريمي،

# اتم فصل

# د ټولنيزو سازمانونو د جوړولو حق

دا چې په تير فصل کې مو سياسي ګوندونه وپيژندل ، نو پدې فصل کې په ټولنيزو سازمانونو(انجمنونو) باندې لنډه رڼا اچوو.

## لمړی مبحث- د ټولنيزو سازمانونو پيژندنه:

ټولنيز سازمانونه (ټولنې يا انجمنونه) له يوشمير حقيقي اشخاصو څخه جوړ شوي غير سياسي نهادونه دی، چې د مشترکو اهدافو او ګټو لپاره په اجتماعي شکل کار کوي، رسمي تشکيلات لري، او د ژوند په مختلفو برخو کې خپل فعاليت د قانون د حکمونو سره سم پر مخ بيايي.

د ځينو سازمانونو هدف دا وي چې په کوم ډول په مرکزی او يا سيمه ايز حکومت فشار راوړی تر څو خپلې غوښتنې پرې ومني، او ځيني نور بيا د خپلو کاروباري ګټو په خاطر صنفي اتحاديې جوړوي او غواړي چې د خپلو ګټو څخه دفاع وکړي.

ټولنيز سازمانونه غير سياسي نهادونه دي، او دا يې د کار برخه نه وي چې ځان قدرت او حکومت ته ورسوي، بلکې اکثره غير سياسي فعاليتونه ترسره کوي او هدف يې خپلو غړو او ولس ته خدمت دی، لکه صنفي اتحاديې، کارګرې اتحاديې، مدني ټولنې[1] ، د سوداګرو اتحاديې، د کسبګرو اتحاديې، او داسې نور...

د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال د سياسي ګوندونو او ټولنيزو سازمانونو قانون دويمي مادې ټولنيز سازمانونه په لاندې ډول تعريف کړی دي:

(ټولنيز سازمانونه (ټولنې او انجمنونه) د کورنيو حقيقي اشخاصو له داوطلبانه يووالی (اتحاد) څخه عبارت دی ، چې د ټولنيزو ، فرهنګي، علمي ، حقوقي ، ادبي ، هنري او حرفوي هدفونو د تامينولو لپاره د دې قانون له حکمونو سره سم جوړيږي).[2]

---

[1]- مدني ټولنې ټولو هغو ناسياسي بنسټونو ته ويل کيږي، چې د ولس او ټولنې له بطن او ګيډې رازيږيږ، د ولس او حکومت ترمنځ د يوه پل حيثيت لري، او موخه يې د ملي ګټو ساتنه، د ټولنيز عدالت پياده کول، د ولس ملي ارمانونو ته تحقق ورکول، او د ټولنې په اصلي مانا ترجماني کول دي. (ليکنه، حکيم الدين منځنی، ګوند او د مدني ټولنه سره توپير لري، الفلاح انترنيتي پاڼه).

[2]- عدليې وزارت، ۱۳۸۱ ه ل کال د افغانستان د ټولنيزو سازمانونو قانون.

## دوهم مبحث- د ټولنیزو سازمانونو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

لکه څرنګه چې د ټولنیزو سازمانونو جوړول په نړیواله سطحه د اتباعو یو منل شوي حق دی، نو په همدې اساس د افغانستان قوانینو هم دا حق خپلو افرادو او اتباعو ته ورکړی دی، چې د خپلو مادي او معنوي ګټو او اهدافو د لاسته راوړلو لپاره ټولنې او انجمنونو جوړ کړي، په دې هکله لمړی اساسي قانون او بیا د ټولنیزو سازمانونو قانون ته مراجعه کوو.

د افغانستان اساسي قانون خپلو افرادو ته د ټولنیزو سازمانونو د جوړولو حق منلی دی او په لاندې ډول یې ورته اشاره کړی ده:

(د افغانستان اتباع حق لري، چې د خپلو مادې او یا معنوي غوښتنو د تأمین لپاره ، د قانون له حکمونو سره سم ، ټولنې جوړې کړي).[1]

د افغانستان اساسي قانون یاده ماده د افغانستان هر تبعه ته دا حق ورکوي چې د خپلو معنوی او مادي حقوقو لپاره سازمان یا ټولنه جوړه کړي او د هغې له طریقه خپل حق وغواړي.

په همدې شکل د افغانستان د ۱۳۸۱ه ل کال د ټولنیزو سازمانونو د قانون په دریمه ماده کې ټولنیز سازمانونه مکلف دی چې لاندې اصول مراعت کړي:

۱-- د اسلام مبارک دین اساسات.

۲-- د اساسي قانون حکمونه.

۳-- او د دې قانون حکمونه.[2]

د ټولنو او انجمنونو د جوړولو ، تأسیس او ثبت په هکله باید ووایو چې ټولنې او انجمنونه هم د عدلیې وزارت لخوا ثبتیږي، خو د ثبت په وخت کې باید د سازمان او یا ټولنې د غړو شمیر له ۱۵۰ تنو څخه کم نه وي، همدارنګه د ثبت په وخت کې باید د خپلې ټولنې اساسنامې مسوده د عدلیې وزارت ته د غوښتنلیک سره یو ځای وړاندی کړي، د عدلیې وزارت د غوښتنلیک د رسیدو له نېټې څخه په دیرشو (۳۰) ورځو کې یې، د منلو یا رد په باب خپل تصمیم ابلاغوي، که چیرته غوښتنلیک د باور وړ وګرځي، عدلیې وزارت یې ثبتوي او د فعالیت جواز یې صادره وي.

---

[1]- عدلي وزارت ، دافغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون، ۳۵ ماده.

[2]- عدلیي وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنیزو سازمانونو قانون،پخوانی مأخذ.

که چیرته غوښتنلیک ورکوونکي، د غوښتنلیک یا اساسنامې د رد په باب د عدلیې وزارت تصمیم د قانون سره په ټکر کې وبولي، کولای شی مربوطی محکمې ته مراجعه وکړي.

د واحدو او ټاکلو هدفونو د پرمخ بیولو لپاره دوه ټولنیز سازمانونه په یو نوم نه شي جوړیدای، همدارنګه دوه ټولنیز سازمانونه یا له هغو څخه زیات چې ورته هدفونه او دندې ولري کولای شي ، د مربوطه سازمانونو اتحادیې جوړه کړي، ټولنیز سازمانونه د منظمو حسابي دفترونو په لرلو مکلف دي ، د ټولنیز سازمان اساسنامه د هغه د مؤسسینو له خوا منظوریږي، او لاندې مطالب لري.

۱-- د ټولنیز سازمان عنوان او هدفونه یې.

۲-- د فعالیت ساحه، دندې او د کار څرنګوالی یې.

۳-- د غړیتوب شرایط یې، د غړو حقوق او وجایب یې.

۴-- له غړیتوب څخه د ایستلو شرطونه او د نورو دسپلیني کړنو تطبیقول.

۵-- تشیکیلاتي جوړښت یې.

۶ــــد کنګرې او عمومي غونډې د میعاد ټاکل.

۷-- د لارښوونکو ارګانونو د غوره کولو څرنګوالی او واکوونه یې.

۸-- د مدیره هئیت د نومونو ښودل.

۹-- د سازمان د داخلي فعالیت څخه د کنترول څرنګوالی.

۱۰-- د تمویل د منبع ښودل او پرهغې د نظارت څرنګوالی.

۱۱-- د مالي چارو د درې تنو د نومونو ښودل.

۱۲-- په اساسنامه کې د تعدیل او بدلون، یا له نورو مماثلو سازمانونو سره د سازمان د یو ځای کیدو څرنګوالی.

۱۳-- د ټولنیر سازمان د فعالیت او ادارې د اصلي مقر ټاکل او د نمایندګیو جوړول.

۱۴-- د ټولنیز سازمان د انحلال موارد او د مالي چارو تصفیه کول.

د ټولنیز سازمان مقر له هیواد څخه بهر نه شي جوړیدای، هغه ټولنیز سازمان چې مقر یې له هیواد څخه بهر دی او د افغانانو له خوا اداره کیږي، کولای شي چې د هیواد په دننه کې څانګه یا نمایندګي جوړه کړي، چې د دغو نمایندګیو او څانګو فعالیتونه د ټولنیزو سازمانونو د قانون د اړوندو اصولو تابع دي.[1]

په همدې ډول د سازمان د مالي امورو په هکله د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنیزو سازمانونو د قانون د نهمې مادې په لسمه فقره کې راغلی دي چې: (د ټولنیز سازمان غړي د اساسنامي د جوړولو پرمهال په دې مکلف شوي چې خپلې د تمویل منبع وښایي او پر هغې باندې د څارنې څرنګوالی توضیح کړی).[2]

د دې ترڅنګه د دې قانون په شپاړلسمه ماده کې تصریح شوی چې : (د ټولنیز سازمانونو د تمویل منابع او مالي چارې باید څرګندې وي او د سازمان د شتمنی څخه یوائې د سازمان د هدفونو د پلي کولو لپاره ګټه اخیستل کیدای شي).[3]

د ټولنیزو سازمانونو د انحلال په هکله باید ووایو چې د ټولنو او سازمانونو انحلال د اساسنامي مطابق  د کنګري یا عمومي غونډې په تصمیم پورې اړه لري، په همدې ډول د څارنوالی په تشخیص سره ټولنې او سازمانونه په دوه مواردو کې منحل اعلانیږي چې هغه عبارت دي له:

۱-- په مربوطه اساسنامه کې د درج شوو ژمنو نه عملي کېدل.

۲-- د اساسنامې خلاف فعالیتونه اجراء کول.[4]

---

[1]- د عدلیي وزارت، د ۱۳۸۲ ه ل کال د سیاسي ګوندونو قانون.
[2]- د عدلیي وزارت، ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنیزو سازمانونو قانون، نهمه ماده، پخوانی مأخذ.
[3]- د عدلیي وزارت، ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنیزو سازمانونو قانون،شپاړسمه  ماده، پخوانی مأخذ.
[4]- د عدلیي وزارت، ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنیزو سازمانونو قانون، ، پخوانی مأخذ.

## دريم مبحث- د ټولنيزو سازمانونو حق د اسلامي شريعت له نظره:

دا چې ټولنيز سازمانونه په اسلام کې جواز لري او که نه؟ په دې هکله هم درې نظريات دي، چې يوه ډله علماء وايي چې اسلامي حکومت کې ټولنيز سازمانونو او ټولنو ته جواز نشته دی او دا يو بدعت دی، دوهمه ډله علماء وايي چې د ټولنې او سازمانونه جوړول په مطلق شکل جواز لري او هيڅ ممانعت نلري، او دريم نظر دا دی چې د اسلامي اصولو په رڼا کې اتباع کولای شي چې د خپلو معنوي او مادي حقوقو د غوښتلو لپاره ټولنې جوړې کړی ، د دې دريواړو نظرياتو دلايل د اسلامي شريعت له نظره د سياسي ګوندونو حق تر عنوان لاندې په تير فصل کې ذکر شوي دي چې دلته يې دوباره ذکر کولو ته ضرورت نه ليدل کيږي او په هماغې باندې اکتفاء کوو.[1]

[1]- دافرادو سياسی حقوق، پخوانی ماخذ، ۸۴ مخ.

# نهم فصل

## د سوله ییزو غونډو ، اعتصابونو ، اومظاهراتو حق

په دې فصل کې د سوله ییزو غونډو ، اعتصابونو او مظاهراتو د حق پیژندنه باندې بحث کوو، په همدې ډول د یاد حق په اړه د افغانستان قوانین څه مواد د ځان سره لري، او په اخر کې په دې باندې بحث کوو چې د اسلام مبارک دین دریځ او نظر په دې هکله څه دی.

### لمړی مبحث- د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو د حق پیژندنه:

د سوله ئیزو غونډو، اعتصابونو او مظاهرو د حق څخه هدف دا دی چې اتباع دا حق لري چې د خپلو معنوي او مادي حقوقو د غوښتنو لپاره سوله ئیزي غونډې ، اعتصابونه او مظاهري ترسره کړي او باید په دې برخه کې هیڅ قسمه مانع موجود نه وي، دې ته وایې د سوله ئیزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو حق، فلهذا په دې مبحث کې په غونډه، اعتصابونو او مظاهراتو د حق په پیژندنه باندې رڼا اچوو، چې یاد اصطلاحات څه معنی لري.

#### لمړی مطلب - د سوله ییزو غونډو پیژندنه:

د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او مظاهراتو قانون غونډې یا ټولنې دارنګه تعریف کړي دي:

( غونډې یا ټولنې د ټاکلو هدفونو د مخالفت یا پلوی په منظور ، د عامه افکارو د جلبولو په عرض، په عامه سیمه د توقف په حالت کې په منظمه او څرګنده توګه د دیرشو څخه د زیاتو کسانو له راټولیدولو څخه عبارت ده چې اشخاص په هغې کې په ازادانه ډول ګډون کولای شي).[1]

#### دوهم مطلب - د سوله ییزو اعتصابونو پیژندنه:

د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او مظاهراتو قانون سوله ئیز اعتصابونه دارنګه تعریف کړي دي:

(اعتصاب له کار څخه د ډډې کولو یا د قانونی او وظیفوي مکلفیتونو د نه اجراء کولو څخه عبارت دی چې اشخاص د ټاکلو هدفونو د ترسره کولو په خاطر په هغې لاس پوری کوي).[1]

---

[1]- عدلیې وزارت، د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو، او تظاهراتو قانون، دریمه ماده.

**دریم مطلب - د سوله ییزو مظاهراتو پیژندنه:**

د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او مظاهراتو قانون سوله ئیز مظاهرات په لاندې ډول تعریف کړي دي:

(مظاهره له منظمي او ځرګندې ټولنې (راټولیدو) څخه عبارت ده، چې اشخاص په هغې کې خپل ټاکلي هدفونه ، د تثبیت شویو واټونو پرمخ د لاریون په ترڅ کې ځرګند کړي).[2]

دا هغه تعریفونه ؤ چې د افغانستان د ټولنو، اعتصاباتو او مظاهراتو قانون د یادو اصطلاحاتو لپاره وړاندې کړی دي، چې مونږ په همدې تعریفاتو باندې اکتفاء کوو.

[1]- عدلیې وزارت، د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو، او تظاهراتو قانون، دریېمه ماده.
[2]- عدلیې وزارت، د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو، او تظاهراتو قانون، دریېمه ماده.

## دوهم مبحث- د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو حق د افغانستان د قوانینو له نظره:

د سوله ئیزو غونډو یا ټولنو، اعتصابونو او تظاهراتو حق په نړیواله سطحه د اتباعو یو منل شوي حق دی، افغانستان د نړیوالی ټولنې د یوې عضوي په حیث د اتباعو یاد حق منلی دی او په خپلو قوانینو کې یې ورته ځای ورکړی دی، په دې بحث کې به د افغانستان اساسي قانون او همدارنګه د ټولنو ، اعتصابونو او تظاهراتو قانون ته مراجعه وکړو چې په دې هکله څه مواد د ځان سره لري.

د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون په دې هکله وایې:

(د افغانستان اتباعو ته د دې حق ورکړل شوی چې د روا او سوله ئیزو غوښتنو د تأمین لپاره له قانون سره سمې بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي).[1]

په همدې ډول د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو ، اعتصابونو او تظاهراتو قانون په دې هکله لاندې مطالبو ته اشاره کوي.

(د هیواد اتباع حق لري ، د هغو جایزو او سوله ییزو مقصدونو د تامینولو لپاره چې د ملي یووالی او د اساسي قانون د حکمونو منافي نه وي، له وسلې پرته د دې قانون د حکمونو مطابق ټولنې ، اعتصابونه او تظاهرات ترسره کړي).[2]

په غونډو(ټولنو)، اعتصابونو او تظاهراتو کې ګډون داؤ طلبانه دی، هیڅوک نه شي کولی د شخصي یا ډله ییزو ګټو د تامینولو په مقصد اشخاص په ټولنو ، اعتصاباتو او تظاهراتو کې په ګډون اړ کړي، په عامو سیمو کې سوله ییزې ټولنې ، تظاهرات او اعتصابونه ، چې په دې قانون کې منع شوی نه وي مجاز دي، او په خاصو سیمو کې د خاوند یا متصرف په لیکلي اجازې پوري تړلی دي.

په دې اړه ځیني نور اهم موضوعاتو ته په لاندې مطالبو کې اشاره کوو.

---

[1]- عدلیې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون، ۳۶ ماده.
[2]- عدلیې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون،دویمه ماده.

## لمړی مطلب- د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو په اړه د سازمانونو (جمعیتونو) او اشخاصو مکلفیتونه:

د ټولنو ، اعتصاباتو او تظاهراتو امنیت او مصؤنیت د دولت وظیفه ده، تر څو د خلکو امنیت خوندي کړي، ولي کچیري ټولنې، اعتصابونه، او یا مظاهري د سازمانونو(جمعیتونو) او یا اشخاصو له لارې ترسره کیږي نو اداره کوونکي او ګډون کوونکي د لاندې مکلفیتونو لرونکي دي:

(۱-- د هغو د ترسره کولو څخه ۲۴ ساعته د مخه د سیمې پولیسو ته خبر ورکول.

۲-- د خبرتیا په متن کې د هدف ، وخت، ځای او تګ لورې (خط السیر) درجول.

۳-- د هیواد د اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو او د بشر دحقوقو په نړیواله اعلامیه کې د درج شویو ارزښتونو رعایتول.

۴—د اسلام د سپیڅلي دین او د هیواد د مذهبي ، ملي ، تاریخي او فرهنګي عنعنو درناوی.

۵-- د اشخاصو له ښکنځلو ، تهدید، او تخویف (ویرول) او د عامه ادابو، نظم او امن مغیر د هر ډول حرکت له ارتکاب څخه ډډه کول.

۶-- له خشونت، تخریب، او له وسله والې مبارزې څخه ډډه کول).[1]

## دوهم مطلب- په کومو وختونو او ځایونو کې ټولنې ، اعتصابات او تظاهرات نشي جوړیدای.

غونډې (ټولنې) ، اعتصابات او تظاهرات په لاندې وختونو او ځایونو کې نه شي جوړیدای:

(۱-- د نظامي تأسیساتو په څنګ کې.

۲-- د منفجره [2]، منفلقه [3]، او محترقه [4]موادو د زیرمو په څنګ کې.

۳-- د روغتونونو په څنګ، د وړکتونونو او شېدو ورکولو د ځایونو په دننه او نورو ورته ځایونو کې.

۴-- له لمر لویدو وروسته تر لمر ختو پورې. (البته اعتصاب له دې حکم څخه مستثنی دی).

---

[1]- عدلیې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون.

[2]- منفجره هغه مواد ته وایې چې چاودنه رامنځته کوي. انلاین قاموس ده خدا.

[3]- انفلاق د پارچه پارچه او ټوټه ټوټه کیدو په مانا دی، یو شی چې د چاودني له زوره په ټوټو باندې بدل شی، منفلقه یعنی پارچه پارچه کیدونکی انلاین قاموس ده خدا.

[4]- محترقه سو ځوونکي مواد ، هغه شیان چې انسان اوشیان سوځوي او اور رامنځته کوي. انلاین قاموس ده خدا.

۵-- د جمهوري رياست، پارلمان، لويې جرګې او ريفرنډم (ټولپوښتنې [1]) لپاره د ټاکنو له دايريدو څخه ۴۸ ساعته دمخه).[2]

## دريم مطلب- پوليس د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو د خورولو په منظور کوم اقدامات کولی شي.

پوليس د ټولنو، اعتصابونو يا مظاهرو د خورولو په منظور د ټولنو اعتصابونو او تظاهراتو د قانون په اومه او اتمه مادو کې د درج شويو حالاتو ، ديو د موجوديت په صورت کې په لاندې تدبيرونو لاس پوري کوي.

(۱-- د خورولو په عرض، په ممکنو وسايلو سره د اخطار صادرول.

۲-- د ټولنې کوونکو او مظاهره کوونکو محاصره کول او يو مصؤن ځای ته د هغوی ليږل.

۳-- د اوبو شيندلو په وسيله خورول.

۴-- د تخنيکي خنډونو په واسطه د مظاهرې درول او خورول).[3]

که چيرته د تخنيکي خنډونو او د پوليسو د نورو مرستندويه وسايلو استعمال د ټولنو او مظاهرو په درولو او خورولو کې اغيزمن واقع نه شي، پوليس، د پوليسو دنافذه قانون د ۲۲ مادې د حکم په تطبيق لاس پورې کولی شي، امنيتی ارګانونه مکلف دي د پوليس د نافذه قانون د ۲۲ مادې د حکم د پام کې نيولو سره حتی المقدورد ټولنو ، اعتصابونو او مظاهره کوونکو او د هغوی له استازو سره له ټکر (ټکر) برخورد څخه ډډه وکړي.[4]

په ټولنو (غونډو)، اعتصابونو او مظاهرو کې د شعارونو او تصويرونو وړل مجاز دي ، په دې شرط چې د عامه نظم، امن او ادابو مخالف نه وي، د ټولنو ، اعتصابونو او مظاهرو ګډون کوونکی او هغه اشخاص چې هغوی رهبري کوي، نه شي کولی د داسې بې اساسه شايعاتو او پروپاګندونو په خپرولو لاس پورې کړي چې په ټولنه کې وحشت رامنځته کوي، په همدې ډول که چيري تشخيص شي، چې د ټولنو، اعتصابونو او مظاهره کوونکو د ټوليدو ځای د امنيتي دلايلو له امله خوندي نه دی او تشول يې

[1]- ټولپوښتنه، يا ريفرنډم د سياسي ډيموکراسی يو اصل دی، او د يو سازمان ټولو غړو ته او يا د ټول ملت او ولس اراؤ ته مراجعه کول ريفرنډم نوميږي.په ريفرنډم کې پشنهاد شوي موضوع د ملت له خوا د مستقيمي رايګيري له لارې منل کيږي او يا رديږي.
[2]- عدليې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون.
[3]- عدليې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون.
[4]-پورته مآخذ.

لازمي وي، مظاهره کوونکی او د هغوي مشران مکلف دي د پولیسو د د ستور له مخې په عاجل ډول سیمه پرېږدي، کچیري د مخکینیو او پرلپسی اخطارونو سره سره نوموړی اشخاص د سیمي له پرېښودلو څخه ډډه ونه کړي او یا د نورو مخنیوي وکړي ، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي، دسیمي پرېښودل په بل خوندي ځای کې د مظاهرو د دوام خنډ نه کیږي.[1]

د بهرنیو هیوادونو او یا د هغو د اتباعو د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو مقصدونود تامینولو په منظور د مظاهرو او ټولو جوړول په داسې حال چې د هیواد د ګټو او ملي یووالي مخالف وي ، جواز نه لري، بهرني اتباع نه شي کولی په مظاهرو کې ګډون وکړي.

په همدې ډول امنیتی ارګانونه نه شي کولی په جبر او اکراه په ټولنو ، اعتصابونو او د مظاهره کوونکو په لیکو کې داخل شي او د هغوي نظم له منځه یوسي، او د تشدد او ټکر زمینه برابره کړي.

## څلورم مطلب- پولیس په کومو حالاتو کې د ټولنو ، اعتصابونو او مظاهرو پاي یا ختم اعلانولی شي:

پولیس کولی شی په لاندې حالاتو کې د ټولنو، اعتصابونو او مظاهروپای ته رسیدل اعلان کړي:

(۱-- له خشونت او تشدد څخه په ډکو اعمالو لاس پورې کول.

۲-- د ویجاړوني (تخریبي) او دهشت اچووني د اعمالود ارتکاب د اقدام په صورت کې.

۳-- د ناریه وسلي د کشف په صورت کې.

۴-- په ټولنو ، اعتصابونو او مظاهرو کې ګډون کولو ته ، د اشخاصو د تهدیدولو په صورت کې).[2]

د غونډو (ټولنو) اعتصابونو او مظاهرو په جریان کې ، هر ډول عمل چې عامه تأسیساتو یا د اتباعو شخصي شتمنیو ته د زیان سبب شي، جرم دی، مرتکب یې د زیان په جبرانولو برسیره تر عدلي تعقیب لاندې هم نیول کیږي، هیڅ شخص نه شی کولی چې د اضطرار په حالت کې په ټولنو، مظاهرو او اعتصابونو لاس پورې کړي، د ټولنو ، اعتصابونو او مظاهرو په وخت کې د هر ډول وسلي وړل منع دي، وړونکی یې نیول کیږي، او تر عدلیې تعقیب لاندې نیول کیږي، کچیری ټولنې مظاهري یا اعتصابونه په سراسري اغتشاش واوړي، امنیتي ارګانونه د واکمنومقاماتو د اجازي وروسته کولی شي، د نوموړی حالت د دفع او لري کولو په منظور په سملاسي قانوني اقداماتو لاس پوری کړی، هغه اشخاص

---

[1]- عدلیې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون.
[2]- عدلیې وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون.

چې ټولنې ، مظاهري او اعتصابونه رهبري کوي، که چیرته د خشونت څخه د ډکو اعمالود اجراء کولو امر مظاهره کوونکو ته صادر کړي او ګډون کوونکي په نومړو اعمالو لاس پورې کړی د نافذه قوانینو د حکمونو مطابق تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي.

د وسله والو ځواکونو (د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او دملي امنیت عمومي ریاست) منسوبین په ټولنو، اعتصابونو او تظاهراتو کې د ګډون حق نه لري.

که چیرې صنفي او ډله ییزې غوښتنې چې د هغوی له امله ټولنې، اعتصابونه او مظاهري ترسره کیږي، له مسؤولو مراجعو سره د خبرو اترو او مفاهمې له لارې سرته ورسیږي د مظاهرو اوږدیدل(تمدید) جواز نلري، کچیرې د حل د لارې د لټولو په منظور مربوطه مراجع لازم وبولی ، چې د ټولنو اعتصابونو او مظاهره کوونکو له استازو سره مفاهمه وشي نومړي استازي د ټولنو، اعتصابونو او تظاهراتو د قانون د شپږمې مادي په اساس د بشپړ مصؤنیت څخه برخمن دی.[1]

په خلص ډول ویلی شو چې د ټولو روا او قانوني غوښتنو لپاره د غونډو (ټولنو) ، اعتصاباتو او مظاهرو ترسره کول یو قانوني عمل دی او دولت یې باید امنیت او مصؤنیت وساتي ، ولی په دې شرط چې یاد اعمال د نورو د ازادیو او ملی ګټو په خلاف استعمال نه شي او که یاد اعمال د ملي ګټو او د نورو خلکو ته د نقصان رسولو په منظور ترسره کیږي ، بیا دولت مکلف دی چې د داسي خلکو مخه ونیسي.

---

[1]- عدلیي وزارت، د افغانستان د ۱۳۸۱ ه ل کال د ټولنو، اعتصاباتو او تظاهراتو قانون.

## دریم مبحث- د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو حق د اسلامي شریعت له نظره:

د سوله ییزو غونډو، اعتصابونو او مظاهراتو حق ته که مونږ متوجه شو نو دا له یوه طرفه د بیان د ازادی سره تړاو لري او له بل طرفه د خپلو مادي او معنوی حقوقو د غوښتنو مسله مطرح کوي ، پداسي حال کي چي داسلام مبارک دین د قانون په چوکاټ کي د بیان د ازادی او په همدې شکل د خپلو مادي او معنوي حقوقو د غوښتلو طرفدار دي او د ټولنې د ټولو افرادو د معنوي او مادي حقوقو څخه دفاع او حمایه کوي، ولي سوال دا دی چې اوس وخت کې چې کومې غونډې ، اعتصابات او مظاهری رواج دي ، په دې هکله د اسلام دریځ څه دي؟

په دې هکله د اسلامي نړی د علماؤ دوه ډوله نظریات وجود لری چې هر یو یې ستاسي مخې ته ږدو.

لمړی نظر- لمړی ډله علماء په دې نظر دي چې د اعتصابونو او تظاهراتو کول ناجایز عمل دی او روا نه دي، دوی د خپل نظر د تایید لپاره لاندې دلایل راوړي:

الف- مظاهرات او اعتصابات هغه طریقه ده چې د قرآن او سنت څخه په کې کوم نص نشته ، بلکې یوه نوي له غرب څخه راوړل شوي قضیه ده.[1]

ب- رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې امر نه دی کړی، او نه یې په خپله کړی دي سره له دې چې مقتضی یې موجوده وه ، که چیرته امر یې پرې کړی وی یا په خپله انجام کړی وی، نو هرومرو به تری نقل شوی وی.[2]

ج- مظاهرات د ډیرو محرماتو د ارتکاب سبب ګرځي، لکه د ښځو او نارینو اختلاط، او همدارنګه د عوامو اموالو ته په کې ضرر رسول کیږي، عامه مصالح په کې معطل کیږی، او د عوامو او امنیتي قواؤ ترمنځ د عداوت او جنګ سبب ګرځي.

**دوهم نظر:** دوهمه ډله علماء په دې نظر دي چې د غونډو ، اعتصابونو او تظاهراتو کول یو جایز او مباح عمل دی ، او په شریعت کي خلکو ته داحق ورکړل شوی دی چې د خپلې رایې اظهار وکړی او د

---

[1]- فهد بن احمد بن ناصر، المظاهرات، حکمها الشرعی، مصالحها، مفاسدها و اقوال العلماء فیها، مقال منشور، جامع الکتب والابحاث العلمیة ص ۲۰.

[2]- الخمیس ، محمد بن عبدالرحمن ،المظاهرات والاعتصامات والاضرابات، جامعة الامام محمد بن سعود الاسلامیة، ص ۴۵.

فاسدو پالیسیو مخه ونیسي، خو په داخل د شروطو او حدودو کې کوم چې اسلام د دغې حق د استعمال لپاره وضعه کړی دي او دوی د خپل نظر دتقویې لپاره په لاندې دلایلو استدلال کوي.[1]

الف- ټول هغه ایاتونه چې خلکو ته امر کوي تر څو د منکراتو او ناروا کارونه مخه ونیسي، لکه الله تعالی چې فرمایې:

**(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَهُمْ مِنْهُمْ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمْ الْفَاسِقُونَ).[2]**

ژباړه: اوس په نړۍ کښې هغه غوره ډله تاسې یاست چې د انسانانو د لارښودنې او اصلاح له پاره مینځ ته راوړل شوېده تاسې د نیکۍ امر کوئ او له بدیو منعه، او پر الله ایمان لرئ که دغو کتابیانو ایمان راوړی وای؛ نو دهمدوی له پاره ښه وه که څه هم په هغو کښې ځینې د ایمان خاوندان شته؛ خو ددوی زیاتره کسان له فرمان څخه سرغړوونکي دي.

مظاهرات اکثراً د خپلو حقوقو د غوښتلو په خاطر کیږي، او یا هم د یو ناروا او فساد د مخنیوي په خاطر ترسره کیږي، او یا هم د حکومت د غلطو او نا درسته پالیسو د ردولو پخاطر ترسره کیږي، ترڅو حکومت پخپلو پالیسو باندې بیا نظر ثاني وکړي او هغه اصلاح کړي، چې دا کارونه ټول د کولو دی او که څوک په دې هکله خاموش کیني نو د اجتماعي ګناه مرتکب ګرځي.

ب- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**( من رای منکم منکراً فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه، و ذلک اضعف الایمان).[3]**

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: کله چې تاسو یو ناروا کارووینئ، نو په لاس یې منع کړئ، او که چیرته په لاس د منع کولو قدرت نه لرئ، نو په ژبه یې منع کړئ، او که په ژبه د منعه کولو توان هم نه لرئ، نو باید په زړه کې ورسره بغض او کینه وکړئ، او دا د ایمان ضعیفه حالت دی.

---

[1]- فهد بن احمد بن ناصر ،پخوانی مأخذ ص ۱۳.
[2]- سورة العمران، ۱۱۰ آیت.
[3]- صحیح مسلم، اول جلد ، ۶۹ مخ، حدیث شمیره : ۱۸۱۹، حدیث صحیح.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې او د دې څخه علاوه په نورو بې شمیره احادیثو کې د مسلمانانو نه غوښتنه کړی ده چې باید امر په معروف وکړی او منعې دمنکر او ناروا څخه وکړي، او دا کار باید په هره وسیله باندی وکړی، که هغه لاس وي او که ژبه ، نو د ژبې منعه خو همدا ده چې ته خپل اواز د منکر او ناروا په ضد اوچت کړي او دا اواز چې څومره د ډیرو خلکو وي هماغومره به قوي وي، چې اوس وخت کې همدا مظاهرات او اعتصابات د اواز اوچتولو لپاره ښه وسیله ده.

بل ځای کې نبی علیه السلام فرمایي:

**(افضل الجهاد کلمة حق عند سلطان جایر).**[1]

ژباړه: غوره جهاد دا دی چې د ظالم بادشاه پر وړاندې حقه خبره وکړی.

نو حقه خبره خو همدا ده چې ته خپل نظر چې د نظام د اصلاح او یا د پالیسیو د اصلاح په خاطر اوچتوي، او یا یې د ټولنې د حقوقو لپاره اوچتوي ، د وخت نظام ته ورسوي، چې اوس وخت کې همدا مظاهرات او اعتصابات یې ښه شکل کیدای شي.

ج- کله چې عمر رضی الله عنه اسلام راوړو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوه صفونو کې بهر راووتو، د یوصف په سر کې عمر رضی الله عنه ؤ او د بل صف په سر کې حمزه [2] رضی الله عنه ؤ، د دې لپاره چې قریشو ته د مسلمانانو قوت وښایي.

## غوره او راجح نظر:

زما په نظر غوره او راجح نظر دا دوهم نظر دی، ځکه که مونږ وایو چې مظاهرات او اعتصابات یو ناروا عمل دی، نو د دې لپاره یو ثابت، څرګند او واضح دلیل ته ضرورت دی ، چې هغه په دې هکله نشته دی، ولی بل طرف ته که مونږ ګورو نو په اسلامي نړي کې استبدادي نظامونه شتون لري ، او د ملت غوښتنو ته په کې کمه برخه ورکړل شوی ده، د دې ترڅنګ د خپل حق غوښتل یو جایز عمل دی او د نارواؤ مخه نیول یو فرض عین عمل دی، نو اوس وخت کې همدا مظاهرات او اعتصابات

---

[1]- مسند الامام احمد بن حنبل ، باب ، جلد ۱۷ ، صفحه ۲۲۷، حدیث شمیره : ۱۵۹۶، حدیث صحیح کما قال البانی.
مسند احمد مخرج،ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد الشیانی (المتوفی ۲۴۱ ه ق)، د چاپ ځای مؤسیسة الرسالة، الطبعة الاولی ۲۰۰۱م.

[2]- حمزه رضی الله عنه د عبدالمطلب ځوی او د هاشم لمسی ؤ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره او رضاعی ورور یې هم کیده، په ۵۶۷ م کې پیدا شوی ؤ او په ۶۲۴ ه ق کې په جنګ احد کې په شهادت ورسید. ویکی پیډیا.

دی چې په نظام یو ډوله فشار واردوي ترڅو خپل نا درسته پالیسیانی تصحیح کړی او ځان د ملت او الله په وړاندي مسؤل احساس کړی.

# لسم فصل

# د پناه اخستني حق

په دې فصل کې لومړی د پناه اخیستنې پیژندګلو کوو، ورپسې  د افغانستان قوانینو ته په کې اشاره کوو او په اخر کې د اسلام مبارک دین له نظره د پناه اخیستني حق د بحث لاندې نیسو.

## لمړی مبحث- د پناه اخیستنې د حق پیژندنه:

په معاصرو حکومتونو کې د افرادو پناه اخیستنه د هغوی د بنیادي حقوقو څخه ګڼل کیږي، پناه اخیستنه په دې معنې چې یو شخص د یو قوي دلیل په اساس خپل متبوع هیواد پریږدي او بل هیواد ته پناه وړی.

یا په بله معنی، یو شخص د یوې موجهې ویري له امله چې ورسره مخامخ دی یا ورسره مخ کیدونکی دی او د نژادي ، مذهبي، ، ملتي او سیاسي نظریاتو له وجهې تر تعقیب لاندې وي او له همدې امله خپل متبوع دولت یا هغه دولت چې په کې سکونت لري ، پریږدي او بل هیواد ته پناه یوسي او د ذکر شوي ویرې له امله ونه شي کولی ، چې بیرته خپل متبوع دولت یا هغه دولت ته چې پخوا یې په کې سکونت درلود، راستون شي عبارت له پناه اخیستنې څخه دی.

د پناه اخیستني حق نسبتاً یو نوې حق دی، چې د ۲۰ م پیړي په نیمایي کې حقوقي ادبیاتو ته داخل شوی دی، دغه اصطلاح دوه مهم اړخونه په خپل بر کې نیسي.

لمړی- د شخص له خوا د پناه اخیستني غوښتنه یا تقاضا.

دوهم- د دولتونو له خوا پناه اخیستونکی ته پناه ورکول.

بناءً هر شخص حق لري  د ازار، شکنجې او تعقیب له امله په یو بل هیواد کې د پناه غوښتنه وکړي او په نورو  هیوادونو کې د پناه غوښتوونکی شي، چې دغې موضوع ته  د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې هم په لاندې ډول اشاره کړی ده:

(هرځوک حق لري، چې له ځوروني او تعقیب څخه پرته په نورو ملکونو کې پناه وغواړي).[1]

ولی کچیری تعقیب د غیر سیاسي جرم او یا د ملل متحد دمنشور د مقاصدو خلاف وي بیا د دې حق څخه مستفید کیدای نشي، چې دا موضوع هم د بشري حقوقو په نړیواله اعلامیه کې دارنګه راغلی ده:

(که چیري تعقیب د غیر سیاسي جرم او یا داسې اعمالو د کولو په وجه وي، چې د ملګرو ملتونو د مقصدونو او اصولو سره توپیر ولري له دغه حق څخه ګټه نه شي پورته کولای).[2]

